پۀ سرو لمبو کښي قرار سنګه اوکړم

لیکوالان
عبدالجبار سهل
توراج خاکسار

Ketabton.com

خپروونکي: سید کمپوزنګ سنټر ټوپی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پهٔ سرو لمبو کښې قرار څنګه اوکړم

مصنف : توراج خاکسار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ټول حقونه د مصنف پهٔ حق کښې خوندي دي

د کتاب نوم	:	پهٔ سرو لمبو کښې قرار څنګه اوکړم
ليکوالان	:	توراج خاکسار، عبدالجبار سَهل
کمپوزر	:	قاسم ساګر
کره کتنه	:	سيف الاحد عاجز
شمېره	:	200
بېعه	:	300 روپۍ
چاپ کال	:	2023 ء
چاپ ځاے	:	سيّد کمپوزنګ سنټر ټوپئ (0315-9887887)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترون

د خپل ماما عبدالحنان روان صیب په نوم چې
زما ادبي روزنه ئې ډېره په پښتنه مینه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې خبرې

ملګرو شعر وشاعري زما پهٔ ختهٔ کښې اغږلے شوې ده ـ زما نيکهٔ سېد کرم اخون د خپل وخت منلے شوے شاعر وهٔ ـ زما محترم پلار هم شاعري کوله ـ زما ماما عبدالحنان اخون د اتمان ګدون پهٔ شاعرانو کښې يو پېژندلے نوم وهٔ ـ زهٔ هم نزدې د پينځه څلوېښتو کالو راهسې شاعري کوم ـ د ټوپۍ مشهور اولسي شاعر جمشېد استاذ سره مې ډېر نزدې تعلق پاتې شوے دے ـ د شعر وادب پهٔ وجه مې د اتمان ګدون بخت شېر اسير ، فقير خطاب ملنګ ، امير بشر طوفان او خدائے بخښلي شوکت علي سجاد سره دوستانه تعلقات وو او پهٔ دې اتمان ګدون به مې هم ادبي هلې ځلې کولې ـ د شعر و شاعرۍ سره مې تعلق ډېر زور دے خو قلم مې نهٔ وهٔ ، تعليم مې نهٔ دے کړے نو کهٔ غزل مې جوړ کړے دے کهٔ چاربېته او کهٔ لوبه نو ليکلي مې نهٔ ده ـ او نهٔ زما کتاب چاپ کولو ته نيت وهٔ خو د ډېر محترم مشر عبدالجبار سهل صېب مينې مجبور کړم چې د عبدالجبار لالا سره پهٔ ګډه کتاب چاپ کړم ـ دې کتاب کښې چې زما څومره کلامونه دي د خپلې حافظې پهٔ مدد ليکلے شوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيات کلامونه اوس ماته ياد نۀ دي ـ خو چې څومره غزلې ، چاربېتې ، لوبې راته يادې شوې دي نو دې کتاب کښې مې پښتون قام او پښتو ادب ته ډالۍ کړي دي ـ زما شاعري ښۀ ده ، بده ده دا پۀ لوستونکو پرېږدم ـ زۀ د خپل مهربان مشر عبدالجبار لالا هم ډېره مننه کؤم ـ چې زۀ ئې خپلو کلامونو چاپ کولو ته وهڅولم ـ د ګران او وتلي شاعر سيف الاحد عاجز هم ډېره مننه کوم چې زما د ماتې ګوډې شاعرۍ پروف ريډنګ ئې اوکړو ـ د ځلمي ليکوال قاسم ساګر هم مننه کؤم چې پۀ ډېره مينه ئې د کمپوزنګ ذمه واري واخسته ـ د بخت شېر اسير صېب ، ملنګ جان مندڼ صېب ، سيف الاحد عاجز صېب او قاسم ساګر صېب پۀ دلو دلو مننه چې زما پۀ شاعرۍ ئې ليکونه اوکړل ـ د علي زر خان علي صېب هم ډېره مننه کوم چې ددې کتاب پۀ چاپ کولو کښې ئې قدم پۀ قدم زما مرسته اوکړه ـ اؤ بالخصوص د سيّد اسد شاه صيب (باچا جی) پۀ دلو دلو مننه چې زمونګ کتاب له ئې ډير ښائسته ټائټل جوړ کړو ـ

توراج خاکسار

خپل کور، ټوپۍ

15-11-2023

(c) ketabton.com: The Digital Library

”د سپېڅلي فکر سختن“

پښتو ژبه پهٔ دې حواله بختوره ژبه ده چې سره ددې چې نهٔ خو ئې ملکي چارواکي (حکومتي حلقې) څهٔ سرپرستي کوي او نهٔ ئې خپل شته من خلق څهٔ خیال ساتي کهٔ زهٔ دا ووایم نو شاید چې غلطه به نهٔ وي چې پښتانهٔ همېشه پهٔ پردو ژبو ویاړ کوي ـ او خپلې مورنۍ ژبې ته سپک ګوري ـ حالانکې د قومونو پهٔ ثقافتي اجزاؤ کښې د ژبې ډېر لوئې اهمیت دے ـ د ژبې پهٔ شته من والي قومونه شته کېږي ـ او د ژبې پهٔ ورکېدو قومونه ورکېږي ـ پهٔ دوېم نړېوال جنګ کښې چې کله امریکې پهٔ جاپان حمله اوکړه نو د جاپان بادشاه ورته ووې چې زما د قوم نه خپله ژبه مهٔ شوکوئ یعني پهٔ دوي پردئ ژبه مهٔ مسلط کوئ ـ ډېرې ژبې څکه د منځه لاړې ختمې شوې چې حکومتي چارواکو ئې سرپرستي نهٔ کوله او خپلو خلقو ته ئې پهٔ وئیلو ځان سپک ښکارېدلو ـ د نن نه پینځویشت دېرش کاله اګاهو چې ټچ موبائل د هر چا لاسو ته نهٔ وهٔ رارسېدلے ـ کاغذ هم ارزان وهٔ پهٔ کتابت (خېر اوس خو کمپوزنګ دے) پهٔ ټائټل او د کتابونو پهٔ ګنډلو (بائنډنګ) هم ډېره خرچه نهٔ راتله ـ پهٔ هر کال کښې به

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتیاؤ نه تر سلو پورې کتابونه چاپ کېدل ـ زۀ چې وایم پښتو بختوره ژبه ده نو ددې دومره ستونزو او مشکلاتو باوجود په کال کښې دېرشو نه څلوېښتو پورې کتابونه د نظم ، نثر ، تاریخ چاپ کیږي۔

نن چې زۀ په کوم کتاب لیک کؤم ـ دا کتاب د ښاغلي توراج (چې خاکسار ئې تخلص دے) نظمیه شاعري ده ـ د توراج چې څنګه تخلص دے داسې پکښې خاکساري هم ده یو ډېر شډل بډل ساده سوده انسان دے اکثر په محفل کښې چُپ ناست وي خو چې څوک ورته فرمائش اوکړي چې څۀووایه نو هاغه ملغلرې ئې د خلې نه دوړېږي چې د ډېرو خلقو سوچ هم ورته نۀ رسي او داسې به ولې نۀ وي ـ د هغۀ روزنه پالنه په ادبي ماحول کښې شوې ده ـ د توراج خاکسار پلار نیکۀ په هشتنغر کښې د چارسدې تحصیل تنګي ګنډهیري نومي کلي اوسېدونکے وۀ ـ توراج خاکسار هم په دغه کلي کښې په نورلس سوه شپږ پنځوسم کال د اپریل د میاشتې په څلورمه نېټه د اروابناد محمد لالا په کور کښې سترګې غړولې دي ـ دا هاغه هشتنغر دے د کوم په باره کښې چې علي خان بابا پخوا وئیلي وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هشتنغر شو کان د زلفو د لبرو
ځکه نشته پۀ دا ملک دکان د مښکو

هشتنغر د شروع نه د ازادۍ علمبردار او د غلامۍ نه د نفرت کوونکيو ټاټوبے پاتې شوے دے . پۀ دې خاوره حاجي صېب د ترنګزو، اروانښاد فضل واحد او د ازادۍ لوئې مبارز رئيس الاحرار خان عبدالغفار خان چې پۀ باچا خان يادېدۀ او داسې نور ډېر خدائي خدمتګار تېر شوي دي . د هشتنغر پۀ حواله دا مشهور متل به شايد چې هر چا اورېدلے وي . کۀ هشتنغر خورې نا خو بد پرې مۀ وايه . ښاغلي خاکسار پۀ دغه خاوره کښې خړپوسې کړې دي او څوک چې پۀ کومه خاوره کښې خړپوسې اوکړي د هغۀ پۀ مزاج کښې د هغې خاورې اثرات ضرور وي . توراج خاکسار چې پۀ دې ننګيالۍ خاوره کښې اوزېږېدۀ نو د ژوند لس کاله ئې پۀ دغه خاوره تېر کړل . خو دې ته به څۀ د حالاتو جبر ووايو او څۀ به دا ووايو چې د اوبو دانو نصيبه به ئې دلته شوې وه توراج خاکسار صېب د يولسو کالو وۀ چې پۀ کال نورلس سوه شپږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپېتم د ستمبر میاشتې په پېنځلسمه نېټه ئې ټوپې ته کډه راوړه . د خپلو ښځ خویونو د هر چا سره د علېک سلېک او په غم ښادی کښې د ګډون په سوب ددې ځائے د خلقو زړونه داسې خپل کړل چې نن څوک هم دا نهٔ ګڼي چې ګني دوي بل ځائے نه راغلي دي. ددوي هره غم ښادي د مقامي خلقو د غم ښادی نه درنه وي.

توراج خاکسار صیب په کال نورلس اویا کښې شاعري شروع کړه. بې تعلیمه دے خو کوم خداداد صلاحیتونه چې دې انسان ته خدائے ورکړي دي ډېر تعلیم یافته ورته حق حېران دي. مالیکلي دي چې ددهٔ روزنه پالنه په ادبي ماحول کښې شوې ده نو هغه داسې چې ددوي نیکهٔ اروابښاد سید کرم اخون لکه د امانت مالیار، نوره دین اخون، امان ګجراتي، احمد دین طالب، او داسې نورو ډېرو شاعرانو په شان یو ډېر ښهٔ شاعر تېر شوے دے. د شاعرۍ په هر صنف ورته عبور حاصل وهٔ . خو د چاربېتې ډېر ماهر وهٔ. دغسې ددوي پلار اروابښاد محمد لالا خو شاعر نهٔ وهٔ ولې ادب ذوقه ډېر وهٔ په شعر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېدونکے انسان وۀ ډېر زاړۀ مجلسیان او شاعران به ئې لیدو ته راتلل ـ دغسې ددوي ماما عبدالحنان اخون چې وروستو ئې بیا روان تخلص خپل کړے وۀ مجلس به ئې هم کوۀ او د اولسي شاعرۍ ډېر ښۀ استاذ وۀ هغوي ته هم پهٔ چاربېته ډېر مهارت حاصل وۀ ـ توراج خاکسار هم ددوي پهٔ قدم قدم ایښودے دے ـ خو خاکسار صېب د چاربېتې سره سره غزل هم ښۀ لیکي ـ هغوي د اروابناد جمشېد استاذ د ټوپۍ ، نادر خان بزمي ، ملنګ جان مندنړ، او نورو ډېرو ښو ښو شاعرانو سره ناسته پاسته کړې ده ـ خاص کر جمشېد استاذ خو پرې ډېر زیات مئین وۀ هغۀ به د خاکسار صېب لیدو دپاره اکثر ددوي ګانړۍ ته تلو۔ واپسۍ کښې به خاکسار صېب جمشېد استاذ سره د بدرګې پهٔ طور تر ټوپۍ بازاره راتلو ـ دغسې اروابناد نادر خان بزمي سره ئې ډېر عقیدت وۀ پښتو پکښې دومره وه چې کله ئې د جنازې د مونځ دپاره ئې د جنازې کټ د ټوپۍ عیدګاه ته یوړو نو هغه کټ چې کومو څلورو کسانو نیولے وۀ چې پکښې دوه د هغۀ ځامن ساجد او شاهد او دریم د خاکسار صېب ماما

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروانباد عبدالحنان روان او څلورم خاکسار صيب په خپله وۀ د دغه لويو هستو سره د ناستې پاستې په وجه د هغۀ په شاعرۍ کښې يو زبردست زړۀ راښکون پيدا شۀ هم دغه وجه ده چې په مشاعره کښې خاکسار صيب کلام وائي نو بې اختياره د سامعينو د خلو نه بيا ووايه د بيا ووايه نعرې خېژي ـ هوښياران وائي چې د هر محفل خپل خپل تاثير وي ـ د مثال په توګه د خاکسار صيب د يو څو کلامونو نه يو يو بيت راخلم ـ خوشحال بابا وائي :

کۀ اسمان دې د زمري په خلۀ کښې ورکړي
د زمري په خلۀ کښې مۀ پرېږده همت

توراج خاکسار صيب هم دغه خبره په يو بل ډېر ښکلي انداز کښې کوي هغۀ وائي:

مثال د هغه چا قائم شي چې همت نۀ بائيلي
د کار سرے چې همت اوبائېلي د کاره اوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنه ټولنه کښي پېغور ډېر بد شے دے ـ د پېغور پۀ وجه ډېر کورونه وران شي ؛ مرګ ژوبله پکښي اوشي ؛ ټول خلق در پۀ در شي ؛ د ملکه ورک شي خاکسار صېب دغه منظر کشي پۀ خپلو شعرونو کښې داسې کوي :

خوږ وي کلے کور خو د پېغور پۀ وجه پاتې شي
ځان پښتانۀ وژني د پښتو او د پېغور پۀ سر

څوک وائي د ځوانۍ عمر د نادانۍ وي او څوک وائي د دیوانۍ وي هم دغه وجه ده چې پۀ ځوانۍ کښې د چانه هر څومره معیوب کار اوشي خلق وائي نۀ پوهېږي خو چې عمر پۀ شا شي او چا نۀ څۀ غلطي اوشي نو هر څوک ورته وائي دې عمر ته دې اوګوره او دې کار ته دې اوګوره ـ خاکسار صېب داخبره څۀ پۀ دې ډول کوي :

ناداني پۀ ځلمیتوب کښې څۀ عېب نه دے
بد هغۀ وي چې نادان شي پۀ پیرۍ کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن داسې وخت دے چې د چا نه د حیا طمع نۀ شې کولے سلو کښې یو کس به داسې وي چې هغوي به پهٔ حیا او بې حیایۍ پوهېږي.نوره هغه خبره ده چې سدهوم ته شین دے.دحیا ، غېرت، پښتو صرف نومونه پاتې دي ځکه خو خاکسار صېب پهٔ واز کومې دا وائي:

لاړه پښتو لاړه د حیا وختونه ختم شو
هېر کړو اوسنو خلقو غېرت پهٔ ټوقو ټوقو کښې

(بخت شېر اسیر ټوپۍ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار پۀ نيکۀ تخليق کاراو د هغۀ شعري مجموعه

زما خيال دے چۀ زيات ليک د توراج پۀ ذات اوکړم ځکه چې کتاب ئې خو ستاسو مخې ته خور دے. او هم تاسو ئې فېصله کولے شئ. چې خاکسار صېب ښۀ شاعري کړې ده او کۀ نۀ؟ توراج خاکسار صېب ته دا خداداد صلاحيت د خپل پلار محمد لالا خدائے بخښلي نه او بيا د هغوي د نيکۀ سيد کرم اخون نه پۀ ميراث کښې پاتې راروان دے.

نيکۀ ئې هم يو ډېر نوموړے شاعر وۀ. او د خپلې خواؤ شا علاقې نه به تقريباً پۀ نيمه پښتونخواه کښې ئې شهرت لرلو. هغه وخت چې دا فن پۀ پېسو نۀ خرسېدو شوقيه او ميراثي وېناوال ئې بلها شاګردان وو. د هغوي وېنا به ئې يادوله او د پښتو د موسيقۍ محفلونه به ئې ښائسته کول لا تر دې دمه ئې بعضې خلقو ته چاربېتې يادې وې. هغه وخت د چاربېتو مئېنان ډېر وو. د نيکۀ نه وروستو والد صېب محمد لالا هم لږه خو خوږه شاعري کړې وه. خو هر چا ته ئې پته نۀ وه ځکه چې ځان ئې شاعر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نۀ وۀ ښکاره کړے ـ البته د موسیقۍ محفلونه به ئې خوښ وو ـ د خپل پلار نه علاوه ورته د نورو ښو ښو شاعرانو لکه نوره دین استاذ ، احمد دین طالب ، امانت اخون ، صاحبزاده غلام قادر وېناګانې ورته يادې وې ـ

لکه د پلار توراج خاکسار هم ډېره زمانه ځان پټ اوساتلو ـ ددوي د مور ورور د توراج ماما عبدالحنان روان (چې وړومبے تخلص ئې اخون وۀ) چې ډېر لوئې د نامې جامې شاعر او ډېر ښۀ عالم هم وۀ ـ او مونږ سره به د مشاعرو پۀ محفلونو کښې شاملېدو ـ نو د هغوي پۀ وساطت مونږ ته د توراج د شاعرۍ او کمال پته اولګېده ـ او بيا به مونږ ورو ورو چېړو ـ اخر دا چې عبدالحنان روان صېب الله ته خوږ شو ـ نو توراج خاکسار صېب ئې مونږ ته ملګرتيا کښې پرېښودو ـ چې د اتمان ګدون ليکوال ملګري سرکرده غړے شو ـ خاکسارصېب ته د مور يعني ماما خېلۍ د طرفه هم شاعري پۀ ميراث کښې پاتې شوه ـ توراج خاکسار ښۀ درونډ زميندار دے چې ورته ګورې نو ساده باده فقير طبع انسان دے ځان ته څۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وائي نهٔ ـ ځکه چې مدرسه او کتاب ئې په سترګو نهٔ دي ليدلي ـ خو کهٔ محفل ئې درسره جوړ شو نو بيا به منې چې توراج هم دا توراج دے خپله قدر مند دے هر چاته د قدر په سترګه ګوري ما لا تر اوسه دومره حياناک انسان نهٔ دے ليدلے ـ مېلمه دوست دے خپل او پردي ته درناوے ورکوي ـ او وائي چې ما چرې هم د مېلمه يا د مېلمنو دپاره کور کښې د روټۍ نهٔ دي وئيلي چې ماسره مېلمه يا مېلمانهٔ دي ـ خو چې څهٔ تياره وي هغهٔ د يار دپاره وي ـ

پهٔ اولس دوستۍ غم ښادۍ کښې دومره تېز دے ـ چې لا به درته خپل خپلوان ورور عزيز نهٔ وي رارسېدلي او دا سړے به درته حاضر وي خو د خانانو نوابانو سره ئې قطعي نهٔ لږي ـ چې يار دوست ئې څومره غريب وي نو ددهٔ زړهٔ ته قريب وي ـ توراج خاکسار صبب پهٔ خپله د خپل وطن هشتنغر نه د ښهٔ شته من کور فرد دے ـ اوس دا د الله وبش دے چې پېدا شوے پهٔ هشتنغر کښې دے او روزي ئې ورله پهٔ ټوپۍ کښې ايښې ده ـ چې زمونږ دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د الله یو انعام دے ـ دلته ئې هم پۀ سرېتوب کښې څۀ کمے نۀ دے راغلے ـ څلور شپږ مزدوران ئې هر وخت د مخې اوړي را اوړي ـ خو پۀ لیدو به ئې دا فرق اونۀ کړے شي چې مزدور کوم یو دے او مالک کوم یو ـ

خاکسار واقعي چې خاکسار دے ځکه ډېر ځیرک انسان دے چې د وختونو تودې سړې پرې ډېرې تېرې شوې دي ـ پۀ هر رنګه محفل کښې خپل رول لوبولے شي نالوستے دے خو ددین د علومو نه زیات واقف دے ـ پۀ هره موضوع چې ورسره خبرې کوې نو خامخا به ئې جواب کښې ژورتیا محسوسوې د دیني ټولو احکامو پابند دے عمر به ئې تقریباً 67 کاله وي ـ خبره رانه اوربدېږي او اوږده شوه ـ کۀ ډېرې نۀ وي چې یو دوه خبرې پۀ مخکښې پروت کتاب هم اوشي ـ

د خاکسار صېب د کتاب چاپ کول ګران کار ځکه وۀ ـ چې هغوي کلام لیکلے چرته بیخي نۀ وۀ ـ چې څۀ وو هغه هغوي سره سینه کښې محفوظ وو ـ بیا به هغۀ ته خپل کلام غزل ، نظم ، رباعي چاربېته چرته د موقعې پۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مناسبت یادېدله ـ یو یو کلام دپاره سوچ کول ؛ بیا لیکونکے پېدا کول ؛ هغهٔ ته لوستل او بیا لیکل ډېر مشکل کار وهٔ ـ خو څه ملګرو له دې الله پاک ډېر خېر پهٔ جولو کښې واچوي ـ چې ځان ئې ورسره اوکړوهٔ ـ او دا دومره شعرونه ئې ترې نه خوندي کړل ـ د خاکسار صېب سینه خو ددې نه د ښو او زیاتو شعرونو نه ډکه ده خو د لیک مسئله ده چې کله هغهٔ ته رایاد شي نو لیکونکے نهٔ وي چې لیکونکے وي نو یادېږي نهٔ ـ

د خاکسار صېب کلام خو ستاسو د وړاندې پروت دے کهٔ زهٔ ئې ډېر تعریف اوکړم نو کم دے او کهٔ اوئې نهٔ کړم نو نهٔ ګز لرې او نهٔ مېدان ـ د چا خبره نمر پهٔ ګوته نهٔ پټېږي ـ خاکسار صېب چې څهٔ تخلیق کوي نو یو مضبوط بنیاد ئې خامخا وي نو مضبوط کار خو بې کړاوه کېږي نهٔ ګنې شعرونه خو هر وخت جوړولے شي ـ د هغوي خوندي اشعار ددې مجموعې چې نوم ئې "پهٔ سرو لمبو کښې قرار څنګه اوکړم" بله د عبرت نه ډک نصیحت اموز اشعار پکښې موجود دي ـ او بیا دا چې د هغوي هر شعر

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتخاب هم دے ـ روماني ليک ساده باده د چاپېرچل د مثالونو نه ډک دے ـ چې د عام تخليق کار په خوا خاطر کښې هم نۀ راځي ـ

زميندار سړے دے دکار او بې کاره بوټي ډېر ښۀ پېژني هغۀ ئې په خپلو شعرونو کښې په داسې ترتيب پېرلي دي ـ چې سړے ورته حق دق حېران پاتې شي بله لويه خبره دا ده چې خاکسار صېب حق پرست ، حق ګو او حق شناس شاعردے ـ چې کومې ګډې وډې خبرې په معاشره يا په دين کښې داخلې شوې دي ـ د سوچ نه بالا تر هغي په موجوده ماحول کښې يو مقام هم موندلے دے د هغې تور ئې په ډېر ښکلي انداز کښې کړے دے ـ
لکه چې وائي !

ليل او نهار شمس او قمر کښې تبديلي نۀ راځي
درياب به څنګه موج کمئ د قلندر په خوښه

ما وې خاکسار صېب د خپل چاپېرچل نه څيزونه خپلو شعرونو کښې د ښائست دپاره ځايوي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببره د دېوال نهٔ شي او رنده دال توره نهٔ شي
تال شه د ګړنګ پهٔ سر هوا به درنه جوړه شي

حسن شه نغمه شه شين ورخاړے شه د بام پهٔ سر
رحم پهٔ توراج اوکړه دوا به درنه جوړه شي

يا دا چې!
اوري پرې حجر چې پهٔ شجر کښې ثمر اولګي
شنډ چې شي انګور د دېوالونو پهٔ سر پېټې شي

بله د مزې خبره دا ده چې خاکسار صېب د چاربېتې ازمائېلے شاعر دے پهٔ زړو او نوؤ طرزونو ئې اشنا او نا اشنا ډېرې چاربېتې جوړې کړي دي ۔
چې پهٔ دې کتاب کښې صرف نمونې شته۔ د خپل کلي پهٔ يو نظم کښې ئې د کلي نقشه ډېره پهٔ ښائسته ډول جوړه کړې ده۔ يو دوه بندونه ترې د پېژندګلو دپاره راخلم۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

علي خان دلته زېږېدلے ، زمونږ نيکونو به وې
دې قبرستان کښې شته دے څلے ، کوي پرې خلق دعوې

پهٔ ګوته نمر کله پټېږي
زمونږ د کلي اوبهٔ پهٔ نورو کلو تقسيمېږي

د هشتنغر بره حصه ده ، د ګنډېري اړخونه
هم ئې تاريخ هره کوڅه ده ، تېر پرې بلها مخونه

قومونه ډېر پکښې اوسېږي
زمونږ د کلي اوبهٔ پهٔ نورو کلو تقسيمېږي

نورې خبرې پهٔ قرآن کښې مزه کوي۔خو د توراج خاکسار صيب دا کتاب نصيحت آموز هم او د مينې ، ورورولۍ او د اخلاص پېغام هم دے۔دا لږ کلامونه مې د هغوي د شاعرۍ نه د نمونه خروار پهٔ حېث راخستي دي۔ او د لوستونکو پهٔ وړاندې مې ايښي دي۔ نور د لوستونکو خوښه چې هغوي خاکسار صيب د کوم مقام جوګه ګڼي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

پۀ ډېر درناوي

ملنګ جان مندڼ

سرپرست اعلیٰ "اتمان ګدون لیکوال ملګري"

۳۰ ربیع الثاني ۱۴۴۰

بمطابق 16 نومبر 2023

(c) ketabton.com: The Digital Library

"د توراج خاکسار شاعرۍ ته يو نظر"

اولسي ادب چې د يوې ټولنې د کلتور، تاريخ، تهذيب او تمدن په اصلي بڼه کښې د ښکاره کؤلو د پاره د يوې هېنداريې حېثيت لري. دغه اولسي ادب د ليکلي ادب نه ډېر وړاندې د پېړو پېړيو راهسې راروان دے او د يوې زمانې نه بلې زمانې ته انتقالېږي خو زما په خيال دا زمانه په اولسي ادب کښې د تخليق وروستۍ پېړۍ ده ځکه چې اولسي تخليق کار د تعليم او مطالعې پرته په خداداد صلاحيت سره د خپل تخليقي قوت په اساس يو داسې سوچه تخليق د اولس مخې ته راؤړي کوم چې په ټولنيز ژوند کښې د هغۀ د ژورې مشاهدې او د کلونو کلونو د تجربې نچوړ وي او زما نۀ دے خيال چې په دې جديد دؤر کښې لۀ دې نه وروستو څوک تخليق کار ناخوانده پاتې شي او بغېر د مطالعې خپلو جذباتو او احساساتو له د شعر ژبه ورکړي هم دا وجه ده چې زۀ خپل ځان ډېر خوش بخته ګڼم چې په يو داسې دؤر کښې د ژوند ورځې شپې سبا کؤم چې هم راته د ليکونکي ادبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرانو او هم راته د اولسي ادبي مشرانو په صحبت کښې د ناستې ولاړې زمينه برابر ده په دغه ادبي مشرانو کښې يو نوم د ډېر ګران مشر اولسي شاعر توراج خاکسار کاکا هم دے د چا د شعر ژبه چې خوږه، اسانه او روانه ده څنګه چې توراج کاکا يو ابغ نبغ زميدار سړے دے هم دغسې ئې شعر هم ابغ نبغ، ساده سُوده مګر اغيزناک دد توراج کاکا شعري مجموعه په دوه برخو مشتمله ده په اوله برخه کښې غزلې دي او په دوېمه برخه کښې چاربېتې ـ زۀ اکثر ملګرو ته دا خبره کوُم چې زما د پاره صنف هېڅ معنیٰ نۀ لري بلکې زما د توجو مرکز همېشه فن او موضوع وي اوس کۀ مونږ د پښتو عروضي نظام په نظر کښې ونيسو او د کاکا د کلامونو تنقيدي جاج واخلو نو په بعضې ځايونو کښې د سيمه ايزي لهجې په وجه فني کمزورۍ لري خو چونکه اولسي شاعر د دغه رقم عروضي نظام د اصولو نه مبرّا وي نو دغه د لهجې په وجه کۀ چرته سبلاب کم يا زيات وي نو فني کمزوري نۀ ده بلکې د لهجې هاغه سوچه والے دے کوم چې د توراج کاکا په چاپېرچل کښې مېشتۀ خلق کاروي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو لهٰذا په دې نقطه مونږ نیوکه نۀ شو کؤلےاو پاتې شوه موضوع نو په دې کتاب کښې د توراج کاکا د هر کلام موضوع (خواه کۀ هغه د ګل ده او کۀ د بلبل ده، د دوران ده او کۀ د جانان ده) په عقیدوي روایاو او ټولنیز اقدارو داسې رنګ ده چې لوستونکي داسې محسوسیږي لکه چې د هغۀ د زړۀ خبرې ئې د شعر په چوکاټ کښې رابندې کړې وي توراج کاکا د سر تر پایه د پښتو، پت او پښتون ولۍ یو ژوندۍ نمونه ده ددې اندازه مونږ ته د هغۀ د عملي ژوند نه علاوه د هغۀ د شعرونو نه هم کیږي

شعر د اشارو ژبه ده او د غه اشارو د پاره تخلیق کار ته اکثر وختونو کښې د تراکیبو، روزمرو، متلونو او محاورو ضرورت راپیښیږي خو دغه ټول لوازمات د شعر په لنډ تنګ چوکاټ کښې په یو داسې منفرد انداز رابندؤل چې خبره مبهمه پاتې نۀ شي او لوستونکي ته په وړومبي نظر د تخلیق کار مطلب او مقصد په ډاګه شي دا ډېر لوے هنر غواړي او د دغې هنر مظاهر توراج کاکا په هر دوېم، دریم کلام کښې دومره په ښکلي انداز تکرار کړې ده چې سړے ورته ګوته په خلۀ پاتې شي مختصر دا چې د نړۍ په هر ګوټ کښې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم قامونه ژوند کوي نو هر قام خپل دود او دستور لري او ژوند ته د خپلې ځانګړې زاويې نه ګوري دغه وجه ده چې د هر قام په اولسي ادب کښې د هغې قام عقيدوي، سياسي، فرهنګي، کلتوري تاريخي او اولسي ژوند ته د هغوي نظر لوستونکي ته په ډاګه کېږي کۀ چرې مونږ غواړو چې د يو مخصوص قام په اړۀ پاخۀ او کوټلي معلومات تر لاسه کړو نو بايد چې د هغوي اولسي ادب ولولو ـ

دغسې د توراج کاکا تخليقات هم د خپلې مخصوص جغرافيې دننه د تخيل په نيلي سور هاغه شهسوار دے چې نۀ د خپلې ټولنې د مذهبي رواياتو نه لاس په سر شوے دے او نۀ ئې د خپلو کلتوري او فرهنګي اقدارو د مصلحت نه کار اخستے دے او د سيمه ايز ژوند د دود دستور، سياست، ثقافت او فطرت داسې ترجماني ئې کړې ده چې د کاڼي کرښې دي

سيف الاحد عاجز
سينئر نائب صدر
"اتمان ګدون ليکوال ملګري"

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظم

خپل عمل کړه برابر قرآن سره
رابطه دې ختموه شیطان سره

مال دولت متکبره کړي کوږ ګرځي
وي پېښي به دې یو ځل سبحان سره

د دنیا پۀ تاوان ګټه د اخر شي
ځان بلد کړه د دنیا تاوان سره

کوم حساب چې پۀ محشر درسره کیږي
نن هغه حساب کوه د ځان سره

پۀ توبه ابو سفیان د الله دوست شو
د دنیا نه شو رخصت ایمان سره

همېشه له استغفار وایه **توراجه**
خزانې د رحم شته رحمان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پۀ لاروي ګمان د غېږ د جانان څۀ له کوي
د وخت نا اهلو ته د مينې بيان څۀ له کوي

د دنګو غرونو پۀ سر تنګې لارې خامخا وي
تۀ پرې د ښار د سړکونو ګمان څۀ له کوي

چې نۀ ئې زرګر جوړوي نۀ چرته پۀ کلي کښې شته
اوسنو پېغلو ته صفت د پېزوان څۀ له کوي

د عبرت نخښه او تاريخ شه د راتلونکي نسل
لکه د چړک پۀ دېوالونو اذان څۀ له کوي

بس دومره بس دے چې پرې سر د نمر نه سوري ته شي
چې خاورې کيږي پۀ کفن مې تاوان څۀ له کوي

هسې اوبۀ پۀ ډانګ وهل دي څۀ ترې نۀ جوړيږي
پۀ تېر ساعت پسې **توراجه** ارمان څۀ له کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

باد د پسرلي د بهار اولګېد
هر بلبل د ګل پهٔ رخسار اولګېد

پرخه د سبا غوټۍ غوټۍ شوله
ورځ شوه د خوبانو دربار اولګېد

پاسه کهٔ دیدن کوې ګودر ته څه
نمر د کنډاوګي پهٔ چنار اولګېد

دشتو کښې شینکي څانګې خورې کړې
سر پرې د شپونکې د ګوار اولګېد

نن چې یار رتلے یمه بې ګناه
دا پهٔ ما نظر کهٔ ازار اولګېد

راغلل کشمیري طوطیان لړۍ لړۍ
بیا زمونږ د کلي جوار اولګېد

وواېئ همزولو دا به څهٔ کیږي
اور پهٔ یارانه د **خاکسار** اولګېد

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چغه د حسرت نۀ شي ژړا به درنه جوړه شي
کرکه د چا مۀ کوه جفا به درنه جوړه شي

غَز د ادبرې شه کۀ مېوه نۀ کړې نو ګور که ځان
ژبه د منصور نۀ شي سزا به درنه جوړه شي

ببره د ډېران نۀ شي او رنډه دال توره* نۀ شي
ټال شه د ګړنګ پۀ سر هوا به درنه جوړه شي

توره زنه ،شنه خالونه ، ټوله مینه مینه شه
پاڼه د تاریخ به شي لېلا به درنه جوړه شي

زېرے د اختر شه شپه د قدر شه تېرېږه مۀ
پرخه پۀ ګلونو شه مُسکا به درنه جوړه شي

* دال توره د یو بوټي نوم دے چې حکیمان ئې پۀ دوایۍ کښې استعمالوي۔
† دا لفظ پۀ اصل کښې انډے دے خو د قافیې د مجبورۍ له وجې مو انډې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حُسن شه نغمه شه شین ورخاړے شه د بام پۀ سر
رحم پۀ **توراج** اوکړه دعا به درنه جوړه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

څنګه چې سیورے بدلوي مقام د نمر په خوښه
داسې مئېن هم بدلوي پل د دلبر په خوښه

محمود بادشاه ایاز غلام وۀ دا جدا خبره
ګڼي بادشاه کله چلیږي د نوکر په خوښه

لیل النهار ، شمس و قمر کښې تبدیلي نۀ راځي
دریاب به څنګه موج کمۀ د قلندر په خوښه

دا خو الله دے چې حالاتو کښې بدلون راولي
ګڼې ایسار به مازیګر وۀ د ګودر په خوښه

هغه د جبل قبدي د مصر بادشاه څنګه جوړشو
بس فېصلې کېږي د لوئې غني اکبر په خوښه

مخلوق کۀ خپله فېصله د تقدیر کولے شوله
یعقوب راوړے به وۀ سترګو له نظر په خوښه

توراجه څوک چې د الله شي د هغۀ الله شي
ځکه ئې کړي فېصلې دي د عمر په خوښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ګنګوټان ښکلوي ګند او ګلاب نهٔ
بې وقوف غلطي زده کئ او اداب نهٔ

هغه چنړے د مکتب به ملا نهٔ شي
چې سندرې وائي لولي کتاب نهٔ

د غرض مينه د شوم سړي دولت دے
سود ئې خوښ وي دعاګانې ثواب نهٔ

مکانونه پهٔ کږو غرونو جوړېږي
چا جوړ کړي لا پهٔ سر د حباب نهٔ

ته پرې هغسې ګمان د جوانئ کړې
پهٔ **توراج** پيري رادرومي شباب نهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د لوپټې پلؤ ئې سوال کړي د وېختو څوکو ته
نوره مې مۀ نزدې کوه د سرو لمبو څوکو ته

د کلي کور په غېږ کښې خوب کړي باشعوره خلق
څوک چې باغي شي هغه وخېژي د غرو څوکو ته

اشنا وعده اوکړي اقرار اوکړي بيا هم نۀ راځي
اوښکې بغېر د وعدې راشي د بڼو څوکو ته

خوبان ترې تور اوربل له سرۀ ګلونه اوشوکوي
لېونۍ سرۀ لاسونه اچئ د ازغو څوکو ته

تورې ګورګورې لا د تورو غرو لمنې ساتي
ورخاړې اوختل پټو نه د بنګلو څوکو ته

لاړې هغه پېغلې د تورو خاورو لاندې شولې
چې به ئې سپياکې خېژولې د بلو څوکو ته

نن چې **توراج** په کاڼو ولې چې په دې مۀ راځه
سبا ئې مۀ اچو ګلونه د خزو څوکو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پرخه د سبا د سرو ګلونو پۀ سر پېښې شي
کله کله مینه هم د زړونو پۀ سر پېښې شي

سر نه د مشرک ، د سروې سر ښۀ وي ټېټېږي نۀ
داسې زندګۍ د عملونو پۀ سر پېښې شي

اورې پرې حجر چې پۀ شجر کښې ثمر ولګي
شنډ چې شي انګور د ډېوالونو پۀ سر پېښې شي

اؤرو دا متل چې د خزلې ځائے ډېران وي بس
خرۀ چې شي مُردار د ډېرانونو پۀ سر پېښې شي

ډېرې خلې دعا غواړې لائقې د شفا نۀ وي
راشي احمقان د محفلونو پۀ سر پېښې شي

مۀ چېړه خوبان **توراجه** هر وختې سپرلے نۀ وي
بعضې لوېټې د اوربلونو پۀ سر پېښې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

کۀ ناراض شې د تمام واړه جهانه
نۀ څۀ جوړ وي نه به جوړ شي د خفګانه

ستا کاتۀ هم پۀ بدل هم پۀ احسان دي
زۀ يرېږم لۀ بدل او لۀ احسانه

پۀ ژوندون کښې چې سکون نۀ وي زندان وي
خوشحالېږي چې څوک خلاص شي د زندانه

نۀ چلېږي دا دنيا او نۀ روزګار ئې
چې زۀ کرکه کړم له تا او تۀ زما نه

پۀ هغې دولت به څۀ خوشحالي اوکړې
چې دې خلاص کړي لۀ حيا او لۀ ايمانه

بادشاهان هم فقيرانو ته سلام کړي
فېصلې دي راورېږي لۀ اسمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې اسباب د پتېدو ورسره نۀ وي
څۀ به پټ شي په بيديا کښې لۀ بارانه

د **توراج** خاکسار ساده ساده خبرې
ملاوېږي بې پېسو او بې تاوانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

امن مېرو کښې نشته ښار کښې نشته
امن پۀ کور او پۀ بازار کښې نشته

د جماعت صف کښې غلۀ دي ور کښې غلۀ دي
کومه بلا ده چې پۀ لار کښې نشته

بچو به حق غوښتو د خپله پلاره
د حق خبره اوس پۀ پلار کښې نشته

کاشتکاره شپول راپاڅي فصل دې خوري
سکون پۀ لیل او پۀ نهار کښې نشته

پۀ غل ټوپک ئې اولي شور هم نۀ کئ
امن مرغو ته پۀ چینار کښې نشته

مولوي صیب لېټ شو مقتدیان ګورېږي
خبر دے ګناه پۀ انتظار کښې نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دو نمبرۍ باندې اوس فخر کېږي
پېسې اوربجنل کاروبار کښې نشته

پېسې ئې اوګټلې حج له پرې ځي
کرکه پۀ زړۀ د ايماندار کښې نشته

توراجه تۀ ساده ئې غلے کښېنه
ساده سړے هډو پۀ شمار کښې نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

زندګي هله ښائسته شي چې خوږه شي
چې ترخه شي لکه ستنه چې کږه شي

هغه ونه کۀ د باغ وي کۀ د سبورې
چې راپربوځي اخر د اور جوګه شي

چې نۀ قد نۀ ئې قامت نه ئې ثمر وي
کوږ غوړاسکے نۀ دُرشل نۀ به برګه شي

اصل اصل وي رښتيا خبره دا ده
د ريښمو کپړه څنګه به زيګه شي

پېغلې برغ منګي اوړي خائسته پرې ښکاري
مناسب نۀ دي چې بَش ئې پۀ اوګه شي

هغه تور چې د تهمت شي پۀ چا پورې
پاکېدل ئې بيا **توراجه** پۀ جرګه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

بُوره مېښه کله پېـ کړي بې ونډې
خر وړے نۀ شي هر ګز د اوبښ انډې[†]

تاچې غوښې له خانک راوړو مېرمنې
صبر اوکړه حلال نۀ دے لا لنډې

زوړ پېزار پۀ شان د نوي پېزار نۀ شي
کۀ هزار ځله ئې وينځې يا ګنډې

شنډې ونې نه ثمر کله پرېوځي
کۀ پۀ لخته ئې تمامه ورځ څنډې

کوم عمل چې ځوک زباتي اجر ئې نۀ وي
د سکرو د اور نه نۀ ځي غرغنډې

يو مالدار ته خداے دې اوبخښه ځوک نۀ وئ
کۀ پۀ قبر ورله ودروې جهنډې

نۀ د مړو سره ژوند کېږي **توراجه**
نۀ ځوک مړۀ خښېـ پۀ سر د برنډې

[†] دا لفظ پۀ اصل کښې انډے دے خو د قافيې د مجبورۍ له وجې مو انډې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

غل وئ غلا دپاره شپه ده سحر نۀ
د منزل دپاره لاره ده غر نۀ

پۀ رندو سترګو ځنګل ته ښکار له مۀ ځه
چې پۀ سپین مېدان دې لګي نظر نۀ

پۀ هغې اوبو ګمان د درياب مۀ کړه
چې پکښې شګې موندے شي جوهر نۀ

قرض مال پۀ ډېر هنر وصولېدے شي
دوستانه پۀ خوږه خلۀ شي پۀ شر نۀ

د هغې عشق او مينې څۀ مطلب شو
چې مخلوق ترې نه خبر وي دلبر نۀ

زۀ **توراج** يمه صادق منافق نۀ يم
صادقانو له جنت وي سقر نۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چې خوږه شي ځار شه لعل جوهر د ژبې
چې ترخه شي عجيبه خطر د ژبې

دغه ژبه د بدن لګه ټوکړه ده
ټول وجود لره کافي ضرر د ژبې

دوه هاتيان چې جنګ شروع کړي اخر خلاص شي
نۀ خلاصيږي چې شروع شي شر د ژبې

منصور وخېژوۀ خپلې ژبې دار ته
چې پۀ دار شو دا ئې وۀ اثر د ژبې

ښۀ سړے د هر سړي خوښ وي **توراجه**
پۀ خلوص پېدا شي سيم و زر د ژبې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ستا پهٔ خندا کښې د جفا نخښه ده
زما ژړا کښې د وفا نخښه ده

دا سپک کاتهٔ د رسوايۍ اسباب وي
کبر غرور خو د ګناه نخښه ده

پهٔ مظلومانو باندې ظلم کول
د غرقېدو دغه صفا نخښه ده

د نېکو نېک د بدو بده برخه
د نېک عمل څومره اعلیٰ نخښه ده

تهٔ چې د بل نه غواړې ناز او ادا
پهٔ تا کښې کومه د ادا نخښه ده

رنځور چې وومي پهٔ شپه کښې قرار
مخلوقه هاغه د سبا نخښه ده

توراجه ستا د خلې ساده غزلې
دا د پښتو هغه پخوا نخښه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چې کم عقلو سره نن ئې پهٔ خندا ناست
سترګې سرې به ئې سبا له پهٔ ژړا ناست

پهٔ خوره زمکه کښې ګل نهٔ زرغونېږي
بې وفا ته ئې پهٔ طمع د وفا ناست

پهٔ ګاونډ چې د کم اصلو شريک نهٔ شې
سرو غرمو ته کهٔ ئې خبر دے پهٔ بېديا ناست

غم ته شا چې د بې ننګو پهٔ ډاډ نهٔ کړې
يک تنها به ئې پهٔ طمع وار خطا ناست

چې پردي راوړي کور ته ننباسي
يوه ورځ به ئې پهٔ خپل قام کښې رسوا ناست

هغه کار پهٔ دنيا مهٔ کوه **توراجه**
ملامته چې پهٔ مينځ کښې د دنيا ناست

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

تل د يار د لوري تکليفونه دي راځي راځي
يار چې پرې خوشحاله وي دردونه دي راځي راځي

مينه کۀ اسانه وے نو هر چا به کؤلے بيا
زۀ چې مينه کړم پکښې سوچونه دي راځي راځي

نشته دے پرواه زما ، د صبر پهلوان يمه
خبر دے پۀ دلو دلو غمونه دي راځي راځي

کلک شه اے زړګيه چې ونۀ چوې يار جفا کوي
ووايه پۀ جار چې افسوسونه دي راځي راځي

زۀ لکه يتيم يمه مخلوقه د ژړا عادت
رنګ پۀ رنګ د ظلم دورانونه دي راځي راځي

نوم زما **توراج** دے پۀ سر تاج د محبت لرم
ګل سره ازغي وي تهمتونه دي راځي راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د یار جهونپړۍ به پۀ مانۍ د چا بدله نۀ کړم
حساب به ئې کمه د شاهانو د محله نۀ کړم

د یار پۀ در کښې شا بربنډه پۀ ازغو ځملمه
عاشق پۀ ځۀ شوم چې ئې غوره د بخمله نۀ کړم

زړۀ مې بهلول دے پۀ لمسون د چا غولېږي کله
صادقه مینه به رسوا چرې پخپله نۀ کړم

د یار تهمت خو مشَدۍ زما پۀ سر پرته ده
دا مشَدۍ به د رقیب د خپې چپله نۀ کړم

چې د رقیب لمسه منم پکښې فائده مې ځۀ ده
ځان به پۀ زور د ډېرانۀ د سر خځله نۀ کړم

کۀ نقادان مې تنقیدونه پۀ اشعارو کوي
خپله زړه جذبه به ورکه د غزله نۀ کړم

دا زۀ **توراج** ځۀ له د یار سره جوړه ګرځمه
کۀ وخت پوره شو اشنا خلاص به د اجله نۀ کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

اور د محبت مې د زړګي پۀ دنيا بل شولو
ځکه مې د مخ رونق پۀ دې دنيا بدل شولو

خيژي اسويلي زما د خلې نه د سلګو پۀ ځائے
غم چې د حسين اشنا پرون راسره مل شولو

راغلل دا بې شماره تهمتونه شو پۀ ما دلیٖ
هار لکه د ګلو مې پۀ غاړه مکمل شولو

پروت د يار پۀ در کښې شا بربنډه پۀ ازغو يمه
چاته به ازغي ښکاري خو مالره بخمل شولو

زۀ د يار پۀ عشق کښې د وطن ښړلے خوښ يمه
خبر کۀ د مجنون غوندې مې عمر پۀ ځنګل شولو

مومي به مئين زړونه قرار زما پۀ دې غزل
هر يو سوي زړۀ لره مرهم مې دا غزل شولو

نوم زما **توراج** دے پۀ رواج د عشق پوهه شوم
سرومال ببلم اشنا ګټم پۀ رب توکل شولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل‡

دا حياداري سترګې ستا دي ياره
سرې ناغه داري سترګې ستا دي ياره

تازه تازه کاتۀ اثر لري ستا
زينت حقداري سترګې ستا دي ياره

خندنۍ سترګې دي کړې چاته کږې
کږې ايساري سترګې ستا دي ياره

قرار زړګے ئې راله کۀ ناقرار
څۀ دل ازاري سترګې ستا دي ياره

چې قاصد درشي دا رتې ئې څۀ له
جنګ ته تياري سترګې ستا دي ياره

راشه ديدن له دې **خاکسار** راغلے
ډېرې يادګاري سترګې ستا دي ياره

‡پۀ دې غزل کښې شونډې نۀ لګي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پۀ سپین مخ دې تار پۀ تار کړه زلفان ورو ورو
پۀ یو نیم سلائي تور کړه چشمان ورو ورو

محبت صرف پۀ سوال کېدلے نۀ شي
پۀ ترتیب پکښې پکار وي تاوان ورو ورو

پۀ لمسون د غمازانو دهوکه نۀ شې
رژوه مې د غمجن زړۀ ارمان ورو ورو

معشوقه د خپل عاشق نه ګيلې نۀ کړي
خو غماز پکښې پېدا کړي خفګان ورو ورو

بې وقوف ته راز ښکند نۀ کړې **توراجه**
عاقلانو ته کړه خبر دے بیان ورو ورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پۀ دولت چې څوک مئين وي عزت څۀ کړي؟
پۀ عزت چې څوک مئين وي دولت څۀ کړي؟

سود پرست سړے د زيان مېدان له نۀ ځي
د قارون غونډې د خدائے پۀ رحمت څۀ کړي؟

سخاوت د بنياګانو عادت نۀ دے
هندو ځان سيزي پۀ اور خو جنت څۀ کړي؟

محبت د ننګيالو د زړۀ مشال دے
چې بې ننګه شي هغه محبت څۀ کړي؟

لېونی پښې ابله پښې سرتور سرونه
پۀ خپل غم کښې مبتلا وي راحت څۀ کړي؟

حقيقت بيان کوې **توراجه** چاته؟
نادانان غواړي مجاز حقيقت څۀ کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

زما زړګے د وفا ډک دے بې وفا دې نۀ شي
جفا کول بې وفائي عادت زما دې نۀ شي

زۀ چې پۀ کوم محفل کښې یم هلته دې مینه وي تل
د زور او جبر د ستم وختونه را دې نۀ شي

چې پۀ رښتینې محبت وي رب دې نۀ لنډوي
صادقه مینه دې کامیابه وي رسوا دې نۀ شي

چې دوه مئین پکښې یو ځائے شي راز د مینې کوي
د وصال شپه تر مړېدو پورې سبا دې نۀ شي

ښائست خو خدائے ورکړو غرور پرې ښکلي څۀ له کوي
پۀ غرور ناک بشر نیازبین زړونه شېدا دې نۀ شي

دیدن د سر پۀ بدله دے چې محنت وکړي څوک
هر حق پرست پۀ ځائے د حق کښې وار خطا دې نۀ شي

توراج خاکسار چې د کوم یار فرمانبرداره ګرځي
ورځ پۀ محشر کښې د هغې یاره جدا دې نۀ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ځنګه چې باد د ګړنګونو پۀ سر نۀ اودرېږي
داسې خولې هم د خالونو پۀ سر نۀ اودرېږي

زما د خلې سلام پرې وايه خبر دے نۀ دې قبلۍ
خبر دے اوبۀ د دنګو غرونو پۀ سر نۀ اودرېږي

چې طوفانونه پرې راځي ځانګې ئې زمکې له ځي
ځکه خو پرخه د ګلونو پۀ سر نۀ اودرېږي

چې به ئې کاروان راوښوۀ د سبائي نه مخکښې
هغه چرګان د دېوالونو پۀ سر نۀ اودرېږي

د پېرنګي زندان مې پښغله د وطن اوخوړه
دغه خفګان د چا د زړونو پۀ سر نۀ اودرېږي

خالقه ستا د قدرتونو لارې چا اونيوې
زمونږه اوښکې د مخونو پۀ سر نۀ اودرېږي

کاتبه ځه چې پۀ ليکلو مې بې وسه شولې
د **توراج** ژبه د شعرونو پۀ سر نۀ اودرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پۀ سپین مخ دې کړه خوارۀ زلفان تازه
قط پۀ قط پکښې تومبې ګلان تازه

پۀ لنډۍ زنه دې خال د رنجو بس وۀ
لا پۀ پانو دې کړل سرۀ لبان تازه

تا چې جوړ کړو ځان زما د مرګ دپاره
پۀ کجلو دې کړل تور چشمان تازه

چې زما د قصده وخاندې رقیب ته
درنه نور مې شي پېدا خفګان تازه

تۀ زما دې سوي حال ته نظر وکړه
ګرځۀم پۀ اوښکو لوند ګرېوان تازه

دا اباد جهان به وي به نۀ وي **توراج**
خوند به درنکړي بیا بل جانان تازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

په تېر ساعت پسې وختونو هډو اونۀ ژړل
دې بې وفا میاشتو کلونو هډو اونۀ ژړل

چې پۀ ګلونو به ئې اوچې زمکې تاندې کړلې
هغې سپرلو پسې دشتونو هډو اونۀ ژړل

د سور پېزوان او سور چارګل او شنو خالونو ښائست
دؤر ئې تېر شو خو مخونو هډو اونۀ ژړل

چې به مدام د ګلو ډک وۀ اوس ئې خاورې خوراک
پۀ تور اوربل پسې ګلونو هډو اونۀ ژړل

چې ګودرونه پرې ښائسته وو یاره هغه پېغلې
خاورو له لاړې ګودرونو هډو اونۀ ژړل

غټې خلقې جګې شملې درانۀ خوارۀ مشران
پسې حجرو او محفلونو هډو اونۀ ژړل

توراجه ستا پۀ جنازه پسې به وژاړې څوک
مینې ترې ختمې شولې زړونو هډو اونۀ ژړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ښائست د مخ مې کمېدۀ پۀ پته پوهه نۀ شوم
اوربل مې ورو ورو سپينېدۀ پۀ پته پوهه نۀ شوم

د ماشومانو لوبې ټوقې وې کنه عالمه
کله کوېږدن کله وادۀ پۀ پته پوهه نۀ شوم

ما وې چې ژمے دے چې اوړے شي نو سبل له به ځم
دوران مې ورو ورو تېرېدۀ پۀ پته پوهه نۀ شوم

دا نن پرون وے پرون نن وے پرونی ورځ ښۀ وه
جانان زما نه ځارېدۀ پۀ پته پوهه نۀ شوم

زما سندرې زما خيال او زما شونډې مسکی
زما ځواني د خوب ليدۀ پۀ پته پوهه نۀ شوم

هغه **توراج** چې به ئې تخم د ګلونو غورځؤ
پرون پۀ خپله غورځېدۀ پۀ پته پوهه نۀ شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

جانانه ماته دې نا اشنا کړلې اشنا سترګې
سترګو دې هېرې کړې په څۀ وجه زما سترګې؟

ماپسې خلې د مخلوق وازې شولې ستا په وجه
تاپسې مۀ شه د مخلوق او د دنيا سترګې

د غريو نيولو سترګو رنګ په خندا نۀ بدلېږي
نۀ غلطېږي د خندا او د ژړا سترګې

سترګې په کوم طرف کږې کړم چاته اوګورمه
د خاورو لاندې شوې د ناز او د ادا سترګې

زما پېغام دې د ماښام ترغونۍ اوګڼله
څکه دې واړولې قاصد ته وار خطا سترګې

بخشش کوه نۀ لګي پته د راتلونکي سبا
توراج ته برندې برندې ګوري د عقبا سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

راشي دانشور چې ځي درانۀ په چپه خلۀ پاڅي
ډله د کم عقلو جرګه بې رټلې نۀ پاڅي

ښار دے کۀ مېره ده خو ترخې خبرې شر له ځي
مخه چې د شر نيسي هغې پسې جرګه پاڅي

رنګ د تعصب چې پکښې وځليږي هرکله
هغه محفلونو نه اکثر د بنده زړۀ پاڅي

ستاسو ښار ته راشي کۀ زمونږه د نخترو باد
بيا به ددې ښار پېغلې بې غږه په ښکالۀ پاڅي

اور دې پۀ ښائست ولږه مور دې څوکيداره شوه
پرخه به د ګل نه د دېوال پۀ سيورې څۀ پاڅي

راشه لوپټه راته لوګے کړه د نظره شوم
داسې صدقه باندې ژوندي څۀ کے چې مړۀ پاڅي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببره د ببو د کور زمونږ په کور راګوره ده
نمر زمونږ د غولي مينځ له راشي چې تيارهٔ پاڅي

سر چې بره وي ښکته په پښو کښې تندر نهٔ لګي
سترګې هله وغړېږي مخکښې چې بانهٔ پاڅي

خوب کوې **توراجه** د اخر برخه دې ورکه شوه
تهٔ جوړې فاسق شوې بزرګان په نيمه شپه پاڅي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پېغلې چې پهٔ کور شوې د ګودر د سپله پاتې شوې
هېر ترې بانړې چغ شو د اختر د سپله پاتې شوې

ناستې دي بنګلو کښې د موبائل سره مشغولې دي
څکه د چینار، چینې ، نختر د سپله پاتې شوې

اور شو جینکو پورې د سیمې سالانه چکر
تلې د رور پهٔ جنج د هشتنغر د سپله پاتې شوې

ښار د پښتنو د فېرنګې بارودو وجړقؤ
نهٔ څي قافلې د پېښور د سپله پاتې شوې

ډېره موده اوشوه پهٔ نظر د هیچا نهٔ راځي
زانړې د کابل او د خېبر د سپله پاتې شوې

مونږ به چې تپوس کوهٔ **توراجه** تهٔ به نهٔ وې کور
ښهٔ ده چې بوډا شوې چې د غر د سپله پاتې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

خوږ زبان وي تريخ زوزان شي پۀ پيرى کښې
تل محتاجه هر انسان شي پۀ پيرى کښې

د ځوانى پۀ وخت د وخت نه فائده واخله
چې خېرازه دې دوران شي پۀ پيرى کښې

ناداني پۀ ځلميتوب کښې څۀ عيب نۀ دے
بد هغه وي چې نادان شي پۀ پيرى کښې

پۀ ځوانى کښې کۀ څوک هر څۀ هر څۀ اوکړي
افسوس اوکړي بيا لقمان شي پۀ پيرى کښې

نۀ به سپين وېښتۀ پۀ ېبرته د چا تور شي
نۀ به بيا چرې څوک ځوان شي پۀ پيرى کښې

پۀ خپل زور قوت غرور مۀ کړه **توراجه**
هسې نۀ چې دې کار وران شي پۀ پيرى کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پېغمبر کړې پهٔ محشر رهبر زما
شي پهٔ مخکښې به اسان سفر زما

زهٔ به ښنګه خوشحالي او خندا اوکړم
د ګناه پېټې چې پروت پهٔ سر زما

دنيا ځائے د همېشه اوسېدو نهٔ دے
يو ځل رابه شي د تلو نمبر زما

ماله دغه خوشحالي پهٔ محشر بس دے
چې ساقي وي پهٔ کوثر دلبر زما

زهٔ **توراج** پهٔ قول ، **فعل** ساده‌ګي کړم
هر انداز الفاظ دے **لعل** جوهر زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

محفل د لېونو کښې لېونۍ خبرې کیږي
پهٔ خلهٔ د سپلانیانو سپلانۍ خبرې کیږي

مېلس کښې د ځوانانو بوډاګان کله ځائیږي
خفه شي بوډاګان چې د ځوانۍ خبرې کیږي

ښهٔ خلهٔ د غریب بنده د نېستۍ پهٔ معرفت شي
غریب شي هلته چپ چې د خانۍ خبرې کیږي

رونق د زمانې بدل بدل عالم بدل شو
پهٔ خړو وطنو کښې پخوانۍ خبرې کیږي

قاصده ښپه نیولے شه خوږې راباندې لګي
محفل کهٔ ننني دے پرونۍ خبرې کیږي

پهٔ نورو ښاریو کښې مینه مینه خنداګانې
پهٔ ملک د پښتنو د دشمنۍ خبرې کیږي

توراج وائي ګنده شوه معاشره پهٔ دغه وجه
مدام چې د حسد او تربګنۍ خبرې کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چې غرور او تکبر د چا روزګار شي
د هغهٔ مثال د ګرد او د غبار شي

ګرد غبار د هواګانو مخکښې زغلي
حېثيت ئې د يو نهٔ څيز پهٔ مقدار شي

پهٔ ډنګر مينه کوه فائده به مومې
بې وفا سره دوستي خدمت د مار شي

د کم اصلو د ياري مثال دے داسې
لکه څوک د ګنګوټانو خدمتګار شي

چې د يار د لاسه زهر اوخوري اوڅکي
سړے هله د لقمان غوندې هوښيار شي

تجربه يو مرتبه ګڼه **توراجه**
تجربه چې د چا نهٔ وي خنډ و خار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

هوښیاري او ماهري دواړه یو څیز دے
بهادري او سرزوري دواړه یو څیز دے

چې تمام عمر د بل پهٔ حکم زغلي
غلامي او نوکري دواړه یو څیز دے

چې پهٔ **چل** د ستهٔکي اوزار تیار کړي
لوهاري او سوناري دواړه یو څیز دے

چې تاوان پکښې سره د ګناه مومي
لوفري او جواري دواړه یو څیز دے

تفاوت پهٔ بعضې کار کښې دومره نهٔ وي
مالیاري او کاشتکاري دواړه یو څیز دے

تور به سپین کړي سپین به تور کړي پهٔ لغاتو
شاعري او **ګل** کاري دواړه یو څیز دے

زهٔ **توراج خاکسار** د نېکو خلقو یار یم
نېک کاري او خاکساري دواړه یو څیز دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

خزې چې يو ځائے شي پخوانۍ خبرې ډېرې کئ
دوي د پېغلتوب او د ځوانۍ خبرې ډېرې کئ

مونږ به د فلانکي کره پۀ تال باندې ځانګل خورې
دغه لېونياني لېونۍ خبرې ډېرې کئ

سمه تماشه وي چې وادۀ ښادۍ له لاړې شي
ستائي خپل زاړۀ سل کلنۍ خبرې ډېرې کئ

ډېره ډوډۍ وخورې بيا وئ مونږه څۀ خوړلي دي
نۀ مړېږي دوي د بې ايمانۍ خبرې ډېرې کئ

ډلې ډلې کېږي د ښادۍ د کوره ووځي چې
يو بل ته پۀ لار د شيطانۍ خبرې ډېرې کئ

دا ناقِص العقل قوم **توراجه** د چا نۀ مني
خوښ ئې وي فساد د دشمنۍ خبرې ډېرې کئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

یو چغه یو اواز جوړ شي اکثر د پښتنو
د اور او د اوبو مثال لښکر د پښتنو

پۀ سرو سکروټو خیژي ننګیالي زمونږ د کلو
پۀ بد طرف دې تاؤ نۀ شي نظر د پښتنو

پۀ اوچو غنو ملاسته به ترې سل ځله بهتر وي
الله دې څوک وانۀ روي پۀ شر د پښتنو

یریږي ترې نه غر چې چرته ما ته اور کښېنۀ دي
اکثر جګړه جوړه شي پۀ غر د پښتنو

ځانونه پرې وژلي پښتنو تاریخ ګواه دے
چې چا پناه اخستې ده پۀ در د پښتنو

کۀ چاڼ کړې کائنات پۀ مخلوقاتو پسې ګرځې
پۀ مینه کښې څوک نشته برابر د پښتنو

توراج وائي جذبات د پښتنو دغسې اوکړي
د زړۀ رازونه هم اوځي بهر د پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

کۀ پۀ کور ئې د سرو زرو باران اوشي
خو د بعضې کس به سترګې مړې نۀ شي

غل د غلا نه نۀ صبرېږي کۀ بادشاه وي
پاړوګان د منګرو د لاسه مړۀ شي

کۀ د سرو زرو کنډول د زهرو ډک کړې
نۀ به شات نۀ به نبات نۀ به اوبۀ شي

نغاره شي نظاره شي پۀ عالم کښې
چې د زړۀ خبره هر کله پۀ خلۀ شي

صبر ښۀ وي خو تر وسه او تر حده
اخر وځاځي چې اوښکه پۀ لېمۀ شي

د **توراج** خاکسار ساده ساده خبرې
غم ښۀ نۀ وي کۀ پۀ زړۀ کۀ پۀ کالۀ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

څوک چې وکړي د الله پۀ قرآن کبر
لکه وکړي چې پۀ عرش او ميزان کبر

کۀ پۀ ما کبر کوې جانانه خبر دے
هميشه کړي پۀ عاشقو خوبان کبر

چې هر څوک کبر کوي فخر پرې هم کړي
اخر وارېږي پۀ هغه انسان کبر

څوک به څۀ ګيله د نورو خلقو اوکړي
پۀ ګلونو چې کوي بُلبلان کبر

زۀ **توراج** هميشه دا سوال او دعا کړم
ربه وا مۀ ړے پۀ ما د ايمان کبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

بس يو الله دے چې قائم دے همېشه پۀ يو حال
پۀ غرونو راشي د سوکړو او د اورونو زوال

د دريابونو چينې هم اوچې شي زور ئې کښېني
شمس هم رڼا تته کړي ، تت ښکارېږي ، تت شي هلال

څوک پۀ محل کښې د رېښمو پۀ بستر اودۀ وي
پۀ چا راڅاڅي راپرېوځي ګوڼ خوړلے چوپال

د چا د کور لارې کوڅې وي پۀ ماربلو پخې
د چا د کور د پناييۀ نۀ وي د خټو دېوال

څوک لېونے شلېدلې غاړه ببر سر منډې وئ
څوک دانشور د زمانې کړي ورله ورکړي کمال

څوک د پُلاؤ مجمې پۀ لتو وهي مخ ترې اړئ
توراجه څوک سرۀ روټۍ غواړي د بل نه پۀ سوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چې د سر شال ئې پۀ خالونو پرېوځي
لکه چې تندر پۀ ګلونو پرېوځي

دا پۀ بلۍ ئې سرۀ لاسونه اېښي
کۀ سرې لمبې پۀ دېوالونو پرېوځي

باد ئې اوربل پۀ اننګو خوروي
کۀ تور پتنګ پۀ مشالونو پرېوځي

پۀ سر ئې سپینه لوپټه رپېږي
کۀ سپینه واوره ده پۀ غرونو پرېوځي

بام ته چې ګوري ګام ته پام نۀ کوي
هغه اکثر د ګړنګونو پرېوځي

چې ننګ او پت نۀ پالي سود پسې ځي
هغه ملګري د خیالونو پرېوځي

حسن پرست زړګي برباد کړو **توراج**
اثر ئې څکه پۀ شعرونو پرېوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قطعه

پهٔ خپله خوښه چې شپبه باران ورولے نهٔ شي
وريځې ستا د کلرونو صفت څهٔ له اوکړم

ما اوربدلي چې فردوس د عابدانو ځائے دے
زهٔ ګنهنګار طمع د هغه جنت څهٔ له اوکړم

قطعه

د ګلو لخته د سبا پهٔ پرخه نهٔ کرېږي
څو چې پښپلو سرو غوټو باندې سمسوره نهٔ وي

د تاريخ پاڼه ده د هر مشر د خلې خبره
کنډرې نهٔ کيږي چې غل د چا د کوره نهٔ وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قطعه

سیورے مې پۀ کاڼو باندې مۀ اوله
چرته به اختر کښې درته غاړه شم

چک دې راله خال پۀ اننګې وران کړو
څۀ به وېمه مور ته چې اوس لاړه شم

قطعه

دلته د وَس خلق د خېر طرف ته ګام ناخلي
بې وسه شته خو څوک ئې خېر خېرات کښې نام ناخلي

دلته د وخت پۀ فرعونانو د چا وَس نۀ رسي
د چا چې وَس رسي هغه ترې انتقام ناخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د پښتونخوا د مېړنو لارې به څوک اونیسي
د دین اسلام د ننګیالو لارې به څوک اونیسي

څوک چې ځان وژني د لښکرو نه مخ نۀ اړوي
سر چې پرې ږدي د لېونو لارې به څوک اونیسي

مالک د عرش پۀ موسمونو کښې بدلون راولي
د بهارونو پسرلو لارې به څوک اونیسي

لا خو خالد بن ولید د یاده وتے نۀ دے
د دین سر تېرو د جذبو لارې به څوک اونیسي

د زمانې پۀ ابرها د زوال غر خو اوکړئ
د ابابیلو د حملو لارې به څوک اونیسي

د جنګ بدر د تاریخ پاڼې لا ورکې نۀ دي
د ملائیکو د راتلو لارې به څوک اونیسي

توراجه زر به راوړي رنګ د شهداؤ وینې
د رب **جلیل** د فېصلو لارې به څوک اونیسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

هغه چې تلي هغه دې عالم ته نهٔ راځي اوس
باد شوې خاورې دي ، واپس قدم ته نهٔ راځي اوس

هغه شلېدلي لوپټه اوس د ګلونو شال شو
ببو پهٔ سر کړو د خوارانو چم ته نهٔ راځي اوس

زما د مرګ زېرے پرې اوکړئ چې خوشحاله شي يار
د خندا ډکه خلهٔ زما ماتم ته نهٔ راځي اوس

پهٔ تېر ساعت پسې اکثر منګولې مروړي مچان
شات ئې خوراک شو د چشمانو نم ته نهٔ راځي اوس

توراج پهٔ خپله ګناه نهٔ پوهېږي اووايه ځار
ولې دې خيال زما د زړهٔ حرم ته نهٔ راځي اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ختم شو پۀ هر وطن عزت پۀ ټوقو ټوقو کښې
لاړو د هر چا نه شرافت پۀ ټوقو ټوقو کښې

بد ، دهوکه ، فرېب اوسنے خلق سیاست ګڼي
خور پۀ هر یو کور شو سیاست پۀ ټوقو ټوقو کښې

زور منافقت شو درغلي د هر چا خوښه ده
ختم درغلۍ کړو صداقت پۀ ټوقو ټوقو کښې

ډېر شو مال دولت خو پۀ حرامو خلقو جمع کړو
پورته شو ترې ځکه برکت پۀ ټوقو ټوقو کښې

لاړه پښتو لاړه د حیا وختونه ختم شو
هېر کړو اوسنو خلقو غېرت پۀ ټوقو ټوقو کښې

څوک چې د خپل شرم او حیا عزت پرواه نۀ کړي
اوګټو هغې خلقو دولت پۀ ټوقو ټوقو کښې

ډېر ئې هسې اوري عاقلان به ترې مطلب اخلي
ودې وې **توراجه** حقیقت پۀ ټوقو ټوقو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

په ګلونو کۀ خزان د ګلزار نۀ وے
بلبلان به همېشه په چغار نۀ وے

معشوقو کۀ بې منته ياري کولے
عاشقانو به نيولے رېبار نۀ وے

هر عاشق به معشوقې سره پخلا وۀ
کۀ په مېنځ کښې ئې رقيب چغل مار نۀ وے

دې رباب به بيا د خوند خبرې نۀ کړې
کۀ په غېږ کښې د هوښيار استکار نۀ وے

زۀ به هره ورځ ديدن له د دلبر تلم
کۀ په دام د ببلتانۀ کښې ايسار نۀ وے

ما به ولې همېشه ژړا فرياد کړو
کۀ مې سرې سترګې ليدلې د يار نۀ وے

غېر غمازو به خندل درپورې ولې
بې وفا کۀ دې **توراجه** دلدار نۀ وے

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ډېر زما پهٔ مخکښې د مخونو حال بدل شو
وینمه اکثر چې د وختونو حال بدل شو

زړونه د صادقو مینو ډک وو مینه مینه وه
اوس خو میني نشته دے د زړونو حال بدل شو

وخت کښې د مېوو به خلق غرونو ته مېوو له تلل
سمو ته مېوې راغلې د غرونو حال بدل شو

تل به د ورخارو کتوې ګل پهٔ دېوالونو وې
جوړې شوې بنګلې د دېوالونو حال بدل شو

اوس خو صحراګانې د سکون مقام ګڼلے شي
تور شو پهٔ لوګو د محلونو حال بدل شو

زهٔ **توراج** به ولې خفه نهٔ یمه دا څهٔ اوشو
شاړې شوې حجرې د محفلونو حال بدل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پهٔ کلي کور کښې بدنامېږي پښتنې جينکۍ
زهٔ وېم چې ولې رسوا کېږي پښتنې جينکۍ

موبائل د ملک د جينکو د مرګ سبب جوړ شو
د ورور او پلار پهٔ لاس قتلېږي پښتنې جينکۍ

داسې خو سپي څوک د کمر نه ښکته نهٔ غورځوي
څنګ چې کمرو نه غورځېږي پښتنې جينکۍ

يا خو ئې مړه کړي يا ئې ورکه کړي د خپل کلي نه
اکثر ښارونو کښې خرڅېږي پښتنې جينکۍ

زمونږ د ملک د خونړي نظام به څهٔ صفت کړم
لکه د چرګو حلالېږي پښتنې جينکۍ

دا کوم قانون دے کوم انصاف دے مظلومانو سره
چې د حصو نه محرومېږي پښتنې جينکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مړے ئې ورور اوکړي او خور ورله سوره کښې ورکړي
خالقه دې له پېدا کیږي پښتنې جینکۍ؟

قاتله تهٔ چې ددې کوم رب نه جنت غواړې
سبا به دې رب ته ژړیږي پښتنې جینکۍ

رب به قاضي وي د ذرې ذرې حساب به کیږي
کریم الله ته به پېش کیږي پښتنې جینکۍ

د جهالت تورې تیارې **توراجه** ورکې نهٔ شوې
چې راخوریږي ترې ویریږي پښتنې جینکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

خاورې خو ئې خاورې کړم خو ښې راباندې څۀ له ږدي
خلق ښې د قبر د ډېرې دپاسه نۀ کېږدي

ټول عالم پۀ اوښکو ژاړي ما پۀ وينو اوژړل
خود پۀ وينو ژاړي پۀ بې ننګو چې څوک زړۀ کېږدي

مۀ وايه چې چپ شه زړۀ مې ژاړي څنګه چپ شمه
هله به شم چپ چې عزرائيل مې لاس پۀ خلۀ کېږدي

اوښکې مې پۀ چپه خلۀ د زړۀ رازونه وستائي
اوبهېږي وخاخي چهاپونه پۀ لبمۀ کېږدي

زړۀ نادان مې غواړي هغه تېر وختونه تېر عمر
وتې جنازه به قدم څۀ رنګه پۀ ورۀ کېږدي

څۀ اوکړي **توراج** خپلې نېکۍ پرې تهمت پورې کړو
بې بدو بدنام شو پۀ بدنام به زړۀ څوک څۀ کېږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د امن زنځیرونه د ستم پهٔ چړو شلیږي
چې چرته وي ګلونه هلته سرې لمبې بلیږي

د خان ساتلي سپي باندې څوک ډز کؤلے نهٔ شي
زمونږ د دروازو دننه هر څهٔ تالا کیږي

منم چې هتکړۍ شته خو د خوارو لاس ته لګي
قانون هم دلته شته خو پهٔ پیسو باندې بدلیږي

زمونږه د ملت هره کوڅه قصاب خانه شوه
بې وسه مظلومان لکه د چرګو حلالیږي

د دغې خونړي نظام به څهٔ ستائېنه اوکړم
زمونږ د توپخانو ګولۍ پهٔ مونږ باندې سړیږي

خالق د کائنات هم د قدرت پهٔ سترګو ګوري
کاسې د کبر ډکې شوې چې کله به توئیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرده د سنېما ده شاته ئې سرۀ اورونه بل دي
ددې خاورې سرتور لېوني هم پهٔ دې پوهېږي

د ظلم انتها ده انتها ته رسېدلې
شپېلۍ د اسرافيل خالقه کله به غږېږي

توراجه بس پهٔ دغې فېصله ده نور څۀ نۀ وېم
دا وينه د پښتون ده پهٔ ډالرو چې خرسېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د چا پۀ کلي کښې منګے او ګودر پاتې نۀ شو
د چا پۀ چم کښې د يادونو کنډر پاتې نۀ شو

زما پۀ کلي کښې منګے او ګودر هغسې دے
اختر راځي خو پکښې خوند د اختر پاتې نۀ شو

ذرې ذرې قطرې قطرې پۀ وينو سرۀ لاشونه
خو پښتنو نه پېښور او خېبر پاتې نۀ شو

چې د اغيار پۀ سترګو ښۀ نۀ لګي داسې ګل دے
نوم ئې کوکنار دے چې پۀ سمه او غر پاتې نۀ شو

چې پرې د يار د مخ او ګل د مخ پهچان کېدلو
پۀ هغه سترګو کښې طاقت د نظر پاتې نۀ شو

چې به ئې خفه زړونه خوشحاله کړل پۀ تشه خندا
اوس د خوبانو خلۀ کښې هغه اثر پاتې نۀ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

آئینه خړه شوه کۀ زۀ د زوال نخښبه شومه
چې پهٔ وطن کښې مې د لارې رهبر پاتې نۀ شو

وائې **توراج** چې اوس به څۀ ذخیره جوړه کړمه
امن مې ورک شو څوکیدار مې د ور پاتې نۀ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

هغه بلبل نۀ وي چې ګل وي د ګلزاره اوځي
ښکلي چې خپل کلے پرېږدي د ځۀ دپاره اوځي

اسمان پۀ ګټو ويشتے نۀ شي دا متل شوے دے
د بسم الله اواز به څنګه د ستاره اوځي

مالدار د هر کلي د سيمې د جرګو مشر وي
غريب سړے اکثر پۀ خپل چم کښې د شماره اوځي

مثال د هغه چا قائم شي چې همت نۀ بائېلي
د کار سړے چې همت اوبائېلي د کاره اوځي

هرګز دولت او غربت نۀ پټېږي پته ئې لګي
د بچو پلار وي خو خالي لاس د بازاره اوځي

ځۀ خو به وي چې پۀ ازغنو لارو تګ کؤمه
هسې به څنګه څوک پۀ خبر صلاح د ښاره اوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله د شاه او د ګدا هډو پرواه نهٔ کوي
د بادشاهانو جنازې هم د درباره اوځي

ما وې چې هر امير دې هر فقير له مينه ورکړي
ډېرو وې نه **توراجه** دا به ملک کښې لاره اوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

مۀ څه پښې بربنډې د انګار او د ازغو پۀ سر
نۀ جوړيږي کلي د هوا او د اوبو پۀ سر

چرته چې غربت وي هلته ټوله مينه مينه وي
شر او شدت کيږي د جائيداد او د پيسو پۀ سر

خور اخلي پۀ زور حصه د ورور نه پۀ تاڼه تحصيل
ختمې وروروليۍ شولې د پولو او پټو پۀ سر

خورې وي کلے کور خو د پيغور پۀ وجه پاتې شي
ځان پښتانۀ وژني د پيغور او د پښتو پۀ سر

کوم ځائے چې د مشر او د کشر تميز نۀ کيږي
هلته کښې مدام سرونه مات وي د وړو پۀ سر

تېر شول داسې ډېر چې ئې پۀ ډېرو ځان اوچت ګڼو
اوس ئې مرغۍ ناستې دي د قبر د خزو پۀ سر

چاسره **توراجه** چې احساس د بل د اوښکو وي
اوښکې به ئې تل داسې بهيږي د بنو پۀ سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ملا نه د کرسۍ او سیاست خبرې اورمه
ربه زۀ به چا نه د عبرت خبرې اورمه

واعظ د جماعت هم پۀ ټپو سندرو سر شو
ما وې زۀ به ددۀ نه د جنت خبرې اورم

غرونه د جناتو شو ساحل د شمشتو شولو
د ښار د ښائستوو نه د نفرت خبرې اورمه

سپرلے زمونږ پۀ ډډه باندې نۀ راځي سوکړه ده
خزان خزان نعرې دي د ذلت خبرې اورمه

پرون چې ئې پۀ جام د مظلومانو وینې څښلې
هغې خلې نه به څنګه د شفقت خبرې اورمه

زمونږ پۀ خاوره راج د دهشت ګرد، سرمایه دارو
د خلو نه ئې مدام د بغاوت خبرې اورمه

توراج وائې تاریخ د لوړو تندو ژوندے شوے
د ملک پۀ هره سیمه د غربت خبرې اورمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

تېر ئې شو دوران د تېرو ښکلو منظر اوګوره
څه کنه د خلو نه ئې څهٔ خبر او خبر اوګوره

هر څهٔ له زوال دے پهٔ یو حال دے لایزال زما
اوچې شي چینې د دریابونو اکثر اوګوره

سوکه د غر دنګه وي خو هر څوک ترې پهٔ ډډه ځي
خوار عاجز امام پسې د کلي لښکر اوګوره

اور دے زورور خو سر ئې لاندې څهٔ پرې باندې وي
چاته بلندي نصیب ده شمس او قمر اوګوره

کټ د جنازې پسې ژړا کیږي سندرې نهٔ
اوږد دے سفر ځان له د لارې رهبر اوګوره

ویخ دې کړه ضمیر او تعصب د منځ نه لرې که
لږ خو راته یاره د احساس پهٔ نظر اوګوره

شل ځله توراج خاکسار مبلمه کړه ستا پرې څهٔ لګي
خورې سره روټۍ ورله شلېدلې بستر اوګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

بادشاهان کهٔ فقیران کهٔ امیران دي
دغه واړه د عقبا پهٔ لور روان دي

چې هر څوک وائي چې دا زمکه زما ده
پهٔ اسمان کښې فرښتې ورپورې خاندي

هغه مال چې سبا بل ته پاتې کیږي
نن سګه ورونه پرې یو بل سره وران دي

نادانان اکثر پردي عیبونه شماري
عاقلان پهٔ خپلو بدو نظر کاندي

د **توراج** **خاکسار** ساده ساده خبرې
دانشور د زمانې ورته حېران دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

زما پرې ستا مینه ماتیږي تصویر څۀ له وړې
د رقیبانو خوا سړیږي تصویر څۀ له وړې

سبا به دې تصویر له دلته کښې لیدو له راځې
ځواني دې ورځ پۀ ورځ زړیږي تصویر څۀ له وړې

پۀ تېر ساعت پسې ارمان کړے دے ډېرو خلقو
لکه زعفران دې رنګ زیړیږي تصویر څۀ له وړې

چې د روتۍ وږے او خوب وږے وي موړ شي اخر
د دیدن وږے نۀ مړیږي تصویر څۀ له وړې

ستا د کوڅې ورخاړي ګل شو ما ترې ولې شړې
دغه ګلونه به دوړیږي تصویر څۀ له وړې

سپوږمۍ د ببرې سر له راغله یاره راشه کنه
توراج تنها تنها ژړیږي تصویر څۀ له وړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د لېونۍ د زنې خال شومه ښائست مې ورک شو
د زوړ زړوکي پۀ مثال شومه ښائست مې ورک شو

غربت مې اور پۀ صفتونو باندې ولګوۀ
د يو مزدور د کور دېوال شومه ښائست مې ورک شو

رنګيني شته خو زۀ هغې اړخ ته تلے نۀ شمه
بس د ډېران د ببرې ټال شومه ښائست مې ورک شو

لکه چې ونه اره کيږي يا څاروے حلال شي
داسې د وخت پۀ تبغ حلال شومه ښائست مې ورک شو

چې نۀ رکوع او نۀ سجده پکښې قبليږي د چا
زۀ هم هغه وخت د زوال شومه ښائست مې ورک شو

څنګ به مقبول شي ګداګر پۀ کائنات کښې د رب
ګوته پۀ خلۀ پۀ خپل سوال شومه ښائست مې ورک شو

ځواني خاني وه د **توراج** خو لاړه تېره شوله
اوس خړ سېلاب د پشکال شومه ښائست مې ورک شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

زلزله کلے ورانوي قبرونه نۀ ورانوي
مينه کۀ ډېره شي خو بيا هم زړونه نۀ ورانوي

پۀ ما مئېنه دروغ مۀ وايه راغلے نۀ ئې
پرخه د شپې د چا د پښو پلونه نۀ ورانوي

نرۍ پرۍ وه غونډه مونډه وه راښکته نۀ شوه
بادِزمبور ئې د سپين مخ خالونه نۀ ورانوي

ناکام پکار وي سوچ پکار وي د افسوس نه مخکښې
ناکام د امن توان لري کورونه نۀ ورانوي

زر کۀ زاړۀ شي کۀ وراستۀ شي قيمت نۀ غورځوي
باران پرې اوري خو د **ګل** رنګونه نۀ ورانوي

مطلب مې دا دے ماله خپله سادګي ښه ده بس
د چا قلم دې د **توراج** لفظونه نۀ ورانوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پوهېږم نۀ چې راته ولې خفګان لارې نیسي
زۀ پۀ بهار پسې ځم ماته خزان لارې نیسي

چې مې د زړۀ پۀ کور کښې کور ورکړلو ناز مې پرې کړو
د مرګ دپاره راته هغه جانان لارې نیسي

دا یو رواج شو کۀ نظام د زمانې بدل شو
چې د نېکۍ بدل کښې بدې یاران لارې نیسي

پښوا به ښکلو ته ساتلې خلقو لارې کوڅې
اوس د پېسو دپاره ګوره خوبان لارې نیسي

کلې کښې نۀ پرېږدي څوک خوب ته د الفت لېونې
څۀ اوکړي خود به د صحرا بیابان لارې نیسي

یو حېوان بل حېوان ته نۀ نیسي **توراجه** لارې
ټوپک پۀ لاس ولې انسان ته انسان لارې نیسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

بلبل ته ګوره خاندي ګل ته د ازغو پۀ مینځ کښې
پتنګ لمبې ښکلوي سوزي د لمبو پۀ مینځ کښې

جانانه راشه چې بانېۀ درته لوګے کړمه زۀ
نن دي خندا وځلېده د اننګو پۀ مینځ کښې

هغه زړګے چې د اشنا پۀ جدایۍ خفه وي
نۀ خوشحالیږي د دنیا د تماشو پۀ مینځ کښې

ګوره صحرا ته د سرتورو لېونو ډکه ده
لېوني نۀ کوي استوګنه د بنګلو پۀ مینځ کښې

څوک ملامته ځان ګڼي نۀ، رسوائي نۀ مني
خود به مني چې ملامت شي د جرګو پۀ مینځ کښې

چاته د یار بوسه ازغي شي ښکلوے ئې نۀ شي
چا بختورو ته بوسه شي د اوګو پۀ مینځ کښې

توراجه ځان دي نابینا کړو دا پۀ تا څۀ اوشو
چې مصلحت کوې د لارو د کوڅو پۀ مینځ کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ړوند به څنګه د بینا مقام ته رسي
ګډه کله د اس ټوپ او ګام ته رسي

نصیحت نهٔ وائي دې ته چې دې مړ کړو
اشارې د نصیحت ناکام ته رسي

څوک آیات مبارکه پهٔ شونډو ښکل کړي
د چا شونډې د شرابو جام ته رسي

داسې ده چې څهٔ کړې هغه به رېبې
ډېر پهٔ بدو چارو بد انجام ته رسي

نهٔ اجل د چا معاف شوے نهٔ به معاف شي
ازمري هم کله دام ته رسي

یوه شپه کهٔ شي اوږده اخر سبا شي
اوږده ورځ هم عاقبت ماښام ته رسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلۀ د بوټو او د غرونو پناه کیږي
د ورخاړو کټوې ګوره بام ته رسي

بیا به نۀ وے چې دا څۀ دي او دا څۀ وئ
کۀ دې ذهن د **توراج** کلام ته رسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ړاندۀ څۀ کړي ښکلاګانې مشالونه
لیوني څۀ کړي سپرلي او اخترونه

بعضې وینه د بخښنې سبب جوړ شي
بعضې وینه شي نفرت او تهمتونه

رېحان زوړ شي خو نۀ پېړ شي او نۀ خوړ شي
انګور پټ کړي دېوالونه ، محلونه

د اوښانو پۀ شا ډېر سېلونه کیږي
لېکن نۀ ټوکې ورخاړې پرې ګلونه

د خټکو غرونو شنۀ سپېلني وچ کړل
زما اوښکو دي شنۀ کړي ستا خالونه

د تیراه د بنګو پاڼې قیمتي شوې
زما مینې ماته جوړ کړل فسادونه

زر پۀ چپه خلۀ خپل ځان خرخ کړي **توراجه**
آئینه پۀ خاموشۍ ستائي مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

تعلیم علم پیدا کئ دشمني ولې؟
ښکلي وژني د دیدن لېوني ولې؟

د خوبانو سره داسې نۀ ښائیږي
پۀ غرګو ولي سرتور لېوني ولې؟

بې وقوف د زمانې تاواني ښۀ دے
دانشور شول دا اخر تاواني ولې؟

پۀ باران باندې ګلونه زرغونیږي
زمونږ زمکه وچوي سپېلني ولې؟

توراج بې بدو بدنام شو نېک نام نۀ شو
جفاکار ئې شول یاران اوسني ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

تېره مې ځواني شوله زوال ته رسېدلے یم
حال چې د چا بد وي هغه حال ته رسېدلے یم

ټیک ده چې لا علمه یم د ښار نه لرې اوسمه
زۀ پۀ لاعلمۍ کښې خپل کمال ته رسېدلے یم

پروت یمه تنها لکه ماشوم هلال رانیسمه
ګورمه سما و ته هلال ته رسېدلے یم

دلته پۀ قیام بره د عرش پۀ فرشتو نظر
نۀ راځي چې خیال ته هغې خیال ته رسېدلے یم

یا به دیدن اوکړم یا به مړ شم پته نۀ لګي
اوس د لېونۍ د کور دېوال ته رسېدلے یم

مینه مې **توراجه** پۀ نادان زړګي غالبه شوه
ځکه د ثواب پۀ ځائے وبال ته رسېدلے یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د ایمان او د اسلام پۀ برکت
معطر شوم د خالق پۀ معرفت

نصیحت د معلم ته محتاج نۀ یم
چې نظر کړمه پۀ ګور د ماهیت

دا د بل پۀ جنازه پسې چې درومم
ما دپاره بس دے دغه نصیحت

زۀ چې خپلو اندامونو ته نظر کړم
دا به واړه پۀ ما کاندي شهادت

چې سبا له د ثواب پۀ ځائے وبال شي
څوک به څۀ کړي د ریا پۀ عبادت

سرې سکروټې شي د اور یا جام د زهرو
بد عمل اخر سبب شي د ذلت

زۀ **توراج خاکسار** کۀ هر څومره پرهېز کړم
کړي ګفتار پۀ لاعلمۍ مې دلالت

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

هغه ګودر هغه چينه هغه چينار نۀ دے
چې د وطن د جينکو ورته قطار نۀ دے

کله د ګلو کر کؤم کله ازغي شيندمه
يار پۀ صفت او غيبت دواړو ګنهګار نۀ دے

سره شوې اوسپنه پۀ شونډو عالم نۀ ښکلوي
تهمت پۀ ښکلو د اشرافو خلقو کار نۀ دے

څۀ خو به وي چې پۀ ازغنو لاړو تګ کؤمه
هسې څوک نۀ ووځي د ښاره هر ځائے ښار نۀ دے

دلته بدرنګ د جهان ګرځي ملغلرې اخلي
بې ماله ښکلے د خپل سيورې خريدار نۀ دے

دغه دستور دے راروان د ابتداء نۀ داسې
عاجز سړے پۀ اولسي خبرات کښې شمار نۀ دے

کۀ د مالدار د خلې غزل وۀ د ستائېنې وړ وۀ
چې د **توراج** د خلې غزل دے مزېدار نۀ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ډېر خلق عمل ته ګوري مال او رنګ ته نۀ ګوري
درومي ليوني د چا ريښمين پالنګ ته نۀ ګوري

هغه ضميرونه هغه خلې به انصاف څۀ اوکړي
ستائي بلبلان پۀ شمع وريت پتنګ ته نۀ ګوري

پېغلې د سرو زرو د کالو حسن مغروره کړې
وخت خوشحالوي د مئېنانو ننګ ته نۀ ګوري

څنګه به سارۀ راوړي د وخت لمبه لمبه فضا
صلحه کړي د ټُورو د نيتونو جنګ ته نۀ ګوري

داسې طبيبانو لره زيرے کۀ رتښه ده
هائے افسوس پۀ دې دے چې د زړونو زنګ ته نۀ ګوري

ستا **توراج** به څنګه ستا پۀ کلي کښې خوشحاله شي
ستا د کلي ښکلي ئې کلام ګلرنګ ته نۀ ګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پۀ سپين مېدان د تور اوربل د تاله پرېوتمه
د يار د حسن وۀ کشش بدحاله پرېوتمه

کارغۀ د زرکې تلل کول خپل ترې نه څکه هېر شو
زما ځواني لاړه د خپله چاله پرېوتمه

د کال کچه انګور د ونې بره سر ته رسي
پۀ ما پيري راله د لنډ دېواله پرېوتمه

پۀ نېک نامۍ مې سښن§ کراماً کاتبينو اوکړو
غربت دې ورک شي د هر چا د خياله پرېوتمه

مرګيه مۀ راځه مخلوق ته لا محتاج نۀ يمه
هله راځه کۀ د خالق د سواله پرېوتمه

پۀ اشاره به کلمه د شهادت وايمه
وائي **توراج** کۀ نور د قيل وقاله پرېوتمه

§ - اصل لفظ سائن دے انګلش کښې دستخط ته وائي اولسي لهجه کښې سښن وئېلے شوے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

تا چې د جفا پهٔ لاسو څو وارې شلؤلے دے
ما درته هغه ګرېوان پهٔ اوښکو لوند نیولے دے

ظلم پهٔ مظلوم کؤل او مال پهٔ چالاکۍ وهل
نن پهٔ معاشره کښې هم هغه سړے ښاغلے دے

څهٔ به وېمه مور ته چې اوس کور ته داسې لاړه شم
خال د اننګې مې لیونې اشنا خوړلے دے

لاس د امیرانو بادشاهانو ورته نهٔ رسي
جنګ د لونګین مې پهٔ سینه د یار لیدلے دے

شور دے د نخترو د بادرو هوا پرې ځي راځي
هلته زما زړهٔ پاتې دے هاغه د یار کلے دے

تلل د فاسقانو فاجرانو به پرې اونهٔ شي
څکه چې صراط پهٔ سرو اورونو غوړېدلے دے

څوک چې ځان ته بر وائي **توراجه** بره تلے نهٔ شي
بر زما دلبر دے چې د عرش نه بره تلے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د مينې نوم پهٔ خلهٔ اسان ښکاري
ماته خو پت د مينې ګران ښکاري

هغه صحرا ته هېڅوک سېل له نهٔ ځي
چې پکښې ګل نهٔ وي زوزان ښکاري

هر څهٔ ته ګوري هر خوا مخ اړوي
عاشق ته هر څهٔ کښې جانان ښکاري

مرور يار راغے زمونږ کلي ته
د ژمي نمر دے قدردان ښکاري

متکبره رقيب غلے تېر شهٔ
پهٔ خوار سلام ورته تاوان ښکاري

چې پکښې رنګ د تربګنۍ خلېږي
هاغه دے هاغه محفل وران ښکاري

توراج پهٔ خپله ځان ته حشر جوړ کړو
هره لمحه ئې امتحان ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پۀ ښاریو کښې پۀ بنګلو کښې د ګملو ګلونه
ښکلي ترې ښکاري د صحرا د کارېزو ګلونه

د خوشبویۍ پکښې اثر نشته دے سترے به شي
کۀ بویوې تمامه ورځ د پرېرو ګلونه

تورو لوګو د ښاریو لمنې اونیولې
د غرو لمنو نه چاپېره د پلو ګلونه

د ښاریو پېغلې پۀ زلفو خوشبویۍ لګوي
د کلي پېغلې پکښې ږدي د کشمالو ګلونه

زمونږ د خړو کوڅو خړ ماشومان مینه مینه
کیږي پرې سود لکه چې وي د پسرلو ګلونه

پۀ تهمت رنګه یاره راشه تماشې له سبا
د پشکال ورخاړو اوکړل پۀ بلو ګلونه

توراجه رب به پسرلے پۀ وطن راولي بیا
یار له به ور کړمه کۀ خبر وي پۀ قودو ګلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

بیمار چې هر طبیب له ځي خبره ئې پال ته رسي
څوک چې د وخت سپېړې اوخوري نو کمال ته رسي

پۀ لوړو غرونو محلونو ګړنګونو تېر شي
چرچه د نمر هم تر ماښامه وي زوال ته رسي

د چا خبره "چې پردي راوړي نۀ خپلیږي"
مینه پرې زیان شي چې پرې ناز اوکړي جنجال ته رسي

غوړې شکرې خوري پۀ ملک کښې د خانانو لوڼه
بدقسمتي ده چې مچان د کونډې خال ته رسي

ګلِ صدبر هم اوچتیږي خو تر خپله حده
انګور خو نۀ دے چې به لس فُټه دېوال ته رسي

توراجه ستا غزل شبنم شو پۀ ګلونو باندې
اسم اعظم دې شي چې زړونه پرې هلال ته رسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ګوري اول مخ ته بیا طبیب کوي پۀ زړۀ نظر
نۀ پرېوځي یو ځائے پۀ کعبه او مېکده نظر

ټول عمر پۀ ښکلو لکه تور چې لګېدلے دے
صبر به شي ځنګه پۀ یوه توبه هغه نظر

ټال چې ځومره مخکښې منډه وئ دومره پۀ وروستو ځي
پاتې د پهچانه شو د یار نشه نشه نظر

نۀ درنه څۀ غواړم نۀ حاجت پوره کړلے شي
هسې راته ګوره کله لږ پۀ ښۀ نظر

ستا د بُت پرست نظر سجدې لات او منات ته دي
نۀ ګوري کعبې ته نۀ ئې سود شي پۀ کعبه نظر

والوتو شبنم د سرو ګلونو د سرونو نه
اور دے پۀ فضا کښې کنه ستا لمبه لمبه نظر

مړو ته **توراجه** سپېلني لوګے کوې ولې
بولي دې ساده خلق همېش له پۀ ساده نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د شمله دار پټکي د ول خبرې هېرې شولې
د سور پېزوان او د چارګل خبرې هېرې شولې

د اخترونو ښکلاګانې حسرتونو یوړې
هر څوک پردي پالي د خپل خبرې هېرې شولې

لاړو غربت راغے دولت مینه ئې اوخوړله
د کور ګاونډ او د بدل خبرې هېرې شولې

د تنهایۍ چغې خورې شوې پهٔ تمامه دنیا
اوس د اشر او د غوبل خبرې هېرې شولې

ګودرې شاړې شوې منګې مات شو موده اوشوله
پکښې د پېغلو د محفل خبرې هېرې شولې

هغه د ګټو ختو غټې حجرې خړې کوڅې
پکښې د غم ښادۍ د ټل خبرې هېرې شولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غټې خلقې جګې شملې د پښتنو ورکې شوې
د پښتو نورې داسې سل خبرې هېرې شولې

ستړګې پۀ کوم طرف کړې کړم چاته اوګورمه
مشران مړۀ شول د متل خبرې هېرې شولې

توراجه هېر شو داسې ډېر چې د هېرولو نۀ وو
خبر دے کۀ تانه د غزل خبرې هېرې شولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پېغله پښتنه ده چې د چا پۀ نام ولاړه ده
کبر له زوال دے پۀ اړولي جام ولاړه ده

سحر کۀ جادو دے مینه دومره تاثیر نۀ لري
بیا پۀ انتظار کښې پۀ سکښې مابنام ولاړه ده

ورور به ئې قاتل شي پښتانۀ رسوائي نۀ قبلئ
دا شوه د اجل مرغۍ پۀ سر د دام ولاړه ده

نۀ مني سوالونه خودداري پکښې راغلې ده
ګوته د ملا شوه پۀ الف او لام ولاړه ده

څنګه به ترې مخ واړوې څنګه به انکار اوکړې
مینه د **توراج** لکه سپوږمۍ پۀ بام ولاړه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

بدحاله ناست ووم مازیګر وۀ چې غزل مې لیکۀ
د ژمي ورځ وه لوئې اختر وۀ چې غزل مې لیکۀ

د ژمي ورځ وه او یخ باد وۀ او باران وریدو
زما یو زوړ څادر پۀ سر وۀ چې غزل مې لیکۀ

د قربانۍ ورځ وه زمونږه کره غوښه نۀ وه
د اوښکو ډک زما نظر وۀ چې غزل مې لیکۀ

نۀ مې پېسې پۀ جیب کښې وې نۀ مې جامې ښکلې وې
د لیوني مې حال بتر وۀ چې غزل مې لیکۀ

ما چې ماښام روټۍ خوړه نیا مې لاونډ پوخ کړے
زړۀ نه مې یو الله خبر وۀ چې غزل مې لیکۀ

پلار مې پۀ جېل کښې ترۀ پۀ جېل کښې د غربت دور وۀ
ماما زما د ژوند رهبر وۀ چې غزل مې لیکۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هر څۀ قات وۀ خو ځواني راسره ښۀ نعمت وۀ
نۀ مې وطن نۀ مې ټبر وۀ چې غزل مې ليکۀ

توراج خاکسار پۀ جار د سترګي ژوند قيصه وکړله
پۀ ډوبېدو د ژمي نمر وۀ چې غزل مې ليکۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ستا خالونه ښکلاګانې ستا د ژوند دي
خو کتل دې د قانون ځنې پابند دي

شنۀ طوطيان پۀ شاهانه محل کښې ګرځي
ښاپېرک جمله شجر سره زوړند دي

د منګي خوله پۀ برغولي باندې پټه
ماشومان اودۀ پۀ غېږ يا پۀ مړوند دي

د حباب پۀ سر ګلان کرلے نۀ شي
ماليارن کۀ ئې هر څومره عقل مند دي

پرې ګواه ده د عالم او قلم ژبه
"دوه رخساره دې دوه سېب د ثمرقند دي"**

داسې قد و قامت اوس نيشته **توراجه**
چې تر **سدرُالمنتهىٰ** پورې بلند دي

**- دا طرحي کلام د رحمان بابا پۀ مصرعه ليکلے شوے دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاربېتې

او

سندرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سندره

چې لوپټه دې بدلوي رنګونه
زۀ دې پۀ ژبه اعتبار څنګه اوکړم
زما د عمر کاروان نۀ اودرېږي
ستا د وعدې انتظار څنګه اوکړم

ماته يوه کړې بل ته بله جانانه داسې کوې څله
سبا به خاندې راسره وختونه
پۀ صداقت دې اقرار څنګه اوکړم

عاشقي بې نشې نشه ده مينه د اوره کمه نۀ ده
چاپېره تاؤ شو رانه سرۀ اورونه
پۀ سرو لمبو کښې قرار څنګه اوکړم

پۀ تهمت رنګه ياره راشه زما د زړۀ پۀ حال اګاه شه
ورخاړو اوکړل پۀ بلو ګلونه
بربد پۀ سپرلي او بهار څنګه اوکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

وطن کعبه ده مخ ترې ناوړي   څوک به خبر د جانان راوړي
د کاڼو سخت دي د خوبانو زړونه
زۀ پرې زور بېږم ازار څنګه اوکړم

پښتو مې ژبه پښتو وایم   زۀ د پښتو محفلې ستایم
خوارۀ خوارۀ دي د **توراج** شعرونه
د حقیقت نه انکار څنګه اوکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سندره

لګي خوارۀ بادونه ، ښائسته بهار دے
شکر دے بیا دے سپرلے ، وطن ګلزار دے

ځي په خندا خندا ، جونه د کوره
تازه ګلونه شوکئ ، رېباره ګوره
جوړ د حسینو پېغلو ، اوړد قطار دے

د هرې پېغلې په سر ، د ګلو شکور وینمه
د خوشحالۍ ورځې دي ، دور ئې نور وینمه
د رنګا رنګ ګلونو ، موسم تیار دے

پېغلې جوړه جوړه ځي ، په لار ملګرې
په سُرکو شونډو وائي ، د خوند سندرې
په بیابان جوړ شوے ، مینا بازار دے

رب دي آباد لري ، چرې دې وران نۀ شي
داخل دې هیڅ کله پرې ، سپېرۀ خزان نۀ شي
خړ ګنډېرے **توراج** ته پېښور ښار دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

سندره

ځوک ئې په ځښلو نۀ مړیږي
زمونږ د کلي اوبۀ په نورو کلو تقسیمیږي

زمونږ د کلي په شان کلي په پښتونخواه کښې نشته
لارې کوځې اوبۀ ئې ښکلې ګردې فضا کښې نشته
خوا کښې ئې غټ جینډے بهیږي
زمونږ د کلي اوبۀ په نورو کلو تقسیمیږي

زمونږ په کلي کښې نیستي وه خو ځوک پرې نۀ وو خفه
ځۀ عجیبه عزیز والي وه بل ئې نیتونه صفا
تاریخ ئې نمر غوندې ځلیږي
زمونږ د کلي اوبۀ په نورو کلو تقسیمیږي

زمونږ د کلي توتان د شاتوتانو نه اوږدۀ دي
تور کړکړي اینځران د سرو املوکو نه خوارۀ دي
پرې نعمتونه راوریږي
زمونږ د کلي اوبۀ په نورو کلو تقسیمیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ د کلي دېوالونه دي پۀ ورخاړو ښائسته
هم د ګنو غټ ټلونه بوټي د جاړو ښائسته
تورې مچۍ پکښې بنېږي
زمونږ د کلي اوبۀ پۀ نورو کلو تقسيمېږي

پۀ مانسهره به ئې ورنۀ کړم ډېر مې د کلي خوند دے
مالم جبه کالام به څۀ کړم ښۀ ترې زمونږه ژوند دے
خوشحاله ژوند پکښې تېرېږي
زمونږ د کلي اوبۀ پۀ نورو کلو تقسيمېږي

زمونږ ددې جيندي مهيان کړل طبيبانو جارو
ورله راځي غټ غټ خانان د مرضونو دارو
کبل کښې ئې غوا مېښې څرېږي
زمونږ د کلي اوبۀ پۀ نورو کلو تقسيمېږي

علي خان دلته زېږېدلے زمونږ نېکونو به وې
دې قبرستان کښې شته دے ښلےکوي پرې خلق دعوې
پۀ ګوته نمر کله پټېږي
زمونږ د کلي اوبۀ پۀ نورو کلو تقسيمېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هشتنغر بره حصه ده د ګنډېري اړخونه
هم ئې تاريخ هره کوڅه ده تېر پرې بلها مخونه
قومونه ډېر پکښې اوسېږي
زمونږ د کلي اوبۀ په نورو کلو تقسيمېږي

زمونږ د کلي اخترونه د محبت نه ډک دي
دا د **توراج خاکسار** شعرونه د حقيقت نه ډک دي
ځکه د سرو په نرخ بدلېږي
زمونږ د کلي اوبۀ په نورو کلو تقسيمېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاربیته

ته به وفا ګورې پۀ یار کښې
هغه به ستا د سر قصاب جوړ شي
دهوکه به اوکړي پۀ اعتبار کښې
خپله نېکي به دې عذاب جوړ شي

ته به وے دا زما د مینې یار دے
هغه به بل طرف ته ګام اېښے وي
د بې وفاؤ اکثر دغه کار دے
درته به ئې پټ د تګی دام اېښے وي
پۀ اوسنو یارانو څۀ اعتبار دے
کۀ درته لاس ئې پۀ کلام اېښے وي
دهوکه ئې خېژي پۀ روزګار کښې
اصلي دلال ترې د پنجاب جوړ شي

اصلي اشنا پۀ اصلي غرونو کښې وي
پۀ ښاریو کښې څوک وفا نۀ کوي
محبت بعضې بعضې زړونو کښې وي
د محبت پۀ ځائے جفا نۀ کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چا نظر پردي مالونو کښې وي
نظر په لوري د عقبیٰ نهٔ کوي
د سود پرستو په بازار کښې
د زیان به کله انقلاب جوړ شي

د زیان عادت نهٔ وهٔ قارون حبيث وهٔ
چې دشمني ئې د موسیٰ شوله
راج په عالم کښې د ښائسته بلقیس وهٔ
په یو کاغذ باندې رضا شوله
هغه د مصر د بادشاه قمیص وهٔ
چې د ړندو سترګو دعا شوله
چاته سکون اوشي په نار کښې
د چا د سر قاتل درياب جوړشي

د چا ارمان په دې جهان پوره شي
شونډې ئې بوسه خوري د اوګیو په مینځ کښې
ډېوټې په موت د سلېمان پوره شي
همسا ئې ژوند کړي د وېنو په مینځ کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شداد وې نن به مې ارمان پوره شي
جنت ته څم د دروازو پۀ مینځ کښې
روح ترې نه لاړ پۀ لویه لار کښې
مکان به ثنګه پۀ حباب جوړ شي

مکان به پاتې شي عقبیٰ له به ځې
مغروره نۀ شې پۀ دولت باندې
ورځ د جزا او د سزا له به ځې
یقین دې خاص کړه پۀ قیامت باندې
حساب کتاب له پاک الله له به ځې
توراجه پوئې شه حقیقت باندې
پۀ خیال قدم اېږده بازار کښې
خیال به دې هله انتخاب جوړ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاربيته

بې ننګه بې وفادلبره دا مې درته سوال دے
زما نه مۀ کړه ځنګ
پۀ باب د عاشقۍ کښې تهمتي شوم بد مې حال دے
يم تاپسې ملنګ

پۀ باب د عاشقۍ کښې مشهور شوم لکه قېس
پرې بۀ اوکړه باور
ستا مينه ماه جبينې شوه زما دپاره ډېس
ببېلم پرې مال او سر
اوربل دې الُول ټيک پرې رڼا کړي لکه ګېس
سرې شونډې دې صدبر
مزل دې د چار سالې پۀ سر کړے دې سور شال دے
نن ستا د ځوانۍ منګ

مزل مې د چار سالې راته مۀ ګوره هلکه
پۀ زړۀ به شي رنځور
زۀ يمه د محلت خپلو همزولو کښې ملکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څنګ نه مې شه دور
ته ئې چرته فقیر ځان له یاري اوګوره سپکه
اوس پوئې به شې ضرور
ځواني زما خاني ده نن مې دور د جمال دے
پۀ غاړه مې لونګ

ځواني به دې تالا شي بیا به ډېر اوکړې ارمان
زما پۀ شان به ژاړې
دستور دے د دنیا راځي بهار پسې حزان
پۀ سوال به هر څۀ غواړې
ګرځې د ژوندانۀ تیاروي درله چالان
یو ځل به کړه انغاړې
د کبر نه توبه کړه اخر کبر له زوال دے
پۀ خوارو کوه ننګ

د کبر پۀ محفل کښې نۀ کښېنم نۀ کبر ژنه یم
یرېږم د الله نه
نه زۀ د بعضې خلقو پۀ شان یاره دروغژنه یم
ریښتینې یم پخوا نه
دا ستا پۀ جدایۍ باندې اشنا ډېره غجمنه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

جدا ګرځي زمانه
يو ځي او بل راځي ددې دنيا د سرائے مثال دے
معافي غواړم د جنګ

يو ځي او بل راځي چې کله ده دنيا اباده
چليږي دا روزګار
خبر دے پاک الله د پټو زړونو د مراده
څوک نۀ دي خبردار
پرته راته اوږده لاره پۀ مخکښې د عقبا ده
کوم به پرې رفتار
ددې نه کۀ مخ اړوم **توراج** وائي وبال دے
غورځېږم د ګړنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاربيته

دا روغ صحت د مرګ نه مخکښې غنيمت اوګڼه
دغه ژوندون پۀ دې دنيا د خدائے نعمت اوګڼه

دغه ژوندون دے دې ژوندون کښې بد عادت مۀ کوه
د بدو خلقو بدکارانو حمايت مۀ کوه
سپينه جامه کښې د قرآن مخالفت مۀ کوه
توبه تائب شه خپل غلط کار دې غلط اوګڼه

توبه تائب شه د ګناه پېټې پۀ سر مۀ اوړه
د تنهايۍ کور له عمل دې د خطر مۀ اوړه
ورځ د محشر له پردے حق پۀ هيڅ هنر مۀ اوړه
بيا به خفه ئې دا کلام مې نصيحت اوګڼه

بيا به خفه ئې د خفګانه څۀ جوړېږي به نه
سوال به کوې خو د الله در کښې قبلېږي به نه
د جهنم ملَک پۀ تا باندې ترسېږي به نه
د ځانه نۀ وېم دا خبره حقيقت اوګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځان نه نۀ وېم د الله کلام ګواه دے پۀ دې
کۀ خېر او شر راځي بس وايه رب رضا دے پۀ دې
ورځ د محشر حقه ده جخت يقين زما دے پۀ دې
پۀ ژوندانۀ باندې ځان مړے د عبرت اوګڼه

پۀ ژوندانۀ الله رضا کړه د خپل ځانه وروره
رابطه کټ که مکمله د شېطانه وروره
د سفر لاره به دې مخکښې شي اسانه وروره
قرآن د خېر کتاب دے دې کښې خپل عزت اوګڼه

قرآن راواخله چې خبر شې د حالاتو نه تۀ
د زمانې د مخکښې وروستو واقعاتو نه تۀ
وائي **توراج** اوساته ځان د شرکياتو نه تۀ
مرګ ته نزدې شوې رانزدې ورځ د قيامت اوګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاربیته

مخ کښې مې سرخي د جانان سپورو ستغو کمه کړه
اوګوره طبيبه چې د څۀ سره به ښۀ شمه

اوګوره طبيبه زما لاس چې پۀ ما څۀ اوشو
پروت يمه بې تابه تاب مې نشته دے کړېږمه
زۀ چې يار ته ژاړم راته اوخاندي چې ښۀ اوشو
پانړه د لاله شوم پۀ نري شمال دوړېږمه
کوډې منترونه تعويذونه مې پۀ زړۀ اوشو
زۀ لکه بې موره ماشوم يار پسې ژړېږمه
ماته خپلې مينې د يار مينه محترمه کړه
مخ کښې مې سرخي د جانان سپورو ستغو کمه کړه

نشته دے ښنګل د اشنا څۀ باندې اودۀ شمه
اوګوره طبيبه چې د څۀ سره به ښۀ شمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشته دے رېبار چې مې د یار پهٔ حال خبر کړي نن
تلے نهٔ شم پهٔ خپله بېلتانهٔ بند کړې لارې دي
څوک به سوال جواب زما د خلې اشنا له ورکړي نن
خوب کښې مې لیدلي لېونۍ سترګې خمارې دي
اوښکې به مې اوچې څوک د مینې پهٔ څادر کړي نن
سترګې میرات مړې مې د زړهٔ نه وفادارې دي
پټو مشورو مې د زړګي راوېښه طمع کړه
مخ کښې مې سرخي د جانان سپورو ستغو کمه کړه

ژاړمه پهٔ سترګو خو پهٔ خوله وئېلے نهٔ شمه
اوګوره طبيبه چې د څهٔ سره به ښهٔ شمه

ژاړمه مدام لکه غلام دغه مې حال دے
حال چې د چا بد وي آ به څهٔ پهٔ ژوند خوشحاله شي
زړهٔ مې پهٔ چاړهٔ د بېلتانهٔ پهٔ لاس حلال دے
لعل جوهر دې ځار د یار د حسن د جماله شي
یو ساعت بغېر د یاره هر عاشق ته کال دے
کال څهٔ وي عالمه چې پرې اوړد لا د کاله شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

يم پۀ انتظار کۀ چا هوښيار خبره سمه کړه
مخکښې مې سرخي د جانان سپورو ستغو کمه کړه

وينم چې رقيب لکه غريب خوله خوله شمه
اوګوره طبيبه چې د څۀ سره به ښۀ شمه

وينم چې غمونه د عقبٰی راته پۀ غاړه دي
ټول عمر مې تېر شو د دنيا پۀ اداګانو کښې
شپې د بېلتانۀ زما پۀ شاړه پۀ ويجاړه دي
چرته به څوک وي چې به مې ياد کړي دعاګانو کښې
حشر او صراط راته پراتۀ پۀ مخکښې دواړه دي
رب د کائنات مې دې حساب کړي عابدانو کښې
طمع مې توراج وائي چې قطع د عالمه کړه
مخ کښې مې سرخي د جانان سپورو ستغو کمه کړه

غم د اخرت ته د حسرت ګوته پۀ خلۀ شمه
اوګوره طبيبه چې د څۀ سره به ښۀ شمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاربیته

کۀ دې پۀ توره شپه د سپینې خلې خبر راغے
زۀ به پۀ توره شپه نعرې کړم چې اختر راغے

زۀ به سر زېرے ورکوُم لحاظ منمه اشنا
دغه احسان به د رېبار پۀ ځان ورمه اشنا
پۀ انتظار دې د راتلو لارې څارمه اشنا
د محبت مې پۀ دماغو کښې اثر راغے

د محبت پۀ ملک کښې کیږي صفتونه زما
پۀ چغو سر دي د مئین زړۀ پرهرونه زما
د غم زده سترګو نه څي اوښکې رودونه زما
د پت اواز د جام د حوض کوثر راغے

د پت اواز غماز د ناز پۀ ساز چېړلے نۀ دے
عاشق پۀ مینه چا د کلي نه شړلے نۀ دے
سائل د سپینې خلې پۀ سوال خوبان رټلے نۀ دے
د یار لمن باندې د ړوند اشنا نظر راغے

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یار بوسه ئې ښکلؤله جنتي شو خلقه
چې انتظار ئې د دیدار کړو قیمتي شو خلقه
د شاه غلام د شاه پهٔ کور کښې تهمتي شو خلقه
پهٔ ښار د مصر سلطنت د پېغمبر راغے

پهٔ ښار غوغا شوه چې پهٔ اور کښې به سبا سوزي
خلیل د رب به پهٔ لمبو کښې یک تنها سوزي
نمرود وئېل چې به ئې هډونه خامخا سوزي
براه راست اور له خبر د رب اکبر راغے

اور شو ګلزار لکه فردوس کښې چې خلیل پروت وي
پهٔ هر یو کار کښې ناز او راز د رب جلیل پروت وي
توراجه څوک چې پهٔ اسره کښې د وکیل پروت وي
امداد ئې کېږي خامخا دا مې باور راغے

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاربېته

لېونۍ د ډېره خياله پۀ مخ خال ږدي
ژوند خراب به کړي د ښکلو عاشقانو
د رنځور پۀ شانې هر قدم پۀ فال ږدي
فال به مات کړي چې شي مشره د خوبانو

لېونۍ چې شي روانه زړۀ مې رپي
لکه رپي چې ماڼۍ پۀ زلزله کښې
ښنګه مخکښې چې امام وي وروستو صف ئي
داسې صف د سوېلو ئې پۀ بنګله کښې
اور چې بل شي معمولي مثال ئې تپ ئي
تپ د هجر مې عنوان شو پۀ ډوله کښې
سرې منګولې شاه دپاسه پۀ دېوال ږدي
پۀ دېوال ئې رڼائي د سرو لبانو

سرې منګلې د بلبلې پۀ اترنګو
پۀ اترنګو باندې سود کوي د شاتو
سپينه غاړه ئې کړه ډکه د لونګو
د لونګو سره مينه د بناتو
پۀ محفل کښې مسته ناسته د ګړنګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګړنګو حوا له تلل په ننواتو
عاشقان ورته ډالۍ د سر او مال ړدي
مال په لتو وهي لونه د شاهانو

عاشقان په يار د سر او ماله تېر وي
نۀ تېرېږي ئې طعام بغېر د ياره
عاشق هغه وي چې سود او زيان ئې هېر وي
هېر هغه شي چې شي پاتې د روزګاره
محبت چې ئې د زړۀ ځني چاپېر وي
چاپېر نۀ ګوري چې څۀ دي ما دپاره
په پولو بربنډې پښې لکه د ډال ړدي
ډال په لاس کښې وي اکثر د بهادرانو

په پولو[††] چې څوک ورخېژي زړۀ ئې سوي
سوي زړۀ لره پکار نعم البدل وي
د طبيب سره علاج د بعض نۀ وي
نۀ وي ځکه چې دا وجه د عمل وي

[††]- دغنو شپول

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه نډه[‡‡] چې سینه د امي روي
داسې روي خون د زړۀ چې یار ترې ښېل وي
ماشومان د ناز لاسونه پۀ هلال ږدي
هلال نۀ راځي پۀ لاس د ماشومانو

ماشومان پۀ لاسو نمر سپوږمۍ رانیسي
هم رانیسي سرې سکروټکې د سور اور
کۀ فوجونه د دارا او د بلقیس ئي
د بلقیس نه هم شو پاتې کلے کور
کوچ به اوکړي کۀ د ټول جهان رئیس ئي
هم رئیس به شي **توراجه** خاک د ګور
شاعران د ژوند پۀ هر اړخ مثال ږدي
د مثال ډکه وښنا د شاعرانو

‡‡- ماشوم ته وائي احمد دین طالب هم خپلو چاربېتو کښي دا لفظ ډېر استعمال کړے دے .

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاربيته

تا راته کتلي ځکه ما درته کتلي دي
تا اول خندلي روستو ما درته خندلي دي
تا پهٔ دغه سپينه خلهٔ اقرار د محبت اوکړو
ما درته اقرار د خپل زړګي د صداقت اوکړو
پت به درسره پالم کهٔ تا راسره پت اوکړو
ولې دې ليلىٰ پهٔ خمارو سترګو ژړلي دي

ولې ځې پهٔ ځنګ ، نهٔ کوې ننګ پهٔ ما بيمار کنه
مينې دې ستي کړمه پتنګ پهٔ سور انګار کنه
ناست ئې پهٔ پالنګ لکه د ناوې پهٔ مقدار کنه
زلفې دې زېلىٰ پهٔ مخ د کورو غوړېدلي دي

زلفې دې اوږدې لکه قودې چې د لونګو وي
کوکې دې سرخي که لکه سرې چې پهٔ اترنګو وي
پربوځي د ګړنګه ځوک مئين چې پهٔ ګړنګو وي
سيال ښائي د سياله سره دا مې اورېدلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیال چې شي د سیاله سره سره غنچه د ګلو شي
سترګې هله ښکلې شي چې سترې پۀ ژړلو شي
کمه به لا څنګه ګلدسته پۀ بویۀلو شي
پټې چا غونچې د بوراګانو نه ساتلي دي

پټې سترګې ګرځم د ګونګې پۀ شان عالمه زۀ
کم پۀ عشق کښې نۀ یم د درخو او د ادمه زۀ
نوم زما **توراج** دے د اشنا د غمه مرمه زۀ
ځکه مې مصرعې د عاشقۍ پۀ باب لیکلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سرو لمبو کښې قرار څنګه اوکړم

مصنف : عبدالجبار سهل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ټول حقونه د مصنف پۀ حق کښې خوندي دي

د کتاب نوم	:	پۀ سرو لمبو کښې قرار ښنګه اوکړم
لیکوالان	:	عبدالجبار سهل
کمپوزر	:	قاسم ساګر
کره کتنه	:	تصور مانړوال
شمېره	:	200
بېعه	:	300روپۍ
چاپ کال	:	2023 ء
چاپ ځاے	:	سیّد کمپوزنګ سنټر تهوپئ (0315-9887887)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپېڅلے او ښاغلے سړے

څۀ ورځې مخکښې راله ډېر ګران او خوږ مشر عبدالجبار سهل صېب خپله ناچاپه شاعري چې کمپوز شوې وه چې د قام قلم دفتر کښې راکړه وئېل ئې چې دې کښې اصلاح وکړه او خپل ليک پرې وکړه. شاعري مې ترې واخستله څۀ ورځې مې واغستلې خو ټوله شاعري مې وکتله څۀ بعضې د وزن ، بحر کمے بېشے پکښې وۀ خو نوره پۀ مجموعي توګه ډېره ښۀ وه د خپلو احساساتو بې ساخته ترجماني وه. عبدالجبار سهل صېب ډېر سپېڅلے ؛ ډېر مخلص او زړۀ سواندے انسان دے ؛ يو مخيز دے. پۀ ډېرو نۀ پوهيږي خو صرف پۀ دې پوهېږي چې زما دې ملګري خوشحاله وي. د کتاب د چاپ اراده ئې کړې ده او دا پۀ حقيقت کښې د خوشحالۍ خبره وي چې د شاعر شاعري د هغۀ پۀ ژوندوني چاپ شي. عبدالجبار سهل هم دا خواهش ظاهر کړے دے. او الله دې وکړي چې دا خواهش ئې تکميل ته اورسي. د قام قلم پۀ ملګرو ډېر د زړۀ نه مئېن دے. ماته ئې وئېل چې دا خواهش مې دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د کتاب مخکتنه د قام قلم د سيورې لاندې اوشي. د قام قلم اجلاس له په کمزورې وجود راځي خو دا ئې د مينې انتها ده. زړۀ ئې ځوان دے د سړي پرې کله کله د پروفيسر انور علي جان صيب مينه ماته شي. هغۀ په غوړونو لږ کمزورے دے مشين ئې په جيب کښې وي او سهل صيب هم د مشين نه بغير نيمګړے وي. دواړه ډير خواږۀ مشران دي. ما د سهل صيب شاعري ټکي په ټکي اوکتله بعضې شعرونو کښې ئې ګرانې قافيې هم راوړې دي. چې پوهيدل پرې علم غواړي او بعضې شعرونه ئې د سهل ممتنع غوره نمونې دي. په ساده او اسانو ټکو کښې ئې ډيرې د کار خبرې کړي دي. شاعرۍ کښې ئې مختلف صنفونه راوړي دي. چې په هغې کښې غزل نظمونه او چاربيتې دي. شاعري ئې د عصري حالاتو ترجماني کوي. چې حالات څنګه وي نو شاعر هم هغه شان شاعري اولس له ورکوي. کۀ يو خوا پرې د معاشرې د اولسونو اصلاح کيږي نو بل خوا پرې د شاعر کهيتارسس هم اوشي. عبدالجبار سهل صيب د حالاتو ترجمانه شاعري کړې ده شاعرۍ کښې ئې کۀ يو خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وعظ او نصیحت شوے دے ۔ نو بل خوا ئې پکښې رومانیت هم ځائے پۀ ځائے ښکاره کړے دے ۔ د اکثرو پوهانو دا خیال هم دے چې د شاعرۍ انعکاس هم د رومانیت نه کیږي ۔ او پۀ شاعرۍ کښې چې رومانیت نۀ وي ۔ نو لکه بې مالګې طعام ۔ ځکه خو مې بې ساخته دا شعر خولې له راغلو :

خدایه د مینې کور اباد مې لرې
بس دے د جنګ خبرې ډېرې اوشوې

عبدالجبار سهل هم خپل رالېږدلي احساسات سندرې کړې دي ۔ او پۀ اولس ئې وېشلې دي الله دې وکړي چې د عبدالجبار سهل دا شاعري د اولسونو پۀ زړونو باندې د پښې کار اوکړي ۔ پۀ اخېره کښې به دا دعا وکړم ۔ چې الله دې ددوي مشرانو سیورے زمونږ پۀ سرونو لري ۔ آمین

پۀ ډېره مینه
تصور مانړوال
لېکچرار پښتو څانګه
ګورنمنټ پوسټ ګرېجوېټ کالج صوابۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سهل شاعرۍ ته يوه کتنه

عبدالجبار سهل چې دا وخت د شپږو اوياؤ کلونو عمر ته رسېدلے دے۔ ۱۹۴۲ ء د خپل زېږون نېټه يادوي۔ لاهور کښې ئې لسم جماعت پاس کړے دے۔ د فوځ د نوکرۍ نه د پنشني کېدو نه وروستو ئې د عمر زياته برخه دوبۍ اماراتو کښې تېره کړې ده۔ د هلکوالۍ نه شعر و ادب سره اړيکې لري۔ ښکلې ښکلې رباعيانې ليکي۔ ډېرې چاربېتې ورسره خوندي پرتې دي۔ اوس ئې اراده کړې ده چې توراج خاکسار سره يو ځائے پهٔ شريکه د شاعرۍ کتاب چاپ کړي۔ عمر چې څومره زياتيږي نو تجربه او مشاهده نوره نوره زياتېږي۔ اولسي شاعري د عوامو د مزاج مطابق وي۔ هيڅ قسمه څهٔ ګنجلکې فلسفې پکښې نهٔ بيانېږي۔ د اولس زړونو ته براه راست اپيل کوي دغه شاعري عوام ډېره خوښوي۔ بلکې د اولس پهٔ زړهٔ پورې شاعري ورته وئېلے شي۔ سهل بابا د قام قلم صوابۍ يو تکړه او فعال ممبر دے۔ د ټولنې هر اجلاس دپاره حاضر وي۔ ددوي اولسي شاعري او ددوي ساده مزاج ددې خبرې غمازي کوي چې ددوي شاعرۍ کښې د موصوف سپېځلے شخصيت څرګند بربښي۔ الله تعالىٰ دې وکړي چې د بابا شاعري د لوستونکيو د مزاج

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطابق وي او لوستونکي سهل بابا پۀ داد او تحسين ونمانځي۔

ډاکټر اطهر شاه ټکور
ګورنمنټ ډګري کالج طوطالۍ بونېر
دسمبر ۲۰۲۳ء

(c) ketabton.com: The Digital Library

قطعه

نۀ لېونے یم نۀ مې بنګ څښلي چې نۀ پوهېږم
د سرو لمبو د غرغرو مخې له څۀ له ورشم

زما یاران پۀ دې ګواه شو چې بوډا شو **سهل**
نور د دنیا د نندارو مخې له څۀ له ورشم

(c) ketabton.com: The Digital Library

"د عبدالجبار سهل صيب فن او شخصيت"

اجتماعي شعور همېشه په لاشعوري طور د ادب نه متاثره کيږي ځکه خو د يو قام قامي وحدت د ادب نه بغېر نيمګړے نيمه خوا وي. تر کومې چې د يو قام ادب پرمختګ نۀ وي کړے تر هغې قام هم يو قدم مخکښې نۀ شي تلے. ځکه چې قام په ژبه قام وي او د ژبې نه بغېر يو قام او د قام ادب ژوندے نۀ شي پاتې کېدے. په شلمه پېړۍ کښې پښتو ادب هم پوره وده کړې ده خو پښتو له چې کوم مقام پکار وۀ تر هغې ډېره وروستو پاتې ده. وجه ئې پښتو ژبې سره د سرکار د مېرې مور سلوک او د پښتون قام د خپلې ژبې نه بې غوري ده. صرف پښتانۀ شاعران ليکوالان دي چې په خپل مخ سر د خپلې مورنۍ ژبې پښتو پالنه او سر ښه کوي.

پښتانۀ ليکوالان شاعران د خپلو ماشومانو د خلې نه نوړۍ شوکوي او د خپلې مزدورۍ په پېسو د پښتو کتابونه چاپ کوي پروګرامونه مشاعرې کوي.

داسې ننګيالو ليکوالو ملګرو کښې عبدالجبار سهل صيب هم دے. چې په تېر عمر او ناجوړه وجود د پښتو هر پروګرام ته ځان رسوي؛ شاعري کوي؛ د خپلو شاعرانو تپوس پښتنه کوي. جبار لالا يو دروند پښتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے ډېر مېلمه دوست د غم ښادۍ سړے دے ۔ تر خپله وسه د بې وسه شاعرانو ملګرو مرسته هم کوي او د پښتو ژبې د پالنې او روزنې دپاره خپله برخه کار ښۀ پۀ راستۍ تر سره کوي۔

جبار لالا 1946ء کښې پۀ تهوپۍ کلي کښې زېږېدلے دے اتمه پورې سبق ئې خپل کلي تهوپۍ کښې حاصل کړے دے ۔ اوولسم جماعت امتحان ئې پۀ لوئې لاهور کښې پاس کړے دے۔

شاعري ئې د پينځلس شپاړسو کالو پۀ عمر کښې شروع کړې ده ۔ جبار لالا وائي چې پۀ 1960ء کښې چې کومه کشتۍ ډوبه شوې وه نو پۀ دغه حادثه ما پۀ اول ځل دا چاربېته ليکلې وه۔

ببړۍ وه د کهبل شوه ډوبه پۀ درياب
نن تول عالم ژړېږي ورپسې کوي ارمان
پۀ ورځې د طوفان

جبار لالا د ژوند زياته برخه اول پۀ پاک فوج کښې او بيا پۀ متحده عرب اماراتو کښې تېره کړې ده پۀ دې وجه ورته پۀ ادبي غونډو او استاذانو سره د ناستې او زدکړې موقع نۀ ده تر لاسه شوې او د خپل کلام اصلاح ئې هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا استاذ شاعر نه نۀ ده کړې. جبار لالا اولسي شاعر دے. پۀ کلام کښې ئې چاربېتې ، غزلې ، رباعيانې ، شاملې دي. د اتمان ګدون بلکه د صوابۍ پۀ شاعرانو ئې يو اوږد نظم ليکلے دے چې د صوابۍ د اکثرو کلو د مړو او هم عصرو شاعرانو ذکر ئې پکښې کړے دے. جبار لالا پۀ خپلو شعرونو کښې د خپلو خيالاتو او او جذباتو اظهار ښۀ پۀ ډاډ کړے دے. شاعرۍ کښې ئې عشق ، محبت ، هجران ، بېلتون ، پند و نصيحت ، او اسلام سره سره د مينې موضوعات بيان کړي دي.

جبار لالا د خپلې شاعرۍ پۀ باره کښې وائي!

د رديف او قافيې نه خبر نۀ يم
څۀ پۀ وزن او سجعې برابر نۀ يم

دانشور کۀ تنقيد کاندي حق جانب دي
دومره زۀ د شعرونو ماهر نۀ يم

فقط ذوق يم پۀ ليکلو مجبور کړے
خپله ليکم د سرقې شاعر نۀ يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جبار لالا ځنې رباعیانې ډېرې مزېدارې لیکلي دي په خپلو رباعیانو کښې ئې ډېر د رنګین خیالاتو اظهار په ښکلو ټکو کړے دے. د رباعیانو دا شعرونه ئې په فن پوره د خوند او سوز او ساز نه ډک دي.

کار خېر دے پکښې لویه مرتبه ده
کۀ یتیم په سر دې کېښود د شفقت لاس

هیڅ مې طمع د خوش رنګه جانان نۀ شي
چې به راکاندي په وخت د مصیبت لاس

دا مې واورئ فائده نۀ وي یارانو کښې
لکه نۀ وي چې فائده عبس خوارو کښې

د نمر مخو له محفله لرې ګرځه
ګېر چې نۀ شي نور د مینې زولنو کښې

تر مطلبه یارانې دي شومه پوهه
بې مطلبه یاران نشته په دهر کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مال دولت چې نۀ لري عبدالجباره
وي کمزورے به د هر چا پۀ نظر کښې

جبار لالا پۀ عشق کښې د بېلتانۀ د ناسازو او د معشوقو د جفا متعلق څۀ داسې اظهار کوي.

بېلتانۀ دې اشنا دومره ناقرار کړم
دا د هجر شپه تېرېږي سم د کاله

د ديدن لارې دې ډکې د ازغو دي
نۀ پوهېږمه چې څنګه درشم تاله

اوس راځئ چې د جبار لالا د يو غزل د شعرونو نه خوندونه واخلو چې د مينې محبت آئينه دار غزل دے.

ښکليه تا کۀ پۀ مسکي نظر کتلے نۀ وے
ما به زړګے پۀ يو نظر باندې بائېللے نۀ وے

کۀ د خوبانو ديدنونه پۀ اسانه کېدل
پتنګ به ځان پۀ سرو لمبو باندې سېزلے نۀ وے

(c) ketabton.com: The Digital Library

کهٔ مینه نهٔ وے محبت نهٔ وے دا خیال به نهٔ وهٔ
عبدالجبار سهل به دا غزل لیکلے نهٔ وے

عالمان وائي چې عشق مجازي د عشق حقیقي اولنۍ پوړۍ ده ـ او ډېر عاشقان د مجاز پهٔ لار حقیقت ته رسېدلي دي ـ جبار لالا هم چې د ښکلو پهٔ ناپائېدار حسن او جفاګانو پوهه شوے دے نو د حقیقت پهٔ لار روان شوےد ے لکه چې وائي:

چې پهٔ ذکر اموخته د رب غفار شوم
هیله زهٔ پهٔ سکون باندې بې سیار شوم

کهٔ هر څومره دلبرۍ مې ژوند کښې اوکړې
وار پهٔ وار باندې د دواړو توبه ګار شوم

اکثر زمونږ مشران شاعران چې ددنیا نه سترګې پټې کړي نو ورسره ددوئ شعر و شاعري هم دفن شي ـ خو جبار لالا پهٔ دې حقله خوش قسمته وهٔ ـ الله ورله ډېر قابل او تابعدار بچي عبدالرب ، حامد رحمان ، خالد رحمان ، محبوب رحمان ، ورکړي دي ـ بیا پهٔ خصوصي توګه د محبوب رحمان او د خالد رحمان دا خواهش وهٔ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ د محترم والد صېب دا کتاب ددوي پۀ ژوند چاپ شي ـ هيله لرم چې پښتانۀ به د عبدالجبار لالا او توراج خاکسار صېب ددې خوندورې اولسي شاعرۍ قدر اوکړي چې د پښتو جولۍ کښې ئې حصه واچوله.

علي زر خان علي
ستر سېکتر "ملګري ليکوالان ضلع صوابۍ"

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمد

بې د ستنو دے قائم آسمان د رب
پۀ قدرت سره آباد جهان د رب

چې الله پۀ څۀ رضا وي هغه کیږي
پۀ رښتیاو سره اوچت دے شان د رب

چې معمور پۀ کلیمه د الاالله شول
مومنان دې کړي ادا احسان د رب

کافران او مشرکان ټول پۀ ژړا شي
پۀ جنت چې شي داخل نبیان د رب

ته به وموميې جنت **عبدالجباره**
کۀ دې اومنو پوره فرمان د رب

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

بې نقابه حقیقت له چې سرشار شي
د بې عیبه صداقت په نښه لار شي

زه به خنګه خوشحالي او خندا وکړم
چې په لار د اخرت زما رفتار شي

ته چې نه غواړې هغه نه کیږي خدایه
ته چې غواړې هغه کیږي ستا اختیار شي

ته خالق ئې ته مالک ئې پاکه ربه
د قدرت نه دې مخلوق واړه ناچار شي

ربه دا به دې په ما مهرباني وي
چې د سهل تور لحد دارالقرار شي

د توپي **عبدالجباره** نېک بختي ده
چې د ګوتو په بندونو الله شمار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

مُتحیر دي پۀ تا واړه کائنات
لوئې احسان دے پۀ دنیا دې د حیات

د یوسف ع حسن جلوه ده ستا د حسن
د نمرود کسریٰ غرور دې کړلو مات

صدۍ تېرې تر حشره به شي تېرې
همسري به دې څوک اونۀ کړي د ذات

محکومات دي حاکمان کړل پۀ هر لوري
سر دې خم کړو د عزیٰ لات ومنات

ستا تخلیق خلق عظیم باندې دے شوے
لوئې یو بحر بیکراں د کرامات

معجزه دې د قرآن دنیا ته پېش کړه
منسوخ شو پرې انجیل ، زبور ، تورات

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا مقام د ادراک فهم نه بالا دے
شمار دې نشته په دنيا د احسانات

ډېر باغيان دي د الله سره په خلا کړل
سيئات باندې غالب شو حسنات

څوک چې ستا د پيروۍ ځنې محروم دي
ښکاري بَر کۀ هغوي لَر دي کړي هيبات

زۀ **سهل** ستا په در باندې ګدا يم
دا باعث ګڼم د فخر لمحات

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د زړۀ سَوے مې زياتېږي نۀ شو کم
دا هجران راته جوړېږي اېټم بم

د مرض علاج مې نۀ شي داسې ښکاري
چې خوړلے مې ګزار پۀ زړګي سم

وه د زړۀ سره راځه چې سره کښېنو
هېر زما به شي ستا هر جور و ستم

ډېره ښۀ وه د وصاله خبر نۀ ووم
چې خبر شوم اوس مې ځي د سترګو نم

د ژوندون طمعه پۀ داسې حال کښې څۀ وي
بس تېرېږي ځي دې شپې ورځې د غم

اسويلي به پۀ تحفه کښې ورله ورکړم
د **سهل** د زړۀ ارزو کۀ شي محکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پوهه نهٔ شوم چې په څهٔ دې قصور وار کړم
بې سببه دې زړګیه زهٔ په دار کړم

دوست وئېل خو په خلهٔ بل ته ډېر اسان وي
په مفهوم به ئې نا اشنا څهٔ خبردار کړم

افرین مې په دوستۍ د ابراهیم ډار شي
تل تعریف به د افسر امان نوبنار کړم

سر و مال قربان د **سهل** د هر یاره
خدائے دې نهٔ کړي چې د چا زړګے ازار کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

رب داخل کړم دوباره پۀ امارات
ترک ما کړل د اغیارو تعلقات

د غم پیتې کۀ مې سپک یا مې درانۀ وو
شُکر ګزار وومه د اللّٰه پۀ هر حالات

د ازمېښت ګهړۍ شوې تېرې وې هر څنګه
وې محکمې تجربې د کمالات

اشنايۍ د دنيا واړه دي فضولې
تېر ژوندون کړئ د اللّٰه پۀ احکامات

د مبلغ دعوت به هيڅ کله رد نۀ کړم
عيان ماته پۀ دې لاره شو نجات

قدردان زۀ د تورپۍ **عبدالجبار** يم
موجزن لرم پۀ زړۀ کښې نېک جذبات

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

بې قوته مې ثابت شول دست وپا هم
رفتن شو پۀ سهاره مې د همسا هم

بل راوړي نۀ خپلېږي هر څوک وائي
پاتې نۀ شوله نن خپلو کښې وفا هم

پۀ دې لړ ژوندون به څۀ څوک باور کاندي
دې ژوندون سره تړلې ده فنا هم

ځان ځاني ده د نفرت بازار دے **سهل**
څوک به ځنګه د يو بل شي مسيحا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

زۀ پۀ طمع تۀ بې غمه ګرځېدې
خوږ محفل کښې د رقيب مشغولېدې

هره ياري د مخامخ سترګو بازي وي
ډېرې شوي پۀ دې باب دي ازمودې

پرواه نشته دا تاثر د زمانې دے
نن يوه او سبا ئې نورې ارادې

د جفا نوم به هرګز خور شوے نۀ وے
د وفا نغمې به هر ځائے غږېدې

کۀ اخلاص ته د هر اشنا احساس وے
خوږې مينې به تر سره رسېدې

تونس پۀ سترګو به د **سهل** د زړګي نۀ وۀ
کۀ ترې نۀ څڅېدې اوښکې بې فائدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پۀ تکلیف کښې څوک نۀ وي غم خوار
پۀ راحت ترې هر بنده شي هم کنار

دا ستم د زمانې نۀ دے نور څۀ دي
ورور د وروره جدا کاندي یار د یار

کۀ ثاني دې د چشمانو ما لیدلے
رقیبان به راته نۀ وو د سترګو خار

د ببلتون د غمه هر مئین ژړیږي
د زړۀ پۀ سترګو ژړا کاندي **عبدالجبار**

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چې هېروي د بل نېکي ورته حېران شوم
چې ترې خبر ګوته پۀ خلۀ پۀ هغه آن شوم

خلق وائي کړي اربونو سره لوبې
پۀ کامرانۍ ئې خپله زۀ آذلان شوم

پۀ يو د مدد لاس او بل کښې تيږه ورکړه
پۀ دې متل نن قائل پۀ برهان شوم

بوټي پرې شنۀ پۀ قبرستان چې نېکۍ به ئې ياد لرلې
لاس پۀ دعا ورته پۀ تګ د قبرستان شوم

عمر مې ټول دے بسر کړے پۀ يارو کښې
نن سپين ريشه سر دننه پۀ ګريوان شوم

ترک ما خوشے يارئ کړے شوم پۀ عېش
زۀ **عبدالجبار** شکر ګزار د پاک سبحان شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

توره شپه کښې چې غماز سره د بر لاړ
ښکاري داسې چې ځما نه مرور لاړ

نور اعتبار مې پۀ نمر مخي جانان نۀ شي
خوږ اشنا نۀ مې د زړۀ هغه باور لاړ

تل خزان شو د شهيد پۀ رونقونو
خوندور هم د پېښور ګلې ګودر لاړ

خپل دې نۀ کړو خپل به ئې نۀ کړې **عبدالجباره**
غېږ غماز سره چې يار پۀ چل هنر لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

بې انتها شوه دا ګراني واوره جنابه
غریب کله اخستے شي غوښه د قصابه

د ګرانۍ جرنده کښې دلېږو اے ملګرو
دې مهنګايۍ کړه د هر چا خانه خرابه

نرخنامه د اور پۀ بیعه پۀ رمضان شي
یو نیم څیز شي پۀ بازار کښې هم نایابه

چې بلنه ئې د زړۀ پۀ انتخاب وي
عکاسي ئې وي عیان د مخ کتابه

نادان کله څۀ پوښتنه د خاصیت کړه
لاس رسوي د غېږ موسمه تر عنابه

عامو خاصو ته پۀ ګوته دے **عبدالجباره**
آبیات د **توراج** وي ډک د کماله

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

خیال ته مۀ راوله یار دې هغه تلے
پۀ بېلتون ئې چې وي زړۀ تاله داغلے

د بې لوظه اشنا څوک چې اشنائي کړی
وي به هر ځائے پۀ محفل کښې شرمېدلے

د عنکبوت په شان جوړوي هر ځائے جالې
داسې یار باندې مې تل لیاړې توکلے

صورت مۀ ګوره سیرت ته ئې نظر کړه
کۀ د سیرت کردار ئې وي پۀ تول تللے

زۀ سهل کۀ د بې وفا یاره خبر وے
ما به څله د زړۀ کور ته رابللے

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

رښتیا خبره دې کوه ښۀ پۀ څرګنده
ځان ساته د کذب د پلید ګنده

تبر ژوندون کۀ د ایمان پۀ تقاضو کړې
پۀ اخر به ئې ثمر مومې **عقل** منده

تش پۀ رنګ خو څۀ سیالي د ګلاب نۀ شي
محنت چې و نۀ کړې د **بل** نه پۀ څو چنده

څۀ کشش چې د اخلاق پۀ جامه نۀ وي
هغې **محفل** ته مۀ ورځه چې وي بې خونده

پۀ مینه ئې زۀ **سهل** چې ورله درومم
قدردان لرم ملګري عزت منده

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

وي پوهه کۀ ناپوهه پۀ قافيې
تل بلے شي دانشور د غېر جرګې

ستا د حسن تابنا کښې ئې زړۀ راکاړي
دا کوم دستور دے ساقي ستا د مېخانې

د هجران پۀ کتارو دي زړۀ غوښ مۀ شه
وي پۀ هجر کښې بې مثله اندېښنې

کړه تحفه اخر له جوړه **عبدالجباره**
د دنيا چارې دي ټولې بې فائدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ولې نهٔ درومې د ښکلي دين پهٔ لار تهٔ
مدام اورې د ناصح د خولې ګفتار تهٔ

مناسب دي تيارے اخر له اوکړې
خبر ځان چې کړې د شرعې د لار تهٔ

يوه ورځ به دې سفر د دنيا اوشي
پهٔ لږ ژوندون مهٔ کوه اعتبار تهٔ

دنيا فاني ده د تهٔ پې **عبدالجباره**
يوه ورځ لاړ شې د دې پهٔ خپل وار تهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

څۀ به کاندم د باره کهو پۀ محلونو
خوښ پرې نۀ يم د اسلام اباد پۀ رونقونو

اسلام اباد کۀ وي هر څومره پُر رونقه
بدل به ئې نۀ کړم د خپل کلي پۀ غرونو

د اما کما تهوپی کلي ته راغلل
قابض شوي دي پۀ جمله کاروبارونو

تهوپی کلے دے اوس ښار **عبدالجباره**
کمے نۀ لري د ښارېي د سهولتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

کۀ پۀ سخته کښې څوک درکړي د راحت لاس
کۀ پۀ حقیقت ئې اوګڼه د صداقت لاس

کار خېر دے پکښې لويه مرتبه ده
کۀ د يتيم پۀ سر دې کېښودو د شفقت لاس

هيڅ مې طمع د خوش رنګه جانان نۀ شي
چې به راکاندي پۀ وخت د مصيبت لاس

خپل مدد زۀ **عبدالجبار** د خدايه غواړم
د زارۍ مې ورته نيولي دي اوچت لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

زما واوره فائده نۀ وي پۀ يارو کښې
لکه نۀ چې وي فائده عبث خوارو کښې

کۀ دې ښۀ د وسه کېږي غنيمت دے
بدي نيشته پُر خلوصه پۀ نېکو کښې

د نمر مخو د محفله لرې اوسه
ګېر چې نۀ شې د مينې پۀ زولنو کښې

ماته اوګوره زۀ سهل د ټوپۍ يم
نوم مې ياد دے د ټول اُتمان پۀ تپو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

کهٔ څوک واخلي د نرخونو لړ څهٔ جاج
عیان نرخ به ئې کړي د زړهٔ ښکلے دُجاج

بې پوښتنه اخستنه پهٔ بازار شوه
تپوس د نرخ پهٔ قسم نهٔ کوي سماج

د ناکام لمن شلولې مونږ د لاسه
سبقت اخلو د یو او بله پهٔ رواج

د یار خیالونو سره لوبې کړم پهٔ خواب
پهٔ سبب دې د رېبار نهٔ یم محتاج

دا منم ګراني راغلې پهٔ دنیا ده
خو اصراف کوي هم د کلي ښار ازواج

خود د ناکامه ترې روژه کړه **عبدالجباره**
طعم به څهٔ کړي څوک لحم او دُجاج

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ربه راولې زما هغه جانان بیا
چې ئې اوکړمه دیدار ئې د چشمان بیا

که تمامه دنیا شته زما پرې څۀ
څو چې ښکل ئې نۀ کړم هغه سرۀ لبان بیا

دوستي ښۀ وي چې پُر خلوصه وي صادقه
د اصیل یاره مې شه جان ومال قربان بیا

د زړۀ تاؤ د نظر تنده به ئې شي ماته
سهل کۀ اولیدو یو وارې هغه فنان بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د ردیف او قافیې نه خبر نۀ یم
څۀ پۀ وزن او سجعې برابر نۀ یم

دانشور کۀ تنقید کاندي حق جانب دي
زۀ لا دومره د شعرونو ماهر نۀ یم

د قام قلم لیکوالو ته سلام مې
اوسېدونکے د ټوپۍ د باهر نۀ یم

د ادب پۀ غونډه ما کۀ څوک مطلع کړه
تېز به ګام کړم د هوا طاهر نۀ یم

د هېواد غونډې ته ورغلے ووم پۀ بلنه
احسان فراموش د یوسفزي ذاکر نۀ یم

فقط ذوق یم مجبور کړے پۀ لیکلو
خپله لیکم د سرقې شاعر نۀ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وفا پۀ لتهون شومه زۀ سپین ریشه
څۀ حاصل د وفا د ګوهر نۀ یم

ښکلي وولي زړونه پۀ ښو ښکلو
والله زۀ ئې پۀ خوا او خاطر نۀ یم

ما پرې کړې تجربې او تجزیې دي
د نمر مخو د وعدو پۀ باور نۀ یم

دا لیکل د مورنۍ ژبې خدمت مې
باور اوکړئ پۀ سهل چې غاور نۀ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

څه ورځه پۀ مخه باندې دې ښۀ وي
د ژوندون دور کښې ورځ او کله شپه وي

سپرلے ښۀ وي چې قائم وي پۀ ګلونو
د سوزه ډکه د خزان ظالم چپه وي

اوښکې کله کړي ښکاره اظهار د مينې
ليکن دغسې به زړۀ د چا خفه وي

نصيب کله به د چا د يار وصال شي
پکښې شامل چې د غماز ظالم ښپه وي

څۀ به تهوقې او خندا چا سره اوکړې
ډېر غمونه د **سهل** پۀ زړۀ پراتۀ وي

عبدالجبار وائي کۀ مال و زر کښې پټ يم
خو پۀ زوړ ساعت مې هر وخت تلوسه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

الله یاد پهٔ بیمارۍ کښې د بیمار شي
درد وغم کښې ئې بې حده تابعدار شي

پېدا کړي مونږ الله یو عبادت له
روزي رسان زمونږ پروردګار شي

بې نقابه حقیقت له حاجت نهٔ وي د رېبار
پهٔ یادولو ئې کهٔ هر یو ګنهګار شي

یو سرشار د محبت له قرار نهٔ وي **عبدالجبار**
د الله پهٔ مست د **سهل** زړهٔ قرار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

نۀ وي ښۀ د بې وفاؤ تعلقات
کۀ پۀ سمه کښې اوسېږي یا پۀ سوات

خوشبوئي د وفا یو ګل هم رانۀ کړه
ساتل عبث مې د ګلونو څۀ باغات

خپله ګرم وومه د سر و ماله تېر ووم
خبر نۀ وومه د مینې پۀ لغات

د خلوص ډکې اشنایۍ وې پخوانۍ
وې شیرینې پۀ مثال د قند نبات

خدایه ما د بې وفاؤ اشنا مۀ کړې
چې وي کاړي د ټل کلي شاملات

پۀ خلۀ شکوه زۀ **عبدالجباره** د چا نه نۀ کړم
خو عکاسي له جوړۀمه دا رباعیات

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چې د وفا نخښه پېدا نۀ شوه دلبر کښې
بیا ئې څله ځایۀمه پۀ ځیګر کښې

چې زیست روزګار نۀ کړي ناچار به شي ناچاره
څۀ خوشحاله به غریب شي پۀ اختر کښې

تر مطلبه اشنایۍ دي شومه پوهه
بې مطلبه اشنائي نشته دهر کښې

مال دولت چې نۀ لري **عبدالجباره**
وي کمزورے به د هر چا پۀ نظر کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ښکاري داسې چې وفا نۀ وه پکښې
وه لباسې مينه رشتيا نۀ وه پکښې

سوچ مې واخلې چې نظر خو دهوکه نۀ شو
کۀ خوبي د يو اشنا نۀ وه پکښې

په حالات مې د ګلشن افسوس ظاهر کړو
د بلبل بورا صدا نۀ وه پکښې

چې ترې طمعه دا زما د دلاسې وه
هغه څۀ د سود وښنا نۀ وه پکښې

په شنو تېغو مې سينه سورے سورے شوه
وې تيارې هر خوا رڼا نۀ وه پکښې

مړاوے زړۀ چې د **سهل** به ئې خوش خرم کړو
د کشش هغه ادا نۀ وه پکښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چې پهٔ ذکر اموخته د رب غفار شوم
نو هيله زهٔ پهٔ سکون باندې بې سيار شوم

کهٔ هر څومره دلبرۍ مې ژوند کښې اوکړې
وار پهٔ وار د هره ياره پهٔ دار شوم

د مبلغ دعوت وهٔ ماته د مودې نه
ځکه زهٔ د نېک دعوت ئې تابعدار شوم

د دنيا دا چارې واړه وې فضولې
زهٔ **سهل** پهٔ اغاز ئې د اذکار شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

خدايه کله مې اشنا به شي ملګرے
زۀ د يار او يار زما به شي ملګرے

د يارۍ به ئې هيڅ کله توبه نۀ کړم
امېد کړم چې نن سبا به شي ملګرے

کۀ تنها چرته کښې ځي ملګرے ګوره
ستا د لارې مشغولا به شي ملګرے

دا ملګري د دنيا نه تنها درومي
تور لحد کښې څوک پېدا به شي ملګرے

نېک عمل کړه کۀ ويرېږې د الله نه
خپل عمل هلته کښې ستا به شي ملګرے

د ټوپۍ **عبدالجبار** ئې سودائي کړم
خوا له کله زما رابه شي ملګرے

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

خواله مۀ ورځه محفل چې وي د ښکلو
شیش ماران ډېر وي اشنا د زړۀ ویشتلو

دې سرو شونډو اننګو ته ئې چې ګورم
ترې شرمیږي هم غنچې غوټۍ د ګلو

هیڅ ترې طمع د وفا هم ذره نۀ شي
دام ئې ایښے پۀ هر ځائے د ګېرولو

خوشبوئي د وفا نۀ لري **عبدالجباره**
شونډې سرې کۀ تورې سترګې ئې د کجلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چې مې راغلو د زړۀ کور ته مهمان نوے
ډېر پۀ مينه پۀ کتو شو فنان نوے

ما وې ولې د حسرت پۀ نګاه ګورې
دۀ وې ودې موندو بيا يو جانان نوے

ما وې راز کۀ د ياریٰ زمونږ څرګند شي
دۀ وې شي دې پۀ کم بختو عيان نوے

ما وې زۀ به دې د غم پنډونه اخلم
دۀ وې زۀ دې شوم د سختو دُخان نوے

ما وې سرې شونډې دې ښکارې ګلابونه
دۀ وې دا دې شو د ګلو بستان نوے

ما وې شونډې دې پيالې دي **سهل** څښل کړه
دۀ وې کړم به ئې پۀ لبو سُکران نوے

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

نۀ پوهېږمه سحر کۀ مازیګر دے
ناقراره مې زړګے اوتر اوتر دے

بلبل زړۀ مې تمنا کړي د ګلونو
بهار تېر شو د خزان سپېرۀ نمبر دے

دا تسبې پۀ لاس جامه کښې د شپخانو
دا غماز پۀ ترخ نیولے پټ خنجر دے

خپل غمونه مې هېر کړي د یار غم کښې
خوږ اشنا د **سهل** بیا هم مرور دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

وخت وي کله ماسره چې درشم خوا له
غم ښادي پۀ کلي کور کښې شوه محاله

بېلتانۀ دې اشنا دومره ناقرار کړم
دا د هجر شپه تېرېږي سم د کاله

د دیدن لارې دي ډکې د ازغو دي
نۀ پوهېږمه چې څنګه درشم تاله

چې د خیال ماڼۍ کړمه سازه خوا له درشم
پۀ یو "نا" مې کړې اسره ټوله ملاله

د کم اصلو د یارۍ نه مې توبه کړه
باغیچه د زړۀ مې شوه اصیلو سره نهاله

د غزل صفت ئې ځکه زۀ **سهل** کړم
هر یو بیت د طوراج وي معمور د کماله

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

کهٔ ئې رقيب سره ياري وي يار مې نهٔ دے
کهٔ ئې مينه بازاري وي يار مې نهٔ دے

چې د راز خبره بل ته مې څرګند کړي
کهٔ هر څومره اعتباري وي يار مې نهٔ دے

د سرو شونډو پهٔ مُسکا ئې دهوکه نهٔ شوم
کهٔ ئې سترګې اثري وي يار مې نهٔ دے

د رقيب او د **سهل** ياري کړي بَرغه
ښکلے يار کهٔ عصري وي يار مې نهٔ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

شپه کۀ د هجران وه اخر تېره شوه سبا شو
ورکې اندېښنې شوې چې ښکاره مې دلربا شو

تولې کلۍ ګل شولې فضا پرې شوه رنګینه
ورېمې د پسرلي شولې ظالم خزان فنا شو

هر طرف ته غم وۀ څۀ اُمېد د خوشحالۍ نۀ وۀ
ګڼه چې پۀ ګلشن شوم ورک د خیاله مې بیدیا شو

سترګې چې کېمرې جوړې د کوم عکس دپاره وې
ټیک هغه تصویر دې پکښې وینم رونما شو

رانغے حاجت پکښې رېباره د منت زارۍ
ووم چې منتظر ئې بس پۀ خپله پۀ رضا شو

اوتې بوتې نۀ دي هر کلے د چا دپاره دے
څۀ چې دے د یو **سهل** حق کښې ګویا شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

هر یو غم دې راپۀ سر کړو پۀ رقیب تا مې اختر کړو
زۀ دې داسې در پۀ در کړم جفا ستا شوه ظالمانه

دا به زۀ کله هېرومه ستا ستم به دریادومه
پۀ زړۀ داسې دې پرهر کړم نم مې څاڅي د چشمانه

غمونه تا پۀ ما انبار کړل فاش دې رازونه پۀ اغیار کړل
لاهو زۀ دې پۀ یو بحر کړم دا دې څۀ وکړل بې ایمانه

ګیله دې تا نه زما کیږي پرهر دې زړۀ مې نۀ رغیږي
زۀ **سهل** دې غم اکثر کړم مستقبل ستا دې شي روښانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چې پاک رسول ص د دنیا لاړو څوک به نور پاتې شي
کوچ به اخر وکړي ضرور تانه به کور پاتې شي

خاوند د لوئي قوت الله دے چې زوال نۀ لري
بل پۀ دنیا کښې به د کوم زور اور زور پاتې شي

مخکښې سختۍ د قیامت شته پۀ خندا خوب کومه
ارمان به وکړمه پرې ډېر چې مې مخ تور پاتې شي

مشال دې بل کړه ښۀ عمل کړه پښېمانه نۀ شې
د بد عمل خاوند به هلته کښې مخ سپور پاتې شي

جبر د ظلم پۀ مظلوم باندې یکدم تېر شي
سزا د ظلم د ظالم پۀ ذمه پور پاتې شي

ډېر د ګټات ځائے دے یه **سهله** غفلت اونۀ کړې
نېکان به بیا مومي جنت غافل پۀ اُور پاتې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کۀ څۀ لیکئ زما ملګرو پۀ پښتو کښې لیکئ
ښکلې غزلې رباعیانې او قطعو کښې لیکئ

د اغیار پۀ ژبه خو یو لفظ زمونږ د ژبې نۀ شي
تحریر ئې ځله اخستو پۀ خرڅېدو کښې لیکئ

محنت پرې اوکړئ چې بالا شي پۀ دنیا مو ژبه
سحر ، ماښام او کۀ د وخت پۀ تورو شپو کښې لیکئ

کړئ خورې د زړۀ صدف نه ملغلرې ښکلې
مانند **سهل** کۀ یو شعر پۀ څۀ ارزو کښې لیکئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

●

ګلونه چې يو ځائے شي هارونه جوړوي
دردونه چې يو ځائے شي فريادونه جوړوي

پۀ سرو شونډو خندا کړي اشنا مې دے ډېر ښکلے
ډېره ماسره وفا کړي زړۀ زما ئې دے ساتلے
چې پۀ لمسه د غماز شي نو جنګونه جوړوي
دردونه چې يو ځائے شي فريادونه جوړوي

د بهار ګلونه واړه د يار د ښائست زار
دي پۀ سمه او کۀ پۀ شاړه واړه ترې نثار
پۀ ښائست د ښکلي حسن بهارونه جوړوي
دردونه چې يو ځائے شي فريادونه جوړوي

ديدن د يار مدام مزه کړي صبح و شام
صدقه کښې چې ګلفام کړي شونډې پۀ انعام
پۀ لذت د خوږو شونډو چې خوندونه جوړوي
دردونه چې يو ځائے شي فريادونه جوړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پۀ الفت کښې د خوږ یار شوم سر پۀ کُندرو شاړو
پۀ فرقت کښې زۀ **عبدالجبار** شوم وړوند پۀ سترګو دواړو
د سترګو مې نم څاڅي سېلابونه جوړوي
دردونه چې یو ځائے شي فریادونه جوړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

اختر خو راغے وعده ستا به وفا کیږي کله
شپه د فراق او بېلتانۀ به رڼا کیږي کله

سجدې زمونږ د الله پۀ در د عاجزۍ وي مدام
د کرونا پۀ حق به زمونږ دعا قبلیږي کله

د تن ویښې دې ګرانې وروڼو زمونږ اوچې کړې
وعده د سرکار د ارزانۍ پۀ رښتیا کیږي کله

د زړۀ داغونه د **سهل** پولۍ او ډکې خلې نیولې
د رب دپاره به دې زړۀ اشنا نرمیږي کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

راغله ناڅاپه پۀ توره شپه راغله
دا پۀ اودو چې زلزله راغله

کړې تباهي وه پۀ ماضي کښې زلزلې
رایاده مې زړګي ته هغه واقعه راغله

الله هم اوربدنکے قبلوونکے دے د توبې زمونږ
کۀ پۀ صدق مو زمونږ خلې له توبه راغله

ورور د وروره نن بې زاره زۀ **سهل** وینم
ورور ته نن د وروره خوږه پېسه راغله

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

غوښې د مړ وروړ خوري پۀ غیبت باندې
شې به ډېر رسوا پۀ اخرت باندې

دا به زما برخه وي د چا نه ګیله نۀ کړم
لیک وي د ازله پۀ هر بخت باندې

د خلقو نه خلاصېږمه کۀ غوث د زمانې شم
د هغه ټول مې دي بد خواه پۀ حقیقت باندې

ما **سهل** سره ئې چې وصل کړي قصدا ئې کوم یاري
کۀ جامې پرې زما رنګ شي پۀ تهمت باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

وينمه ئې پۀ سترګو چې اغيار دے ورسره
وګورئ ملګرو چې مې يار دے ورسره

زۀ وايم غماز دے تاسو وايئ چې رقيب دے ستا
دے کۀ هر ظالم خو همکنار دے ورسره

پۀ غشو د هجران ويشتل د اشنا نۀ دي
داسې معلوميږي غماز خوار دے ورسره

ولې به ئې صفت د يار او د يارۍ نۀ کړي
پۀ ياد کښې ئې چې نوم **عبدالجبار** دے ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

تصوير د تصور د خيال ليدو سره راځي
يادونه دې خوارۀ د اسوېلو سره راځي

رايادې مې شوې شونډې شيرينې د نبات
دردونه مې د زړۀ ياره شو ډېر زيات
ريبار کۀ درلېږمه نو د ګيلو سره راځي
يادونه دې خوارۀ د اسوېلو سره راځي

بې غمه ياره تۀ کوې ښکلې موجونه
دردونه زما زړۀ ژړا کړي فريادونه
زخمونه مې زړۀ ستا ليدو سره راځي
يادونه دې خوارۀ د اسوېلو سره راځي

وائي **عبدالجبار** چې څوک يار لري خوش رنګ
متاع لري هر رنګ چې وي مئين پۀ ناموس ننګ
ګلونه د وصال ښکلو غنچو سره راځي
يادونه دې خوارۀ د اسوېلو سره راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

لکه سپرلي کښې چې ګلونه خوند کړه
داسې زړګي کښې مې داغونه خوند کړه

طبیبه ته پرې مرهم مۀ لګوه
د زړۀ سېزلي پرهرونه خوند کړه

چې سترګې ئې ډکې د نشو مدام
د هغې ښکلې محفلونه خوند کړه

د زړۀ پۀ کور کښې چې ما سهل مېلمه کړو
د مېلمه ښکلي مدارونه خوند کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

نور دې پرې څۀ لږ زړونه ویشتلي دي
چې ګورې مې پۀ مړاؤ مړاؤ سترګو ته

در به ئې پۀ رضا کړم ژوبلوې مې زړۀ
زړۀ مې کړه وړپورې مړاؤ سترګو ته

جنګ چې وي د سترګو پکښې زړۀ لږې
زۀ به ئې حواله کړم مړاؤ سترګو ته

شي به د **سهل** پرې اخري سلګۍ
کۀ اوکړې اشاره دې مړاؤ سترګو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پۀ مینه ما چې به کړل هغه ګلونه څۀ شول
جانانه تا چې به کول هغه لوظونه څۀ شول

ننګ و ناموس ته دې دلبره زما ونۀ کتل
تهمت پۀ ما چې لګېدو هغه داغونه څۀ شول

پکار دې سخته کښې پردې او خپل راغلي نۀ وو
دا مدام ما چې دې ژړل هغه غمونه څۀ شول

زۀ د ټوپۍ **عبدالجبار** تانه تپوس کوومه
پۀ تندې تا راته نیول هغه لاسونه څۀ شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

دوبۍ ته مزدورۍ له هر ناچار راغلے دے
د همزولو د سیالۍ نه هم مالدار راغلے دے

سمه وي دې ځان لاره د حسرت جولۍ پۀ لاس
محنت کش کۀ هُنر مند ورته معمار راغلے دے

ده هر چاته معلومه د دوبۍ سخته ګرمي
ډېر تنګ ئې د ګرمۍ نه مزدور کار راغلے دے

دا خلق پرې غوربږي چې راوړے ئې دے دولت
څوک ترې څۀ خبر دي کۀ قرضدار راغلے دے

ووې برخوردار راته ورله لاس ورکول غواړي
پۀ وزټ یو ځلمے د کلي انبار راغلے دے

ماوې اوبه ئې کړې الله خو منډه ترله به سهل اوکړي
شهاب پۀ حسرتونو کۀ د مور پلار راغلے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چې نۀ متاع دې پکښې شته او نۀ تاوان رقيبه
بيلوې څله مې ظالمه تۀ جانان رقيبه

يار ته هوا کښې محلونه او باغونه ښائي
ولې شوده پۀ ګټو وولې ته اسمان رقيبه

ته د تهمت پۀ غونډو ما په عامو خاصو وولې
ډېر دهوکه باز راته ښکاره شوې بې ايمان رقيبه

يار خو لاسونه د يارۍ چې راکړل ما **سهل** له
پۀ مېرو سر شو اوس شلوه دې ګرېبان رقيبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

شپه کښې چرته تلے وې غلا باندې
چا سره مشغول وې مشغولا باندې

ته مې خپلولې څۀ چې مې ترک کړل
ودې کړو اغاز نن پۀ جفا باندې

ما وې ځان به خاورې تا به کړم ګلشن
د مینې باغ به جوړ کړم پۀ وفا باندې

زړۀ مې زړۀ تسلیم کړے وے چې لرې به څۀ وفا
وائې رولمه بیا پۀ بې وفا باندې

خپل حسن پرست زړۀ ته حېران سهل
اوړے ترې تا زړۀ دے پۀ رضا باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ولور پرې اخلي خوشحالیږي پرې ښکلي جوړوي
د مکتب دپاره ورته وسوسې جوړوي

د زلفو خیال ئې د چا پۀ زړۀ چې نۀ شي
جونې پردې له ښکلې برقعې جوړوي

دغه سبق د نبي پاک ﷺ یو فرمان راکوي
عرب ملکونه ورله سکولونه مدرسې جوړوي

د خونړي نظام پۀ حق کښې نۀ یم
کۀ د ایمان نیمې حصې له فتنې جوړوي

ترې مې قربان شه پۀ ناموس ئې ارمانونه واړه
بې وسي خپله مې ګویانه حوصلې جوړوي

کوم دستور د رقابت د اندېښنو دے **سهل**
کوم دانشور به پرې ردیف او قافیې جوړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پۀ اتفاق باندې ملګرو هر کار سر ته رسي
کۀ ډلې ډلې شو فائده به غېر بشر ته رسي

راځئ يو موټے يو اواز شئ دا نفاق ختم کړئ
د خود غرضو واک دارانو هغه واک ختم کړئ
ورسره ګورو به خبره کۀ ډغر ته رسي
کۀ ډلې ډلې شو فائده به غېر بشر ته رسي

چې اتفاق زمونږه وي ورونړو کامياب به يو تل
کۀ د نفاق پۀ لاره درومو خراب تراب به يو تل
د بې اتفاقۍ ټولې خبرې ګورے شر ته رسي
کۀ ډلې ډلې شو فائده به غېر بشر ته رسي

زۀ **عبدالجبار** هريو ورکر ته نصيحت کومه
د پاکې مينې ورورولۍ ورته منت کومه
مينه نيشنل سره لرمه غږ مې غر ته رسي
کۀ ډلې ډلې شو فائده به غېر بشر ته رسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ګيلې مې درنه کيږي ستا شکوې مې اوربدلي دي
تهٔ يواځې نهٔ ئې کچه وعدې چې د هر ښکلي دي

د ګلونو جولۍ ډکه کهٔ سترګو سترګو کښې مسکے شوې
د فريب داسې حربې د عشق پهٔ باب کښې مې لوستلي دي

لا تر اوسه پوهه نهٔ شوم حقيقت کهٔ افسانه ده
د حسرت پهٔ ميزانه کښې داسې ډېرې ما تللي دي

پلوشې د خپل جمال خورې ورې کړې پهٔ محفل
زړونه وار خطا کړې اندېښنې ئې ما ليدلي دي

سازوې غنچې د ګلو کهٔ راښکې پهٔ زمکه کرښې
وايمه پهٔ جار ما سهل ترې لاس وينځلي دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چرته چې د یار سره د یار خبرې جوړې شي
هلته د رقیب او د اغیار خبرې جوړې شي

دوه مئین چې یو ځائے شي وعدې د تلو راتلو اوکړي
لارې بیا ساتي د انتظار خبرې جوړې شي

دوه مئین چې کله مرور د یو او بله شي
بیا پکښې د صلحې د رېبار خبرې جوړې شي

یو بل ته حالونه د خپل زړۀ او د کور ووائي
تل د دوؤ کم عقلو چې پۀ لار خبرې جوړې شي

زړۀ د سود پرستو هلته ولړي بیا ځي راځي
کوم ځائے چې د نفعې او روزګار خبرې جوړې شي

نه جار اوځي سر لکه پتنګ د اور پۀ سر نیسي
چا سره د **سهل** چې پۀ جار خبرې جوړې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

تور بانۀ ئې ښکلي زړونه پۀ ځنبل ټولوي
لکه څوک چې دُر نایاب پۀ ډېر چل ټولوي

ډېر اُمېدونه مې ترلي اشنا تاسره وو
دا ګل شیندلے پۀ رقیب چې دې یو بل ټولوي

کۀ رابرسېره پۀ حالاتو د زړۀ صدف نه مې شوې
وخت به د مخ نه مې د اوښکو لعلونه تل ټولوي

د بې رُخئ ګیلې به څنګه د پردو نه اوکړم
نن ما سهل نه چې خپلوئ لړونه خپل ټولوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

تصویر د تصور د خیال لیدو سره راځي
یادونه دې خوارهٔ د اوښلو سره راځي

را یادې مې شوې سرې شونډې شیرینې د نبات
دردونه مې زړهٔ یاره ډېر شو زیات
درلېږم کهٔ رېبار نو د ګیلو سره راځي
یادونه دې خوارهٔ د اوښلو سره راځي

بې غمه یاره تهٔ کوې ښکلې موجونه
دردونه زما زړهٔ ژړا کړي فریادونه
دردونه مې د زړهٔ تېزو چپو سره راځي
یادونه دې خوارهٔ تېزو چپو سره راځي

وائي **عبدالجبار** چې څوک یار لري خوش رنګ
متاع لري هر رنګ کهٔ وي مئین پهٔ ناموس ننګ
ګلونه د وصال ښکلو غنچو سره راځي
یادونه دې خوارهٔ د اوښلو سره راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

اختر راغے وعده ستا به وفا کيږي کله
توره شپه د ببلتانۀ به رڼا کيږي کله

سجدې زمونږ د الله پۀ در د عاجزۍ وي مدام
د کرونا پۀ حق به زمونږ دعا قبليږي کله

د شهيد شوندې چې د فخر نه مسکۍ وې ماته
خوب کښې ماته يو وارې پۀ خندا کيږي کله

د تن وينې وينې دې ګرانۍ ورونو زمونږ اوچې کړې
د کرونا پۀ حق به زمونږ دعا قبليږي کله

چې بې ګناه ئې محافظ تافيه سترے کړلو
کۀ کوم دستور پۀ عدالت به سزا کيږي کله

د زړۀ داغونه به د **سهل** هم پولۍ پولۍ شي
د رب دپاره به اشنا زړۀ دې نرميږي کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

خوږه مې دا پښتو ده مورنۍ ژبه
د وخت د سلیمان ع ده پخوانۍ ژبه

پت لري ښېګڼه او بې مثله توریالۍ
اغیار دې کړي ثابته ارینۀ ژبه

ټکي د اغیار پکښې پېوست نۀ کړي
ښکلې خپله وائي افغانۍ ژبه

زۀ **سهل** ادب له پرې لیکل کووم
د شعر و شاعرۍ ده لرغونۍ ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

●

را پۀ زړۀ مې شو د مرحوم سخي صېب سخاوت
دروغ نۀ دي واقعه ټوله مې ليدلې حقيقت

وړومبے سوال ئې د بخښنې د الله کړم
رب نصيب دې کړي د مرحوم شيخ مغفرت

يو سوالي ئې خوا له راغلو سوال دپاره
موجود خپله ورسره ووم هغه وخت

وې بزرګه څنګه ئې راغلے خبر ما کړه
رب راوستے زما خوا له کوم نوبت

عمر ستا د مزدورۍ نۀ دے ضعيف ئې
الله دې اوکړي پۀ تا فضل د رحمت

فقير ووې صاحبه ستا خبره قيمتي ده
پۀ ځان کښې نۀ وينم د کار څۀ قوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو زړۀ مې غواړي چې لور کشره وادۀ کړم
مشرۍ لونه مې وادۀ کړي پۀ شان او شوکت

د هغه ارمان چې يو نۀ سمه ګور ته
ورله پکار دے د الله مساعدت

دوه ځامن مې د وادۀ نه پس جدا شو
خبر نۀ ووم د هغوي د رزالت

پۀ پټ لاس شبخ فقير له روپۍ ورکړې
وې بيا راشه کۀ څۀ پاتې وي ضرورت

ضعيف واخستې روپۍ شو پۀ ژړا
غريب دواړه لاسه خدائے ته کړل اوچت

د ماضي مالداره ووم خدايه نن سوالي يم
بخښنه غواړم رټل سوالي به مې وۀ عادت

د ماضي امير فقير دې کړم غني خدايه
د صبب پۀ لاس دې پوره کړو زما غايت

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیخ صاحب ورته حیران حیران کاتهٔ کړل
مطمئن ډېر شو پهٔ خپل مصالحت

واړه کارونه خدایه ستا د حکمت دي
د ماضي مالدار دې کړو پهٔ نحوست

شېخ صاحب د خپلې وعدې لاج پوره کړو
دستي ادا ئې کړو د نور سامان قیمت

وې پهٔ خوشحالۍ دې زر خپله لور وادهٔ کړه
امېد ساته تل د الله د کرم رحمت

ښکلے هستۍ پهٔ دنیا شته دے **عبدالجباره**
الله قبول دې کړي د مرحوم صېب دا عنایت

(c) ketabton.com: The Digital Library

●

خوارۀ ترې لاړل د یارۍ چې ترانښۀ پاتې شول
خوږه جانانه د یارۍ مې څۀ خوارۀ پاتې شول

ته د دهوکو پۀ دام راګېر شوې د غماز د لاسه
د تګۍ دامونه ئې پۀ مرۍ درته پانښۀ پاتې شول

شومه حېران چې مخ دې واړوۀ د یارۍ نه زما
ډېر مې سوالونه د زارۍ تاته باڼۀ پاتې شول

زۀ **عبدالجبار** به مشغولا ورسره تل کؤمه
کۀ څۀ مې یادونه د یارۍ ماته زاړۀ پاتې شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ربه پۀ مونږه هغه ښکلے دوران بیا راولې
د خوږو زړونو پرهارونو درمان بیا راولې

د پښتو زړونو حال ښکاره وي ربه تاته زمونږ
ربه قبوله مې دعا کړې محبان بیا راولې

میاشت شروع کیږي د رمضان او بیا د اختر خوشحالي
ربه اختر له زمونږ برخورداران بیا راولې

کله خندا شي د انسان چې ضمیر وي خفه
ربه خفګان راځي بیل دوستان بیا راولې

زۀ د نبوي فضل الرحیم دعا کړم غني خدایه
ربه بندیوان د هندوستان بیا راولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

●

ډېر مې يادېږي وروره ستا ښکلے جمال
عرصه اوشوه ملاقات ونۀ شو پۀ دوېم کال

همېشه کوّم سوالونه پروردګار نه
چې کله شي به غمزده زړۀ مې خوشحال

د هغه ورځ به د اختر مې وي درور جانه
چې نصيب مې دوباره شي ستا وصال

يو غم خپل دوېم ستاسو راسره شو
خور شوے پۀ ما هم دے د غم جال

پۀ دې نن سبا منتظر ژوند مې تېرېږي
د راتلو دې کوّم سوالونه د ذوالجلال

نجومي زر کړه فالونه راله ګوره
چې به څۀ رنګه راخيژي زما فال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترکومې به بندي وي زما ورونه
صحیح راته وئېلے هم نهٔ شې تهٔ حال

زباني خرچه اورمه تل پهٔ غوږو
د جوارۍ غوندې بازي ده اخلي نال

نن یوه خبره اوشي او سبا بله
بېرونه ملکونه واوېلا کړي پرتګال

اثر هیڅ ونهٔ شي پهٔ هیڅ چا هم
مظلومان دې راګېر شوي پهٔ بد حال

بې درده د دردمند نه خبر نهٔ دي
چې مظلوم شو بې ګناه ورور پائمال

د ارماني دنیا نه زهٔ وروره مجبور یم
د لفظونو مې کړل ځکه ارسال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر لفظونه مې په زړهٔ کښې موجزن دي
ښهٔ به دا وي چې ئې نهٔ کړم زهٔ فعال

زهٔ د نیوي فضل رحیم وایمه غني خدایه
زر کړې واپس جنګي قېدیان کۀمه سوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ښکليه تا کۀ پۀ مسکي نظر کتلے نۀ وے
ما به زړګے پۀ يو نظر باندې بائيللے نۀ وے

کۀ ماته پته وے چې دا تکليف به ماته رسي
ستاسو د چم پۀ لار به زۀ هډو راغلے نۀ وے

کۀ د خوبانو ديدنونه پۀ اسانه کېدل
پتنګ به ځان پۀ سرو لمبو باندې سېزلے نۀ وے

کۀ تعصب نۀ وے د مينې تسلسل قائم وے
بيا به منصور د دار پۀ سر باندې ختلے نۀ وے

زۀ کۀ مئېن نۀ وے د خپل کلي پۀ ښکلو باندې
ما به د خپل کلي پۀ لارو کښې ژړلے نۀ وے

کۀ مينه نۀ وه محبت نۀ وۀ دا خيال به نۀ وۀ
عبدالجبار سهل به دا غزل ليکلے نۀ وے

غزل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اور د ېلتون زړهٔ ته بلېږي ستا پرې څهٔ
کهٔ پهٔ خپل سوي نهٔ پوهېږي ستا پرې څهٔ

د غم لمبې د ککرۍ نه دې تل تر تله اوځي
مئېن زړهٔ پرې نهٔ دردېږي ستا پرې څهٔ

يو مو الله يو مو رسول پهٔ صادقۍ ملګرو
پهٔ حق وئېلو مو ژبه نهٔ چلېږي ستا پرې څهٔ

چې تصور ئې د شاعر پهٔ مقصد نهٔ شي
کهٔ پهٔ وزن سجعه نهٔ برابرېږي ستا پرې څهٔ

پهٔ عذابونو کښې غټ عذاب بې اتفاقي وينمه
بې اتفاقي مو ورځ تر ورځ زياتېږي ستا پرې څهٔ

داغونه د ستم پراتهٔ پرې د ماضي
نور نوي پرې جوړېږي ستا پرې څهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ښکلے خو څۀ کړې د بې شمېرو دے مسکن مې زړۀ
پۀ زړۀ مې ټول ښکلي ځائيږي ستا پرې څۀ

خپل حُسن پرست زړۀ ته زۀ هم فکر وړے
دے د هر ښکلي زاربږي ستا پرې څۀ

يار او رقيب چې راشي بله کړي لمبه د اور
د ډېره تاوه بيا ورتېږي ستا پرې څۀ

ووې د ټوپےٖ اشرف پۀ زړۀ جوړ کړه غزل
ما وې زړۀ زما کۀ نن دردېږي ستا پرې څۀ

د حسن جوارےٖ کښې خالونه **عبدالجبار** ووليې
پۀ داؤ ببللو نۀ خفه کيږي ستا پرې څۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پۀ سخته دې پکار چې يو يار نۀ راځي
پۀ راحت دې شه کنار چې اغيار نۀ راځي

تل به زما ناسته د نمر مخو د **محفل** نه وه
څۀ اوکړم کم بخت زړۀ له قرار نۀ راځي

کۀ وايمه ښامار دے تک به درله درکړي
يقين دې پۀ وېنا مې پۀ صد بار نۀ راځي

ما **عبدالجبار** فضول خوشې ياری اوکړې
نن مرورمه لاسونه خو تېر وار نۀ راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ورک دې پرې د مینې تول خوندونه کړل
فاش چې دې رقیب ته مې رازونه کړل

لوټ شومه اعتبار کښې او چانه ګیله اوکړم
تا چې د غماز په سر ماسره جنګونه کړل

ما وې سر به صدقه کړمه ستا په یارانه کښې
تا خو راته جوړ ډېر فسادونه کړل

مینه مې خبرازه وه تباه کړه یار ناترسه
سهل په تباهۍ ئې خود ویرونه کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

هر ځائے د ممنوع درته تختۍ اولګېدې
مۀ کړه اورتېک پابندۍ اولګېدې

شوه جرمانه لس زره هغۀ هم درهمونو کښې
قېنچۍ نه کۀ شوې بچ پۀ کټارۍ اولګېدې

څۀ مې لوفر بولي او څوک وائي جوارګر دي
دهبې مې پۀ لمن د بدنامۍ اولګېدې

څۀ دې وۀ متاع پکښې **سهله** تنها پاتې شوې
نن ټولې دې يارۍ پۀ کپرئ اولګېدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

دور نن د پمپ هاوس دے د سیند غاړه ویرانه
شوق سره ځلمي نهر ته لامبلو له راځي

جوړه جوړه یاران وینم ، خوا کښې رقیبان وینم
کم بخته غمازیان ئې جنګولو له راځي

نادانان پرې نۀ پوهېږي ، هوښیارانو ته ئې علم
څۀ پکښې کم ظرفه زړۀ لوټلو له راځي

د وفا طلبګارانو ځان ترې کناره کړېځ
څۀ پکښې بې فېضه زړۀ ویشتلو له راځي

د حُسن جواري ده درانۀ داؤنه اړدي
سهل پکښې کم بخت داؤ بائېللو له راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

کوم دې پۀ يارو کښې يو نېکنام اوکتو
نوم چې دې زما پکښې بدنام اوکتو

د ياری پۀ هر يو باب پاڼې پاڼې مې دفتر
تش نوم مې د وفا برائے نام اوکتو

څله ځان له سر خوږے نۀ لري وفا
بې وفا مې پۀ دې باب هر ګلفام اوکتو

ښۀ مۀ کوه بد نشتے څۀ ښکلے متل دے دا
دا متل صحيح **سهل** پۀ هر ګام اوکتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

څهٔ مې ترې نه ویستي دي رفو مې هغه دم کړل
واړه مې د یو ستنې پهٔ سُم کړل

پوهه پهٔ سرور د بې خودۍ نهٔ شو
شېخ څکه مېخوار ټول پهٔ قسم کړل

د سیالۍ جذبې ئې دومره شوخي پېدا کړه
پهٔ سوچ اخته ئې د ادب ښکلي عالم کړل

دا بې وسه تمنا به زهٔ **سهل** کرم د پښو لاندې
ما **توراج** خو تل پهٔ یو وښنا نعم کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

راشئ اوګورئ ملګرو حال زما
خوردنوش نه مقرر شو فال زما

پۀ سهاره د ډانګورۍ مې دے رفتن
تيز ګام شو اغستل محال زما

پۀ هر حال شکر ګزار يم د الله نه
غفور ، رحيم ، کريم دے ذوالجلال زما

ښۀ پوهه زۀ سهل **عبدالجبار** شوم
متاع نۀ لري فضول اشغال زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

لکه مجنون چې به ژړا ځان د لیلیٰ کوڅه کښې
رېباره زۀ هغسې ژاړم د اشنا کوڅه کښې

کچکول مې غاړه کښې دے ځمه د اشنا کلي ته
خبر د وصال به ترې غواړم خامخا کوڅه کښې

خبر دے کۀ نن بې وفا یار پۀ کاڼو اوويشتمه
زۀ به ئې پۀ مینه مینه اوژاړمه بیا کوڅه کښې

رقیبه مۀ کوه پېغور د یار کوڅه کښې ژاړم
پېغور به وے کۀ مې ژړل د بل چا کوڅه کښې

ما د اشنا دیدن کاوو مطلب مِ هیڅ نۀ وۀ نور
رقیب چې راغے اودرېدمه وارخطا کوڅه کښې

عبدالجباره جوړې مجنون شوې معلومېږي داسې
چې د وفا اواز کوې د بې وفا کوڅه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

زړهٔ مې پهٔ دام د اُور بل څله نيسې
ماته رسئ د اجل څله نيسې

د محبت غنچه دې ماله راکړه
اشنا زاغونو ته ګل څله نيسې

زهٔ چې راغلے يمه ستا ديدن له
نوراني مخ ته منګُل څله نيسې

کِبر کوې زوال زر به مومې
لمبو ته شال د بخمل څله نيسې

پهٔ تا مئين ګنهګار خو نهٔ يم
پهٔ سرو لمبو مې ګوګل څله نيسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته د شعر لارې ښې معلومې
نوې کوڅې د غزل څله نيسې

سهل د شعر شپاړسم پاس کړے
ورته پرچه د اول څله نيسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رباعي

مور او پلار چې کړې پهٔ غم کښې مبتلا
خدایه مهٔ کړې نالائق اولاد د چا

د پخوانو اولاد زار د شرافته
والدین به ئې ساتل ښکلي رضا

بې یقینه اوسنے اولاد ثابت دے
اغستے نهٔ شي د مور او پلار دعا

نافرمانه اوسنے اولاد اکثر وینم
اوچتوي د والدېنو نه حیا

بې هنره کهٔ انپړها پخواني وو
پهٔ کردار د اوسنو نه وو بالا

پهٔ زور زبر ورپسې ما سهل کړل کتب
کړه عیان مې د حقیقت د هغه وېنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

یو مو الله یو مو رسول یو مو کتاب
پوهه پۀ دې دې شي هر هوښیار جناب

پۀ رنګ د خپلو وینو خېرازه کړي آبیات ښکلي
پۀ بهار د ملغلرو سېوا ئې کړې پۀ شتاب

د ذوق هره نغمه ئې د سپرلي غوندې ښکلا کړه
د ګل سره ئې کړي وصل پۀ مثل د مهتاب

پۀ ادب به ئې وي شیندلي د ګلونو جولۍ ډکې
محرومه ترې نه زۀ ووم اورېدو ته ئې یم بې تاب

سرپرست ئې دې تېر شوي دانشور د زمانې
دفن ئې شو اشعار یا پۀ پردو کښې د سحاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

همت ئې د ځوانانو صد افسوس په تن اسانو
تېرېږي ژوند ئې د خانانو د مزدور خيال لري بې حساب

تصور د هر شاعر د خپله خياله وي **عبدالجباره**
کۀ ستا خيالونه شي د چا د پښو تُراب

بعدالعشاء فارغُ النماز
16/10/2023

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

دوه لبانه دي خواږۀ پاستۀ د قند دي
دوه خدنړن دي رومان د ثمرقند دي

ګلونه د اورخاړي رانه ئې غوښتي دي پۀ مينه
پۀ مسکا ئې غوښتي دل پسند دي

د ګلاب پۀ غوځو ځوکو بلبلان هسې چغېږي
پۀ غوں غوں ترې بوراګان واړه سربلند دي

د ګلونو جولۍ ډکه کۀ سترګو سترګو کښې مسکے شي
زړونه وارخطا کړې کشش ئې هنر مند دي

پۀ کليمه د الاالله مسلمان يو دے پۀ صدا
زنګي او ايوبي دواړه تېر شوي جرات مند دي

د اُميد رڼا ئې ويني پۀ قدرت د پاک سبحان
د لا تقنطو صدا کښې مجاهد ډېر دلېر مند دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوندون پهٔ کشاکش کښې د توحيد رڼائي غواړي
پهٔ سر تړلي ئې کفنونه کس کړي کمربند دي

د اسرائيل پهٔ جارحيت مومن ولې دے خاموشه
امريکه ده پهٔ ظاهره او مغرب هم شرپسند دي

طريقې د پېغمبر غواړو جهاد له مو ملا ماته
اېټم بم لرو ملګرو عرب هم دولت مند دي

د مودي مرسته پهٔ ډاډه اسرائيل سره پهٔ ډاکه
مجاهد سرفراز کړې پاک وهابه ستا د فضل ارزومند دي

دعا غواړي مسلمين اللهم النصرنا المجاهدين
بريالے کړي فلسطين بد حاله حاجت مند دي

حماس ځهٔ تنها نهٔ دے حسب الله پرې غوټه کيږي
خو د الوتکو د حملو نه بې بسه او بې بند دي

څومره شوخ دي **عبدالجباره** د ژوند دا بهارونه
چپې ظالمې د خزان دې نن پهٔ ژوند دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

"لوئې اختر"

څۀ به کاندمه پۀ داسې لوئې اختر
وینم کور کښې پۀ ماتم هر یو بشر

مسرور خلق خوشحالي د لوئې اختر کړي
زما کور کښې لوئې واړۀ پۀ چغو سر

سوي زړۀ مې کړو ماتم لا د ملګرې
دپاسه راغلو د ورور غم مې لکه غر

متې مې پرې ملا مې ماته پۀ مرحوم ورور شوه
پۀ ورونو شپږو کښې بالا وو معتبر

تل به ئې غم لکه د نم پۀ سترګو زۀ ورووم
هر وخت به ئې یادومه په دعا شام و سحر

جنت الفردوس او مغفرت ئې د الله نه زۀ **سهل** غواړم
پۀ حکم لایزل ئې ددنیا اوکړو سفر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظم ”لاهور ښار“

ښکلے به نۀ وي د لاهور پۀ مثل ښار يو
حسين پۀ زنده دِلو دے شاندار يو

درنې هستۍ د لاهور زمکه کښې دفن دي
پکښې معروف دے د داتا ګنج دربار يو

عدلِ جهانګير پۀ تاريخ کښې رڼائي کړه
پۀ ټنګ حاضر شوے پۀ جرس د خِمار يو

پېښور پۀ خپل ځائے دے پُر رونقه
د خود کشو نه ئې بچ نۀ دے بازار يو

کراچۍ کۀ د رڼاګانو ښار يادېږي
وينئ د کِلنګ پکښې همېش ناتار يو

دا درې ښاره معروف دي پۀ خپل حسن
پښتونخوا کښې پېښور دے مزېدار يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خیال پټلۍ مې کړه بدله څم لاهور ته
پکښې یادیږي د مغلو باغِ شالیمار یو

باغِ جناح هم متصل دے د مال روډه سره
شاهي مسجد لري فن د زوړ ادوار یو

شاهي قلعه او مقبره جهانګیر د مغلو نخښې
پۀ پړقا وینئ شیش محل حسن دار یو

د قائېدینو غونډه پرې شوې پۀ نظریه پاکستان
اوچت ښکاریږي پکښې هغه ښکلے یادګار یو

انار کلۍ بازار معروف دے معروف تر نۀ
نوم ژوندے لري د مینې پۀ اعتبار یو

لا انتها ارزان طعامونه د فټ پاټ
ګزران ښۀ پکښې کوے شي ناچار یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهنشاه عالم وۀ تعمير کړے ياد پۀ شالمي
نوم ژوندے لري د شهنشاه هوښيار يو

د رېنجر زمکه شاړه وه بنجره
پکښې جوړ دے د ملت ښکلے مطار يو

هغه کيږي چې څۀ رب ته وي منظوره
بې د امر د الله نه کيږي کار يو

سرته به ئې نۀ کړي کۀ هر څومره دهوکه مار وي
چا ليدلے دے کامران دهوکه مار يو

اجر ډېر ورته ملاو شي پۀ بدل کښې
کۀ پوښتنې له څوک ورشي د بيمار يو

درې مې ورونه مقيم دي پۀ لاهور کښې
الله دې شفاع ورکړي مشر ورور مې دے بيمار يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کۀ د ښادۍ وښنا پۀ عزت ورته اوکاندي
رابه نشي بهانه به جوړه کړي پۀ تلوار يو

منتظر مې د راتلو ورځې پۀ ګوتو شمار که
ما **سهل** هم تنګوي دا انتظار يو

وائي لا تر اوسه **عبدالجبار** رانغے چې دا ولې
خبر خو نۀ دي چې نوکري ښۀ نۀ وي د پلار يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاربیتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاربيته

راغلے وې دعا له   کهٔ بلې مدعا له
چې پتې دې چپلې کړې جماعت نه اے مختوره
څوک ئې د الله چوره

څوک ئې د الله غله   شه پهٔ تن دې لمبه بله
راغلے وې فاتحې له او دې کړله بې ايماني
لوئې غل ئې لاثاني

لوئې غل ئې بې حسابه   خانه دې شه خرابه
لړه يره اوکړه د دوزخ د هغې اوره
څوک ئې د الله چوره

غلا کهٔ ستا عادت دے   دا دې بد علت دے
صابر پهٔ خپل نصيب شه وي رزق اسماني
لوئې غل ئې لاثاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

توبه ګار شه مسلمانه ښکلې میاشت ده د رمضانه
عیان اسیر او مزدور ته مې چاربېته شوه في الفوره
څوک ئې د الله چوره

د مرحوم به غواړو مغفرت اوس په دا ساعت
مرګے شته د ے فرید جانه اخر به شو فاني
لوئې غل ئې لاثاني

د ذرې حساب به کیږي پۀ محشر به تپوس کیږي
شاکر اوسه عبدالجباره کۀ الله درکوي سپوره
څوک ئې د الله چوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاربېته

بېړۍ وه د کهبل

بېړۍ وه د کهبل شوه ډوبه پهٔ درياب

ژاړي ټول عالم ورپسې کوي ارمان

هغهٔ ورځ وه د طوفان

بېړۍ وه پورې غاړه وه خلقو ته اولاړه

خبر د ځانه نهٔ وهٔ ورته ولاړ وهٔ عزرائيل

بېړئ وه د کهبل

بېړۍ ئې بوتله پهٔ بره د دوئ وه مقرره

چرې ته ئې نزدې کړه پهٔ شتاب

شوه ډوبه پهٔ درياب

چرې ته ئې کړه وړاندې ټول ډوب شول لاندې

ناڅاپه يکدم شور شو چم پهٔ چم

ورپسې ژاړي ټول عالم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ نیمې شلې تنه   مړۀ ډېر دي ژوندي کم
ساتېدونکے پاک الله دے د ګندف بچ شو زرین خان
د هغه ورځ وه د طوفان

جمروز شاه وۀ ښکلے ځوان   صفت ئې پۀ جهان
سړے سخاوتي وۀ د کیا کلي بې حساب
شوه ډوبه پۀ دریاب

دا میاشت د پشکال   سهل وائي دا في الحال
تاریخ کښې خطا کېږم دغه ورځ وه د منګل
بېړۍ وه د کهبل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاربیته

سنټر کښې د ریکروټ ژوند څرنګه تیرېږي
ملګرو نن رائځ چې پۀ دې حال مو خبردار کړم
کارونه درته شمار کړم

بهرتي چې شي کوم ځوان پۀ موج کښې وي روان
چې ځه نن مې اومونتو د خپل طبعې روزګار
چې شم به رسالدار

شم زر به پۀ عزت تېرېږ بنۀ راکړو قدرت
ډرائیور چې رانه جوړ شي بیا زما د څۀ کمے دے
خوړلے ئې سمے دے

ډرائیور پرېږده پۀ قلاره چې کلرک بهرتي شي یاره
پۀ زړۀ کښې ئې دا خیال وي چې تعلیم مې دے اوچت
تل اوسم پۀ عزت

(c) ketabton.com: The Digital Library

تل اوسم پۀ شادان   کورس نۀ وي دومره ګران
کارونه دفتري خو ازده کړي ما پخوا دي
پس تلل صرف زما دي

بس صرف رسېدل دي   کرسۍ کښې کښېناستل دي
کۀ خېر وي زر به شمه مالک ګوتې د دفتر
روان وي ناخبر

روان وي نابلده   آخر لاړ شي تر حده
راشن کښې مېلاوېږي کله کله ورته فروټ
سنټر کښې د ریکروټ

راشن څۀ هر یو څیز   ورکیږي پۀ تمیز
څو ورځې ارام وي بیا د ټرېننګ ځائے له ورشي
خبر نۀ وي خبر شي

خبر نۀ وي چې راشي   سنټر ورته بلا شي
وي نوے نۀ پوهیږي چې ځما کوم پلاټون دے
او یا څۀ دلته قانون دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا څۀ دي څۀ به کیږي هر څۀ بهو ورته ښکاریږي
د ټریننګ زندګي ئې شروع کامران ضرور شي
سنټرورته تنور شي

سنټر شي ورته اور څۀ به وایمه زۀ نور
دومره نۀ اوزګاریږي چې چاسره اوکړي خبرې
پۀ زړۀ دننه چغې

د پریډ نه اضافي بوټ پالش ئې وي دستي
اوشي پرې سیټهي چې لې آوټ له شئ تیار
انسپکشن له دصوبېدار

راغلے صوبېدار دے خبر د عبدالجبار دے
هره شپه چې څښي د چرسو سیګرټ
سنټر کښې د ریکروټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاربیته

د پېرۍ عمر مې تېرېږي باوقاره
خو مرضونه مې بې سيار شي
يار خبر کړه د احواله مې ريباره
يو ورځ به په ما خاورې انبار شي

د هجر شپې مې زحمتونه وائي
او تورې شپې ماښامونه وائي
جنازه اوځي به مې تر مينې لاره
چشم خاص به اشکبار شي
يار خبر کړه د احواله مې ريباره
يوه ورځ به په ما خاورې انبار شي

تل ارمانونه د زوړ وخت کومه
د خلوص ډک د محبت کومه
د الله ډېر يم شکر ګزاره
په ما احسان د پروردګار شي
يار خبر کړه د احواله مې ربباره
يو ورځ به په ما خاورې انبار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاته شکوې شکایتونه کولے نۀ شم
پردې خپلې فاش کولے نۀ شم
صبر دې لویه خزانه کړه عبدالجباره
الله ستا به پرده دار شي
یار خبر مې د احواله کړه ربباره
یوه ورځ به پۀ ما خاورې انبار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاربېته

اعتبار به څۀ اوکړم پۀ چا باندې
ظلم خو ډېر اوشو پۀ ما باندې
پۀ نۀ خبره ئې تکرار وکړو
يار پۀ ياری کښې داسې کار وکړو

زۀ ئې پۀ شان د لېونو کړم
ډېر ئې مجبور پۀ اسوېلوکړم
اوښکې څڅومه پۀ ژړا باندې
ظلم خو ډېر اوشو پۀ ما باندې

ماته ښکاره پکښې تيارې شوې
نن ئې بدلې ارادې شوې
پۀ ما ئې تک لکه د مار وکړو
يار پۀ ياری کښې داسې کار وکړو

ختمه چې يار ښکلې ياري کړه
پۀ هر اعيار ئې خوشحالي کړه
ټکرې خورمه ورځې رڼا باندې
ظلم خو ډېر اوشو پۀ ما باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسویلي ستړي مې د خلې لاړل
ښکلي یاران مې د ډېرې لاړل
الله خبر چې چا راته ازار وکړو
یار په یارۍ کښې داسې کار وکړو

دغم چاپو کښې شومه ګېر
په حال خبر شو د تورډهېر
ډیوټې کوي ساحل صرا باندې
ظلم خو ډېر اوشو په ما باندې

خبر د حاله مې یاران شو
ګوته په خله واړه حېران شو
تلقین د صبر ئې بسیار وکړو
یار په یارۍ کښې داسې کار وکړو

زما پرې ډېر وۀ اعتماد
د بونېر مسین مې شو رایاد
دروغ ئې ووې سترګو رڼا باندې
ظلم خو ډېر اوشو په ما باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما **عبدالجبار** ته ئې بهانې جوړې کړې
ورسره ئې نورې افسانې جوړې کړې
څۀ بې شانه ئې کردار وکړو
یار پۀ یارۍ کښې داسې کار وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظم

په نامه د اجتماعيت ، انفراديت پکښې ځلېږي
وګورئ ملګرو خصوصيت پکښې ځلېږي
ادب لري معراج چې ليکوال وي باشعوره
دا مې تجزيه ده اخوت پکښې ځلېږي
چې ژوندی په ښکلو زړونو جذبه وي د ادب
بيا شان د ادب نۀ دے چې نفرت پکښې ځلېږي
د ذوق يوې نغمې مې د سپرلي غوندې آغاز کړو
د تېر شوي شاعرانو وضاحت پکښې ځلېږي
د زړۀ په وينو ايښي امانت او اخون ئې بنيادونه
احمدګل وې دا به ګل شي رنګت پکښې ځلېږي
احمد دين طالب ئې مهمان د بوقو د ابراهيم خان
اوربده د کال ئې مېلمستيا وه موانست پکښې ځلېږي
د قدرت په ګل رنګينو مئين ناصح عبدالمجيد وۀ
د آبياتو په نګينو نصيحت پکښې ځلېږي
د آبياتو ښکلو غنچو به ئې د حسن رنائي کړه
د ټوپۍ جمشېد مصروف وۀ نُدرت پکښې ځلېږي
خوب ژنې ارادې به وينبولې د مېنې باران
دانشور وۀ رحيم شاه طالب موافقت پکښې ځلېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

براسونه ارمانونه د مینې تائب اُوري پۀ زړۀ
د آبیاتو ئې وۀ خوندونه لطافت پکښې ځلېږي
د تقویٰ پۀ ښکلې سجده ګل احمد مینوي فناه شو
رب ئې نصیب هغه سجده کړه مغفرت پکښې ځلېږي
اوچت معراج د شاعرۍ د بزمي مې نۀ هېرېږي
پۀ بابت د افسانې ذهانت پکښې ځلېږي
د جرس غوندې شور ناکه حیدرزمان به کړه چاربېته
د سوزه ډکه به دردناکه هېبت پکښې ځلېږي
اشعارو سره لوبې به د روان وې پۀ ویښه خواب
پۀ تړون ئې د چاربېتې وانست پکښې ځلېږي
ژوندے ادب کښې لرې نوم منصور دې الله اوبخښې
زیبا ئې دي اشعار لطافت پکښې ځلېږي
باسي وۀ د خدوخېلو یادېدو پۀ حاجي خېلو
پۀ محمد الله د غورغشتو غېر سکونت پکښې ځلېږي
پۀ سفر تلے د بل جهان د مینې ملک حېدر زمان
هر نفس لره دے فان رحلت پکښې ځلېږي
د چاربېتو وۀ ماهر د ګندف مرحوم شاکر
ډېر فصیح زبان وۀ معاشرت پکښې ځلېږي
پۀ ماضي به اؤربدے شوے د رحم دین سالار چاربېتې
لټون ورپسې اوکړئ صداقت پکښې ځلېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چاربېتو ذهين استاذ اعوان سردار بهادر وۀ
معروف ډېر وۀ پۀ هېواد شهرت پکښې ځلېږي
اشتياق خاکسار خطائي نۀ کړه ښۀ خبر دے د صيغې نه
دستار لري پۀ راس علميت پکښې ځلېږي
د ګندف اشرف علي مومن درس ورکوي ښۀ مطمئن
مدرس او معلم دے صلاحيت پکښې ځلېږي
د غمونو قرار ئې دے شبنم کړې خپلې اوښکې
د کلابټ عاجز معموم دے استقامت پکښې ځلېږي
د بخشالي دے د مردان اوسېږي پۀ اُتمان
قاسم دے نر ځوان محنت پکښې ځلېږي
د قام قلم ډېر معتبر مانېروال جهان بهادر
معززه هم زړور عزت پکښې ځلېږي
لائق دے د ورورۍ يار بهادر د مانېرۍ
چاربېتې ليکي د هوښيارۍ وضاحت پکښې ځلېږي
اشعار لري لکه ګوهر مانېروال تصور
عظيم دے دانشور لياقت پکښې ځلېږي
صفا د زړۀ لري زُجاج هم نرم مزاج
اشعار وائي تل معراج ملائمت پکښې ځلېږي
وه مينه کښې ئې لذت د شبر شاه روغاني پۀ محبت
رب دې نصيب کړي مغفرت عاقبت پکښې ځلېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پۀ کلي نيمه تکړه ښۀ ده نظامه د پردېس نه
نه د هجر انديښنې شي او نۀ زحمت پکښې ځلېږي
سهېل اوسي کۀ متکښو کښې خو دے مې د زړۀ پۀ دريڅوکښې
ليدے خو نۀ شي پۀ مودو کښې رفاقت پکښې ځليږي
عبدالله مولوي هم کنډېوال دے ډېر ښکلے وال دے
معلم ډېر د کمال دے خدمت پکښې ځليږي
بسمل سبزعلي خان او د پاېښې حېدر زمان
رب لري دي دوئ پۀ امان ثقافت پکښې ځليږي
تۀ تلو تلو ښکلي سپرلي نغارې کړي د ګرمۍ
د موسم پۀ تغير کښې د الله حکمت پکښې ځليږي
د حسرت يوه غنچه د **سهل** شوه د خاورو لاندې
چاپېره خاموشي ده حسرت پکښې ځليږي
شاعران ډېر شته عبدالجباره پۀ ډېرو انبار ده خاوره
ليکلے ئې نۀ شي نمبر واره د مُخ قوت پکښې ځليږي
تمنا لري طوفان چې کتاب دې زمونږ خور شي
ښکلې ارزو د ميربشر ده منفعت پکښې ځليږي
حال د لېونتوب د ګل محمد جانان ته مۀ وايئ
في الحال د سړيتوب د سُر ذوقيت پکښې ځليږي
ګاونډي مې نۀ دے هېر کم عمره دے زبېر
اشعار وائي دلبر جرات پکښې ځليږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غنچې ښکلې د ګلو د بابر جدون پۀ لاس
دي ئې چاله شوکولي نکهت پکښې ځليږي
کړي د ګلو غنچې جوړې شعر پرې مزين کړي
ذهانت د عيسیٰ خان دے ذهانت پکښي ځليږي
مړاوے شوق د شاعرۍ پۀ سبب د مجبورۍ
د ګندف جمشېد خياط دے مصروفيت پکښې ځليږي
چې څۀ اوليکم د زړۀ نه ناياب ته ئې تخفه کړم
وخت قيمتي ماله ډېر راکړي ښۀ خصلت پکښې ځليږي
د ګندف شاعر رېحان خوي لري عجب فنان
رب لري دې پۀ امان شرافت پکښې ځليږي
طاهره واخله دُر ښه پۀ لاس نغمه پۀ ترنم کړه
زړګے مې خوش خرم کړه بريت پکښې ځليږي
د ادب ښکلے ګلفام نياز امين د کټګرام
لائق د احترام خوږلت پکښې ځليږي
دا څوک راځي پۀ لاره باده روشه پۀ قلاره
فضل قيوم دے پۀ تلواره مشئت پکښې ځليږي
چې خبر نۀ دے د قاعدې د واحد د تثنيې
جاهل څله تنقيد کاندي جهالت پکښې ځليږي
قائم دائم الله دے ذي روح کله دائم
دائم دې فکر اوکړي وحدانيت پکښې ځليږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري د ادب غنچې غوټۍ تاج بهادر تاج د ذروبۍ
پۀ کردار د عقلمندۍ قدامت پکښې ځلېږي
د مرغز مراد او پذير تقرير ئې وي بې نظير
پۀ اظهار ئې وي جاګير مماثلت پکښې ځلېږي
سپين ريشه مير قادر شاه بې درد کۀ نادر شاه
خبر پرې رېحان شاه ډېر وخت پکښې ځلېږي
تپوس ئې نۀ کوي جانان د مشفق مير اعظم خان
رښتيا وايم پۀ ايمان فرقت پکښې ځلېږي
شبر او مسين ورک شول تر مطلبه ئې وه ياري
آصف دې الله تل لري مروت پکښې ځلېږي
پنده خېلې مې دې ملګرې ليکوال هم دې ښکلې
کۀ مدعو کومه ئې ادب ته معذرت پکښې ځلېږي
د خلوص لېندې پۀ لاس د ادب غشي پۀ ګروت
غونډه دا د قام قلم سپين نيت پکښې ځلېږي
کۀ د هر ځائې شاعران دي ټول فصيح زبان دي
صوابۍ او کۀ مردان دې موزونيت پکښې ځلېږي
مړاوي هوسونه مې تازه شي چې اورمه طوراج
هر شعر ئې ډک د کمال وي مسرت پکښې ځلېږي
د آهدې کلي ابراهيم ډار نېک بخته ايماندار
مدد کاندې د ناچار خدمت پکښې ځلېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله لري دې عمر دراز د اسماعیل خیل محمد نواز
کومه پرې زۀ ناز وکالت پکښې ځلیږي
دې هر چاته پۀ ګوته د فقیر خطاب ملنګ اشعار
شو خاورې خبر زمان خاورې مدت پکښې ځلیږي
د وطن پۀ خړه خاوره شیدائي مزدور یادیږي
شوه د عمر تقاضه ئې انقلابیت پکښې ځلیږي
ملګري ئې تعریف کاندي اوربدلے اسیر مانۀ دے
دومره ترې خبر یم صحافت پکښې ځلیږي
د پنج منه تر صوابۍ علي درومي پۀ تعدۍ
فائز پۀ پابندۍ سیاست پکښې ځلیږي
د مرحوم باران پِسر زاهد زمان سحر
اشعار لري ګوهر صدارت پکښې ځلیږي
ارادې د پښتون د هرې ونې د احمد پۀ زړۀ
درمندې افسانې د سوز کیفیت پکښې ځلیږي
لیفټیننټ فضل الرحیم اشعار ئې وو نعیم
اعلیٰ ئې وۀ تعلیم قابلیت پکښې ځلیږي
د ټوپۍ عظیم الله وه د چاربېتو ئې ښکلا
بخښنه غواړمه ئې د الله تعزیت پکښې ځلیږي
چاربېتې ئې شته دے زنځیرۍ زرین مجبور د مینۍ
پۀ کردار د شاعرۍ فضیلت پکښې ځلیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فضل احمد نۀ وۀ دلګير پۀ زروبۍ ئې وۀ جاګير
د بې وفا ياره ظهير خلوت پکښې ځليږي
د کلابټ حضرت جمال اشعار ئې وو ډېر د کمال
هر ذي روح لره زوال اخرت پکښې ځليږي
معروف ډېر وۀ بختور د اسماعيله جوشي علي حيدر
پۀ سبب د يو پسر هجرت پکښې ځليږي
محب الله وۀ د جهنډې ځلے ئې جوړ پۀ هډېرې
وې چاربېتې د مزې نزاکت پکښې ځليږي
اشعار ئې وو د ځيګر خون د مېنې شاعر اجون
د هر چا به وۀ ممنون حقيقت پکښې ځليږي
پۀ ګدون لري تربګنۍ نور محمد وۀ د چنۍ
وې چاربېتې مړنۍ وجاهت پکښې ځليږي
ويښه وي غوټۍ د آبياتو پۀ چپه کښې
د زېدې تصور ته پسخيږي د ترنم ذوقيت پکښې ځليږي
رب لري دې پۀ امان د کنډې خليل الرحمان
د ليدو ئې لرم ارمان کۀ ډېر وخت پکښې ځليږي
کړه اخر له تخفه جوړه دنيا ميراته ده عبدالجباره
منفي شان ددې دنيا دے رحلت پکښې ځليږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاربيته

"سوال جواب"

ټيک مې د زړو مزېدار دے
پۀ غونډه زنه مې خالونه
اوس مې د نوې زوانۍ وار دے
اړدم پۀ زلفو کښې ګلونه

ټيک مې د زړو پۀ اوربل کښې کنه
شعلې ترې خېژي پۀ هر لور
غمې مې ايښې پۀ چارګل کښې کنه
پۀ سپينه پوزه مې کړل سور
ثاني مې نشته پۀ کابل کښې کنه
صفت مې کيږي لور پۀ لور
سپينه سينه مې بالا حصار دے
راځه کوه پکښې سېلونه
ټيک مې د زړو مزېدار دے
پۀ غونډه زنه مې خالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپینه سینه دې لکه تخت صنمې
زۀ پرې کومه عدالت
لیچې کړه راته بالخت صنمې
چې پرې اودۀ شم دا ساعت
عمر شو تېر راباندې سخت صنمې
راحت مې نۀ وۀ پۀ قسمت
ورک مې په تاپسې قرار دے
وایم د زړۀ درته حالونه
تېک مې د زړو مزېدار دے
پۀ غونډه زنه مې خالونه

ورک دې پۀ ما پسې ارام شو نن
اوس مې سر کېده پۀ مړوند
شیرین بدن مې در انعام شو نن
بشر مې تا کړلو څرګند
خبر مې کور او کلے قام شو نن
یارې کوې دغسې خوند
ستا محبت کښې مې روزګار دے
چې مونږ دې کړم پۀ وصالونه
تېک مې د زړو مزېدار دے
پۀ غونډه زنه مې خالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا محبت باندې خبر شومه زۀ
درنه خوشحاله شوم نادرې
منم پۀ حقه دې دلبر شومه زۀ
راته کوه د نیاز خبرې
مورږ دې پۀ سرو شونډو شکر شومه زۀ
کوکې دې دواړه ملغلرې
الله درکړے سپین رخسار دے
سترګې دې سرې لکه لعلونه
ټیک مې د زړو مزېدار دے
پۀ غونډه زنه مې خالونه

الله راکړے سپین بشر هلکه
ثانې مې نشته خاپېرو کښې
سور مې پېزوان لکه د نمر هلکه
بدن مې ګل پۀ منجرو کښې
ورکؤم ستا پۀ مینه سر هلکه
خوښه یم تاسره مېرو کښې
د عاشقانو دغه کار دے
چې شوګیرې کړي پۀ کلونه
ټیک مې د زړو مزېدار دے
پۀ غونډه زنه مې خالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عاشقانو ژوندانۀ کښې یاره
چرته به رانشي اسانه
طاعون مې ګېر شو لړمانۀ کښې یاره
اوس به رغېږمه پۀ ګرانه
مخ به مې پټ پۀ کفانه کښې یاره
سفر کؤم به د دنیا نه
عبدالجبار ترې پۀ رفتار دے
ډېر به ئې پاتې شي مثالونه
ټیک مې د زړو مزېدار دے
پۀ غونډه زنه مې خالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پۀ تا مئین ګنهګار خو نۀ یم
پۀ سرو لمبو مې ګوګل ثله نیسې

عبدالجبار سهل



توراج خاکسار

دَ تسلی اؤ مصلحت جانان مي خاؤرو له لاړ
خالقه چا ته دَ خپل ستړی ژوند قیصه اوکړمه

خپرؤونکي: سید کمپوزنګ سنټر ټوپی

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library